

د اسد د ٢٤مې په مناسبت د المرصاد
فرار مغربیان
المرصاد خپرندویه اداره

## د کتاب ځانګړتیاوې

د کتاب نوم: د اسد ۲۴مې په مناسبت د
المرصاد فکري ارمغان
لیکوالان: بېلابېل
موضوع: د ازادۍ ارزښت، معاصر خوارج، روان
سیاسي وضعیت او دې ته ورته نور موضوعات
ژبه: پښتو
کڼه: پنځمه
وړاندې کوونکی: المرصاد خپرندویه اداره

ALMERSAAD

# فکري ارمغان

په معاصره نړۍ، په ځانګړې توګه په اسلامي هېوادونو کې د روانو سیاسي حالاتو، د مسلمانانو په وړاندې د نړیوالو کفري او صلیبي قونونو له لوري د پلان شویو شومو پلانونو، احتمالي پېښو، ننګونو، رقابتونو، معاصرو فتنو، داعشي خوارجو او همدارازد نورو نویو باطلو پدېدو، افکارو او خوځښتونو په اړه؛

د بېلابېلو اسلامپالو لیکوالانو، جیدو دیني علماوو، محللینو او شنونکو د مختلفو دیني، تاریخي او سیاسي څېړنو، تحقیقاتو، مقالو او آثارو

## ټولګه

پنځمه کڼه

# لیکلړ


١ د المرصاد مهالنۍ تبصره: پاکستان کې شته ناامنۍ، د پوځي کړیو د ناسمو سیاستونو پایله ده (١)

٢ د المرصاد اوونیز تحلیل: رواني او تبلیغاتي جګړه؛ د پاکستان او داعش کډه استفاده (٣)

٣ لومړی فصل: د امت نومیالي (٩)

٤ د شهید اختر محمد منصور تقبله الله ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه (١٠)

٥ د شهید مجیب الرحمن انصاري تقبله الله ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه (١٥)

٦ د شهید خلیل الرحمن حقاني تقبله الله ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه (٢١)

٧ دوهم فصل: د اسد ٢٤مه (٢٩)

٨ ازادي او استقلال د اسلام له نظره (٣٠)

٩ په افغانستان کې د صلیبي تاړاك اشر او وحشتونه (٣٤)

١٠ د طالبانو اسلامي تحریك له پیل څخه تر ١٤٠٠ کال د زمري ٢٤مې پورې (٤٨)

١١ د فتحو مهالویش (٥٢)

١٢ د جمهوریت ماتې او د اسلامي امارت بیاځلي حاکمیت (٥٣)

١٣ د اسلامي امارت پنځه کلنې لاسته راوړنې (٥٥)

١٤ دریيم فصل: معاصر خوارج (٦٢)

١٥ له فتحې وروسته؛ د داعش په وړاندې د اسلامي امارت بریالۍ مبارزه (٦٣)

١٦ خوارج ولې د کفارو پر ځای د مسلمانانو وژنې ته ترجیح ورکوي؟ (٦٥)

١٧ په صومالیه کې د داعش ډلې ظهور او شالید ! (٦٩)

١٨ د هجرت سپېڅلتیا او د داعش ناوړه استفاده ! (٧١)

۱۹ ځلورم فصل: ديني او جهادي ليکنې (۷۳)
۲۰ غرناطه پرون، غزه نن؛ د اسلام د وروستي مورچل د بقا جګړه! (۷۴)
۲۱ د عزالدين حداد د وينو پور او د اسلامي نړۍ مسؤليت (۷۸)
۲۲ د جهل او استکبار يووالی؛ له تهرانه ترکونړه د "علم وژنې" ګډه ستراتيژي (۸۰)
۲۳ د پاکستان غيور ولس د پوځي طاغوتي رژيم په اسارت کې! (۸۲)
۲۴ د بې ګناه خلکو وژل د اسلام له نظره (۸۵)
۲۵ پنځم فصل: سياسي ليکنې (۹۰)
۲۶ د مکې دفاعي تړون؛ ستراتېژيك حقيقت، پر کاغذ ولاړ بازدار ځواك او د سيمې بدلېدونکي مهرې (۹۱)
۲۷ د پاکستاني پوځ ستراتيژيك مصلحت او د تاريخ خونړۍ ځپرکې؛ له تور سپټمبر څخه تر معاصرې دورې پورې (۹۵)
۲۸ هغه پوځ چې په اصل کې يې له مسلمان سره دښمني ده! (۹۹)
۲۹ نننې پاځونونه د تېرو اوو لسيزو د جبرونو حساب او کتاب دی! (۱۰۴)
۳۰ د اربکيانو په وسيله د قومي شخړو په پارولو کې د پاکستان رول (۱۰۹)
۳۱ د داعش لخوا د پاکستان د ترهګرۍ ضد څانګې (CTD) په وړاندې سرسخت قاضي عبدالحکيم کاکړ وژل کېدل؛ تر شا يې څه دي؟ (۱۱۲)
۳۲ سي آی ای، ولې افغانستان کې ناکامه شوه؟ د الجزيرې ځانګړی راپور (۱۱۷)
۳۳ شپږم فصل: ترانې (۱۲۵)
۳۴ دا اسلامي برم ساتل غواړي زلمو (۱۲۶)
۳۵ له سردرو د قرطبې مسلمه (۱۲۷)

### د المرصاد مهالنۍ تبصره

# پاکستان کې شته ناامني، د پوځي کړيو د ناسمو سیاستونو پایله ده !

په تیرو دوو لسیزو کې، پاکستان کې رواني حملې او ناامنۍ د یوه اوږد او پیچلي سیاسي کړکیچ او ناوړه سیاستونو پایله ده، چې ریښې یې د جنرال پرویز مشرف د واکمنۍ دورې ته ورګرځي. مشرف د افغانستان پر وړاندې د متحده ایالاتو د اشغال ملاتړ وکړ، چې له امله یې د پاکستان په قبایلي سیمو کې ډېر زیات ظلمونه او بشري حقونو نقضونه رامنځته شول. په دې سیمو کې د ډرون حملو، بمباریو او پوځي عملیاتو له امله زرګونه قبایلي ځوانان ورک شول، شهیدان شول، خلک په زوره له خپلو کورونو، کلیو او وطن څخه کډوال شول.

پاکستان د متحده ایالاتو د خوښۍ لپاره د خپلې سیمې ثبات قرباني کړ، چې دې سیاستونو نه یوازې دا چې د سیمې ثبات ته زیان ورساوه، بلکې پاکستان له متحده ایالاتو څخه د ډالرو په بدل کې د خپلې سیمې د ناامنۍ بنسټ کېښود. دا ناوړه سیاستونه اوس مهال په پاکستان کې د روانو ناامنیو اصلي لامل ګڼل کېږي. د پاکستان د داخلي نا امنۍ اوسنۍ وضعیت په ۲۰۲۵-۲۰۲٦ کې په بې ساري ډول زیات شوی چې په خیبر پښتونخوا او بلوچستان کې د تحریک طالبان پاکستان او د بلوڅ بیلتونپالو وروستي بریدونه یې روښانه بیلګه ده، چې د پاکستان امنیتي ځواکونو ته یې په لوړه کچه درانه تلفات اوښتي دي.

بلخوا، که د پاکستان پوځي رژیم ادعا کوي چې د دوی په عملیاتو کې لسګونه وسله وال وژل شوي، خو دا بریدونه د داخلي ضعفونو او سیاسي کړکیچونو ښکارندويي کوي. د پاکستان پوځي کړۍ، چې د دې ناامنیو دوام غواړي، د افغانستان – پاکستان ترمنځ د ستونزو حل لپاره معقولې او منطقي لارې نه غوره کوي. پر ځای یې، دوی خپل داخلي مشکلات – لکه د سیاسي ګوندونو سره شخړې، د واک قبضه کول او د ځینو سیاسي مشرانو بندي کول، اقتصادي بحرانونه او د نا امنیو دوام ته لمن وهل پټوي او د بهرنیو لاملونو په لټه کې دي. ځکه پاکستاني پوځ د مزاکراتو په ځای د جنګ او فشار سیاست غوره کړی.

په مقابل کې، اسلامي امارت (د افغانستان - پاکستان اړیکو او د مذاکراتو د وضعیت په لړ کې) تل هڅه کړې چې د ستونزو حل د سوله ییزو مذاکراتو

له لارې ترسره شي. د فرضي کرښې (ډیورنډ کرښې) په اوږدو کې، اسلامي امارت هیڅ ډول پیښه نه ده رامنځته کړې او ډېر اقدامات یې کړي دي ترڅو سیمه خوندي وساتي. لکه: د علماوو شورا راغوښتل چې هدف ترې د علماوو له لارې د ستونزو حل لپاره هڅې وې، همدا راز د قبایلي مهاجرینو د کنټرول لپاره پر هغوي سخت محدودیتونه وضع کول، لکه د فرضي کرښې څخه لرې کول او د دوی د فعالیتونو څارنه.
تر ټولو مهمه دا چې ددې ستونزو د ابدي حل لارې چارې په پار اسلامي امارت تل د سوله ییز حل لپاره چمتو و، خو پاکستاني لوري دا هڅې نادیده نیولې دي. په تیرو وختونو کې، کله چې پاکستاني لوري بریدونه کړي، اسلامي امارت یو ځل انتقام اخیستی، خو ډېر واره یې د مذاکراتو په خاطر له انتقامه ډډه کړې ده. د ۲۰۲۵ د اکتوبر په میاشت کې د پاکستاني بریدونو وروسته، د قطر، ترکیې او سعودي په منځګړیتوب سره یو لنډمهاله اوربند راغی چې تر ډېره یې دوام کړی، خو خپل منځي مذاکرات د پاکستاني لوري د سر زورۍ له امله په استانبول او دوحه کې ناکامه شول.
اصلي ستونزه دا ده چې پاکستان غواړي اسلامي امارت باید ټي ټي پي په بشپړه توګه له خپلې خاورې وباسي، حال دا چې اسلامي امارت هیڅ دا نه مني چې دوی ټي ټي پي ته پناه ورکړې ده او په کراتو کراتو یې دا خبره په دولتي کچه رسنیزه کړې، چې اسلامي امارت هیڅ چاته هم دا اجازه نه ورکوي چې د افغانستان خاوره دې د چا پر ضد وکاروي. اوس چې پاکستان بیا په افغانستان کې بې ګناه ملکیان په نښه کړل؛ نو د افغانستان صبر او حوصله نوره د پای ته رسېدو په حال کې ده. دا خبره په تاریخي لحاظ ثابته ده چې افغانانو هیڅکله چا ته انتقام نه دی پرېښی، او که دا وضعیت دوام وکړي، نو پاکستاني پوځي کړۍ کیدای شي د سختې څپېړې سره مخ شي.
د دې ستونزو د تل پاتې حل لپاره پاکستان باید خپل داخلي مشکلات حل کړي او د مذاکراتو مېز ته راشي. د دواړو هېوادونو تر منځ د سوله ییزو اړیکو جوړول نه یوازې دا چې د سیمې ثبات تضمینوي، بلکې اقتصادي پرمختګ او د ولس هوساینې ته هم لار هواروي. اسلامي امارت تل د کاونډیتوب او سولې په موخه د مذاکراتو له لارې د ستونزو حل غوښتی، چې دا د یوې مسؤلانه چلند ښکارندویي کوي؛ خو دوامداره بریدونه او تورونه دا هڅې کمزورې کوي. پاکستان باید دا فرصت له لاسه ورنه کړي او د جنګ پر ځای سوله غوره کړي، ځکه چې جنګ یوازې د شریرو کړیو ګټه ده. دا وضعیت ښیي چې ناوړه تاریخي سیاستونه څنګه اوسني نسلونه اغېزمنوي. د دواړو هېوادونو مشران باید د ولس ګټو ته لومړیتوب ورکړي او د سوله ییز حل لپاره ګامونه پورته کړي، څو د سیمې راتلونکی روښانه شي.

## د المرصاد اونیز تحلیل

# رواني او تبلیغاتي جګړه؛ د پاکستان او داعش کړه استفاده

رواني او تبلیغاتي جګړه، په عصري نړۍ کې د وسلوالې جګړې تر څنګ تر ټولو مهم ډولونه ګڼل کېږي. دا جګړې د ذهنونو، احساساتو او ارادو په وړاندې ترسره کېږي او ډېر وخت یې پایله له پوځي بریدونو ډېره اغېزناکه وي. رواني جګړه، د جګړې هغه ډول دی، چې وسله پکې نه کارول کېږي، مګر اغېز یې له وسلوالې جګړې ډېر زیات او ژور وي. دا جګړه د انسانانو د ذهن، احساساتو، وېرې، هیلو او ارادې په وړاندې ترسره کېږي. یعنې: هغه پلان شوې هڅې دي چې د مخالف لوري سرتېرو، قومندانانو، عامو خلکو او حتی خپل اړخ د مورال لوړولو لپاره کارول کېږي. موخه یې دا ده چې دښمن پرته له دې چې ډېرې ګولۍ وویشتل شي، ماتې ومني، تسلیم شي یا خپل پلان بدل کړي.

### رواني جګړه کې ډولونه لري:

سپینه رواني جګړه: په دې ډول جګړه کې ریښتوني معلومات په خاص ډول وړاندې کیږي.

توره رواني جګړه: د دښمن په تړاو بشپړ درواغ او جعلي خبرونه وړاندې کول.

خړه رواني جګړه: په ډول جګړه کې د روانو حالاتو په تړاو نیمه ریښتیا ویل کیږي.

### وسایل او تکتیکونه یې:

لوړ غږ، څراغونه او موسیقي (د خوب د مخنیوي لپاره). جعلي خبرونه او ویډیوګانې، د اسیرانو سره خاص چلند څو هغوی تبلیغات وکړي. د ټولنیزو پاڼو کمپاینونه، د ویرې خپرول او نور...

### دا جګړه ولې اغیزمنه ده؟

څکه چې انسان ذهن یې تر هر څه زیات حساس دی. که مورال مات شي، تر ټولو قوي پوځ هم سقوط کوي. یو عسکر چې باور لري "مونږ ماتې خورو"، هغه له جګړې مخکې ماتې خوړلې ده. نن ورځ رواني جګړه د هر هېواد ملي دفاع برخه ګڼل کېږي. هېوادونه خاص "رواني عملیاتو څانګې" لري چې ۲۴ ساعته کار کوي.

تبلیغاتي جګړه:
تبلیغاتي جګړه هغه جګړه ده چې په کې د "حقیقت" په اړه لانجه روانه وي. څوك به خپله کیسه غالب کړي؟ څوك به نړۍ ته وښيي چې "موږ ښه یو او هغوی بد دي"؟
یعنې، دا جګړه د معلوماتو او کیسو له لارې د خلکو ذهنونه لارښوونه کوي. خپل لوري ته ملاتړ راټولوي او دښمن بدناموي. دواړه سره تړلي دي. تبلیغات د رواني جګړې یوه مهمه برخه ده.

تبلیغات څه دي؟ تبلیغات یا (پروپاګند) هغه سیستماتیك او پلان شوی کار دی چې د رسنیو، هنر، تعلیم او کلتور له لارې د خلکو ذهنونه لارښوونه کوي. هدف یې دا دی چې خلك یو ځانګړی نظر قبول کړي. د رواني جګړې په څېر دا جګړه هم هماغسې سپینه، توره او خړه نوعه لري. په سپینو تبلیغاتو کې دا ویل کیږي چې ستاسو خپل اړخ څومره بریالی دی. په تورو تبلیغاتو کې په کامله توګه درواغ (جعلي عکسونه، جعلي ویدیوګانې، جعلي غږونه او نور... ) خپریږي. په خړو تبلیغاتو کې مخلوط موجود وي. یو څه ریښتیا او ډېر جعل.
د تبلیغاتي جګړې عصري وسایل خورا ډېر خطرناك دي او هر لوری ترې په ډېرې اسانۍ او په نښتو امکاناتو سره د دښمن پر ضد بریمن کار اخیستلی شي. د سوشل میډیا الګوریتمونه، د مصنوعي زیرکتیا پر مټ جوړ شوي مواد (انځور، ویدیو، غږ)، د ټولنیزو رسنیو مشهور فعالان، میمونه او کارټونونه، ښوونځي او تعلیمي نصاب (په خاص توګه د تاریخ کتاب).
اوس پوښتنه دا ده چې ولې دا تبلیغات دومره قوي دي او په خورا اسانه شکل باندې یو څوك اغېزمنولی شي؟ ځکه چې انسان د "کیسې" مخلوق دی. که تاسو یوه ښه کیسه ووایئ چې "موږ قرباني یو" یا "موږ اتلان یو"، خلك به ستاسو ملاتړ وکړي. حقیقت ډېر وخت مهم نه وي، "څنګه کیسه وړاندې کیږي"، هغه مهم دی.
لکه مخکې مو چې وویل چې نن سبا تبلیغاتي وسایل اسانه شوي په اسانۍ سره د لاسرسي وړ دي، همداسې یې خطر هم څو چنده زیان اړونکی او خطرناك دی. د خلکو تر منځ نفرت او یا بې باوري خپرول. دروغ دومره عام شي چې ریښتیا باور نه شي. ځوانان افراطي فکرونو ته راکرځول او نور هغه څه دي چې عمر خوړلي کسان، ځوانان او کشران ټول پر خپل تور جادو اغیزمن کړي دي. نن ورځ تبلیغاتي جګړه له وسلوالې جګړې مخکې پیلیږي او تر هغې وروسته هم دوام کوي. هغه هېواد چې په تبلیغاتو کې بریالی شي، هغه په ډېرو برخو کې بریالی کیږي.

## د پاکستان رواني او تبلیغاتي جګړه:

د پاکستان رواني او تبلیغاتي جګړه عموما د (آي ایس پي آر) او د (آی ایس آی) استخباراتي ادارې له لارې په کډه ترسره کیږي. دا دواړه ادارې د پوځي او دولتي سطحې پر تبلیغاتو او روایاتو جوړولو تمرکز کوي، په ځانګړي ډول د هند، کشمیر او داخلي چارو په اړه. په عمده میتودونو او ستراتیژۍ کې د پاکستان د رسمي میډیا او (آي ایس پي آر) رول دا دی چې، (آي ایس پي آر) د پاکستان د پوځ رسمي خبري اژانس دی چې له ۱۹۴۹ راهیسې فعاله اداره ده. دا ادارې د پوځي عملیاتو، بیانونو او ویډیوګانو له لارې ملي روایات کنټرولوي.

د ټلویزیون، فلمونو، ټولنیزو رسنیو (فېسبوک، ټویټر/ایکس، انسټاګرام، ټیک ټاک) او چاپي مطبوعاتو له لارې کار اخلي. د پوځ مثبت انځور جوړول، دښمن (عموما هند، او په وروستیو کې افغانستان) تورنول او داخلي مخالفت کمول یې موخه ده، چې دا کارونه د بوټونو BOTS، جعلي اکاونټونو او کوارډینات شویو کمپاینونو له لوري ترسره کوي او په خاصه توګه، د بهرنیو پاکستاني وګړو، ژورنالستانو او انفلوینسرانو له لارې نړیوال افکار اغیزمنوي.

د افغانستان او پاکستان ترمنځ خپل منځي اړیکې له پخوا راهیسې پیچلې او ترینګلې دي. پاکستان (په ځانګړي ډول د هغې پوځي استخباراتي ادارې) د افغانستان په داخلي چارو کې د نفوذ لپاره له اوږدې مودې راهیسې تبلیغاتي او رواني عملیات ترسره کوي. دا عملیات ډېر وخت "ستراتیژیک عمق" پالیسۍ برخه ګڼل کیږي چې هدف یې په افغانستان کې یو دوست یا تابع حکومت جوړول او له هند څخه ځان ساتل دي. دا جګړه په عمده ډول د دروغو خبرونو، روایاتو جوړولو، مذهبي او قومي احساساتو لوبولو او دښمنۍ خپرولو له لارې ترسره کیږي.

د پاکستان او افغانستان (اسلامي امارت) اړیکې له ۲۰۲۱ کال وروسته په ډراماتیک ډول خرابې شوې. پاکستان په لومړیو کې د اسلامي امارت بریا ولمانځله، خو وروسته پاکستان د TTP په تړاو له افغانستانه شکایتونه پیل کړل، او افغانستان د ډیورنډ کرښې په اړه خپل موقف روښانه ساتي. پاکستان تور لګوي چې طالبان TTP ته په افغانستان کې پناه ورکوي او له هغې ځمکې څخه پر پاکستان بریدونه کیږي. همدا تورونه ددې لامل شوي چې پاکستان د رواني او تبلیغاتي عملیاتو له لارې د خپل موقف د قوي کولو ناکامه هڅه کوي.

د پوځ رسمي ویاند (ISPR) په منظمه توګه افغانستان تورنوي چې "د ترهګرو

ملاتړ کوي"، د فرضي پولې (ډيورنډ کرښې) امنيت نه ساتي او TTP پالي. په پاکستان کې د هر ترسره شوي بريد وروسته ISPR ژر دا بيان ورکوي چې "بريدونه له افغان خاورې پلان شوي" او "اسلامي امارت مسؤل دی". دوي دا کار د داخلي مورال لوړولو او نړيوالو ته د "قرباني" انځور ورکولو لپاره دی.
له ۲۰۲۱ راهيسې څو ځله يې په افغانستان کې هوايي بريدونه وکړل (لکه ۲۰۲۵-۲۰۲٦ کې په ننګرهار، پکتيکا، کونړ او خوست کې). دا بريدونه د پاکستاني طالبانو او د داعش خراسان څانګې په خلاف شودل کيږي په تبليغاتو کې دا "د ځان دفاع" او "ترهګرۍ‌ضد عمليات" شودل کيږي، خو حقيقت دا دی چې دا د پاکستان د فرمائشاتو او غوښتنو د نه منلو په غبرګون کې د زړه هغه براس دی چې د "ملکي وژنو" په شکل کې يې وباسي.
پاکستاني ميډيا دا بريدونه بريالي ښيي، خو دا بريا نه بلکې يو جنګي جنايت دی چې پوځي رژيم يې په هره سيمه کې ترسره کوي.
د افغانستان د حريم ددې ښکاره نقض سربيره په رسنيو او ډيجيټل پروپيګند کې پوځي رژيم له لوري بوټ اکاونټونه، هاشتاګونه او جعلي خبرونه کارول کيږي ترڅو اسلامي امارت "نااهله واکمن" او "ترهګر پالونکي" وښيي. - د TTP او نورو وسله والو ډلو له بريدونو وروسته پاکستان او اداري يې کمپاينونه چلوي چې "افغانستان د ترهګرۍ‌مرکز شوی" او "اسلامي امارت خپل تعهد نه شي ساتلی". پداسې حال کې چې پاکستان د افغانستان پر ضد له هرې روا او ناروا څخه کار اخلي او پر افغانستان د فشار لپاره خو يې آن مليونونه افغان مهاجرين له خپله هيواده راوويستل چې دا يې خپله "امنيتي اړتيا" بلله، در حال کې حقيقت بل څه وو.

ددې ترڅنګ، پاکستان په نړيوالو فورمونو کې لکه ملګرو ملتونو او نورو ځايونو کې اسلامي امارت "ترهګرۍ‌ضد اقدام نه کولو" باندې تورنوي، پداسې حال کې چې د اسلامي امارت له راتګ تر دې دمه دا پاليسي او موقف دی چې هيڅ چاته اجازه نه ورکوي چې د افغانستان خاوره د بل چا پر ضد وکاروي او ددې د مخنيوی لپاره يې اړين کامونه هم اخيستي دي.
لنډه دا چې دا جګړه څو اړخيزه جګړه ده چې پاکستان پوځي (بريدونه) کوي، او هم رواني (تورونه، مورال کمول) او تبليغاتي (ميډيا) سنګر هم ګرم ساتي. پاکستان غواړي اسلامي امارت مجبور کړي چې TTP کنټرول کړي، خو دا تر هر چا واضحه ده چې TTP د پاکستان په داخل کې زيږيدلې ډله ده، همالته يې روزنه شوې او همالته فعاليت ترسره کوي خود پاکستاني رژيم د سرتمبګی له وجې اړيکې تر جنګي سطحې رسيدلي دي.

## داعش په رواني او تبلیغاتي جګړه کې څنګه کار کوي؟

داعش په نړۍ کې تر ټولو بریالی او وحشیانه تبلیغاتي ماشین درلود، چې د هغوی د چټکې بریا یوه لویه برخه همدا وه. د رواني عملیاتو او تبلیغاتو له لارې یې زرګونه ځوانان جذب کړل، خپل دښمنان یې وېرول او نړۍ ته خپل انځور جوړ کړ. داعش تبلیغات نه یوازې "خبر" وو، بلکې مستقیما رواني وسله وه. ددې لپاره یې: د لوړ کیفیت او مسلکي تولید له لارې د هالیووډ په څېر ویډیوګانې (لکه "د جګړې لمبې" په څېر فلمونه). جهادي ترانې، انیمیشن، میمونه او انفوګرافکس په کښو سیمه ییزو او نړیوالو ژبو خپرول.
د "برې" د انځور لپاره خپل جنګیالي اتلانان او مبارزین ښودل، دښمنان "کافر او مرتد" معرفي کول، د وېرې خپرولو لپاره د "سر پرې کولو، سوځولو او اعدامولو" ویډیوګانې تبلیغ کول، د اسلامي امت د پیوستون لپاره د "خلافت" له سپیڅلي نوم څخه استفاده، د عدالت، امنیت، شتمنۍ او د جهاد د ریښتیني ډګر لپاره د جلب جذب بیلابیلې لارې خپلول.
داعش د ذهنونو جګړه ډېره ښه لوبوله. د وېرې او رعب خپرولو بریدونه یې په ډراماتیک ډول پلانول (لکه پاریس، بروکسل، او نوره غربي نړۍ کې) هدف یې ترې دا وو چې وښیي "موږ هر ځای یو، تاسو خوندي نه یاست."
د هویت او هدف ورکولو په ترڅ کې یې ځوانانو ته یې (په ځانګړي ډول په لویدیځ کې) د "اتل" کیدو احساس ورکړ. یعنې "ته هم کولی شې اتل شې". دا پیغام ډېر قوي و چې کښو ځوانانو ترې الهام واخیست او په لویدیځ کې یې کڼ شمېر بریدونه ترسره کړل.

له څنګه چې په مقاله کې وړاندې یادونه شوې وه چې د تبلیغاتي او رواني جګړې عصري وسایل اوس خورا پراخه شوي او تر هر چا په اسانۍ سره لاس ته ورځي، د داعش د تبلیغاتو عمده وسیلې هم سوشل میډیا ده چې ددې د مختلفو پلټفارمونو لکه فیسبوک، تلګرام، ایکس/ پخوانی تویټر، او لسګونه نورو کې په سلګونو زره اکاونټونه لري، ( دا سلګونه کسان نه بلکې یو یو کس یې څو څو اکاونټونه چلوي ) چې خپل تبلیغاتي مواد تر نورو ورسوي.
د داعش مطبوعاتي پوښښ پراخه دی نه یوازې ویډیویي او غږیز نشرات خپروي بلکې ترځنګ یې په لوړ کیفیت، ښکلي او جذاب ډیزاین سره مجلې او کتابونه هم خپروي. اعماق خبري اژانس له لارې په څو ژبو چټک خبرونه نشروي بلکې د رواني جګړې تر ټولو اغېزناکه وسیله یعنې "راډیو" څخه هم د "ایف ایم سټیشن" په شکل کې کار اخلي.

پوښتنه دا ده چې ولې دومره بريالي وو؟ لومړی خو دا چې د "خلافت او امت" د اغيزناکو نومونو په کارولو سره د نړۍ د کوټ کوټ څخه په هر فن کې ماهره کسان د دوي مرکزونه ته را مهاجر شول، چې داعش د هر فن متخصص يې په خپل مسلك کې وکاروه چې نتيجه يې خورا روښانه ده. بل د دوی د کار چټکتيا او سرعت وو چې خبرونه او نور نشراتي مواد يې ډېر ژر خپرول او جلب او جذب لارې چارې تر هر چا ښې ورمعلومې وې او په اسانۍ سره يې کولای شول چې خپل مخاطب اغيزمن کړي او په خپله کته يې وکاروي.
اوس که څه هم د داعش خلافت سقوط کړی او په سيمه کې زيات فزيکي حضور نلري، خو لا هم آنلاين خلافت فعال دی. خلاصه دا چې داعش تبليغات او رواني جګړه د خپل پوځي ځواك په څېر مهمه کڼله. هغوی پوهېدل چې ذهن فتح کړې نو ځمکه هم فتح کېږي. دا طريقه نن ورځ نورې جهادي ډلې هم کاروي.
زموږ د دې ليکنې پايله دا راوځي، چې رواني او تبليغاتي جګړه د "حقيقت" جګړه ده. هغه څوك چې غوره کيسه ووايي او ذهنونه فتح کړي، هغه په ډېرو برخو کې بريالی کېږي. دا جګړې نه يوازې پوځي قوت، بلکې ذهني قوت ته هم اړتيا لري. په دې بايد پوه شو چې معلومات اوس د وسلو په څېر خطرناکه وسله ګرځېدلې ده.

# لومړی فصل
# د امت نومیالي

# د شهید اختر محمد منصور تقبله الله ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه:

د عُمـري مدرسـې د متانـت لرونکـو شـاګردانو لـه جملـه څخـه يـو هـم د اسلامـي امـارت دوهـم ټـاکل شـوی زعیـم، شـهید امیرالمؤمنیـن ملا اختـر محمـد (منصـور) تقبلـه الله و، چـې پـه عملـي ډول یـې د اسلامـي امـارت د قیـادت چـارې د عالیقـدر امیرالمؤمنیـن پـه حیـات کـې پیـل کـړې او د هغـه د وفـات تـر اعلان وروسـته، د اسلامـي امـارت د اهـل الحـل و العقـد معتبـرو اشـخاصو، علمـاء کرامـو، جهـادي مخـورو او نـورو ملـي شـخصیتونو لخـوا د اسلامـي امـارت د نـوي زعیـم پـه توګـه وټـاکل شـو او بیـا یـې د شـهادت تـر شـېبې، پـه پـوره ایمانـدارۍ، متانـت او مېړانـې د دغه ستر کاروان د رهبرۍ درنه وظیفه ترسره کړه.

پـه لانـدې کرښـو کـې د نومـوړي تقبلـه الله ژونـد، کارنامـو او د داعشـي خوارجـو سره مبارزې ته لنډه کتنه شوې:

زوکړه:

شـهید ملا اختـر محمـد منصـور تقبلـه الله د الحـاج محمـد جـان زوی، پـه ۱۳۴۷هـ ش کال د کنـدهار ولایـت د میونـد ولسـوالۍ پـه بنـد تیمـور کلـي کـې زیږېدلـی دی، دا چـې د نومـوړي کورنـۍ د خپلـې سـیمې پـه کچـه یـوه متدینـه او علـم دوسـته کورنـۍ وه او جنـاب والـد صاحـب یـې یـو علـم خوښـوونکی شـخصیت وو، نـو د جنـاب منصـور صاحـب د سـالمې روزنـې لپـاره یـې هغـه تـه لومړنـۍ انتخـاب د دینـي زده کړو وکړ.

زده کړې:

شـهید منصـور صاحـب پـه اووه کلنـۍ کـې د خپـل والـد صاحـب پـه لارښـوونه د خپلـې سـیمې ابتدایـي مکتـب او د خپـل کلـي مسـجد کـې د دینـي زده کـړو شـعبې تـه شـامل کـړل شـو، دا چـې پـر نومـوړي بانـدې لـه ماشـومتوب څخـه د پوهـې، ذکاوت او بصیـرت علامـې ښـکاره وې نـو د خپـل پلار ترڅنـګ، د اسـتادانو لخـوا هـم تـر خاصـې روزنـې لانـدې ونیـول شـو. څرنګـه چـې د نومـوړي کورنـۍ د هجـرت پـه مهـال د بلوچسـتان اړونـد پـه ګـردي ځنـګل کمـپ کـې اوسـېده نـو دینـي زده کـړې یـې څـه مـوده همدلتـه او بیـا د پنـج پـای پـه سـیمه کـې ترسـره کـړې، لـه هغـه وروسـته کوټـې ښـار تـه لاړ څخـه وخـت پـه کوټـه او وروسـته یـې د عبـدالله خـان کـراس پـه سـیمه کـې پـه یـوه مدرسـه کـې دینـي کتابونـه ولوسـتل، وروسـته نومـوړي د دینـي علومـو پـه تلاش پېښـور تـه لاړ او هلتـه یـې پـه کچـه کـړۍ

او نـورو سـيمو كـې ديني درسـونه وويـل او وړه دوره يـې د پېښـور د جلـوزو پـه كمـپ كـې ولوسـتله. هغـه مهـال چـې نومـوړی پـه دينـي زده كـړو بوخـت و، د افغانسـتان سياسـي واك د كمونسـتانو لاس تـه ولويـد او افغـان مجاهـد ولـس د هغـوی پر خلاف اسلامي پاڅون وكړ.

جهاد او سياسي مبارزه:

پـه كال ۱۹۷۸ز كـې پـه افغانسـتان بانـدې د شـوروي اشـغالګرو تـر تيـري وروسـته، افغـان مجاهـد ولـس د هغـوی پـر خلاف اسلامـي مقاومـت پيـل كـړ، جنـاب منصـور صاحـب چـې هغـه مهال اتلس كلـن و، د يـو تكـړه او بـا شـهامته ځـوان پـه توګـه د يـوه غيرتـي مجاهـد پـه حيث يـې پـه شـعوري ډول لـه خپـل ديـن او هېـواد څخـه د دفـاع پـه غـرض، د يرغلګـرو شـورويانو او داخلـي كمونسـتانو پـه خلاف د وسـله وال جهاد لاره ونيوله.

نومـوړی بـه د كال پـه اوړدو كـې كلـه پـه ديني درسـونو بوخـت و او چـې سـبقونه بـه يـې خلاص شـول نـو بـه يـې د جهادي جبهو پـر خـوا مخـه كـړه، پـه ۱۹۸۵ز كـې د جهـادي فعاليـت لپـاره د كندهـار ولايـت مشـهور جهـادي قومانـدان شـهيد قـاري عزيـزالله جبهـه د خپـل جهـادي سـنګر پـه حيـث غـوره او د پنجوايـی ولسـوالی پـه پاشـمول سـيمه كـې يـې د افغانسـتان پـه كچـه د مشـهور جهـادي شـخصيت الحـاج ملا محمد حسن اخند تر سرپرستی لاندې يې جهادي فعاليت ته دوام وركړ.

محتـرم منصـور صاحـب پـه ډېـرو پوځـي عملياتـو كـې فعالـه برخـه لرلـې او يـو ځلـې پـه ۱۹۷۸ز كـې پـه كندهـار ولايـت كـې د روسـانو پـه يـوه سـتراتيژيك مركـز بانـدې د مخامـخ عملياتـو پـه تـرڅ كـې پـه داسـې ډول زخمـي شـو چـې بـدن يـې ديارلـس ځايـه ټپـي و خـو الله تعالـی ورتـه شـفاء وركـړه، دوهـم ځـل بيـا پـه ۱۹۹۷ز كـال د مـې پـه مياشـت كـې، د اسلامـي امـارت پـه واكمنـی كـې د مـزار شـريف پـه هوايـي ډګـر كـې زخمـي شـو او پـه هغـه زخمـي حالـت كـې د مخالفينـو لخـوا اسـير هم شو.

د طالبانو له اسلامي تحريك سره يوځای كېدل:

پـه كال ۱۹۹۲ز پـه افغانسـتان كـې د كمونسـتي نظـام تـر سـقوط او داخلـي جګـړو پيلېـدو وروسـته، جنـاب منصـور صاحـب د خپلـې جبهـې د نـورو مخلصـو مجاهدينـو پـه څېـر، وسـله پـر ځمكـه كېښـودله او لـه واك پـر سـر د پيـل شـوې نـاروا جګـړې پـه تـدوام كـې يـې د هيڅـا پلـوي ونـه كـړه او د خپـل عـادي ژونـد پـه غـوره كولـو سـره، لـه هـر ډول تنظيمـي فعاليتونـو څخـه لاس پـه سـر او پـه ځينـو علمـي او تربيـوي فعاليتونـو مصـروف شـو. پـه ۱٤۱٥هــ ق كال كـې چـې د اميرالمؤمنيـن ملا محمـد عمـر مجاهـد رحمـۃ الله عليـه، لخـوا د طالبانـو اسلامـي تحريـك تأسـيس شـو، ملا اختـر محمـد منصـور صاحـب دغـه مهـال پـه پېښـور كـې د جلـوزو كمـپ د هجـرت

کلي په امینیه مدرسه کې له شیخ الحدیث مولوي شهاب الدین دلاور صاحب او مشهور مدرس مرحوم سید قریش بابا سره سبقونه ویل او نور طالبان هم ورسره ملګري وه.

کله چې دوی له راډیوګانو څخه د طالبانو د تحریك د تأسیس خبره واوریده نو تر خپل منځ یې مشوره وکړه چې د دې نوي تحریك د حقیقت معلومولو لپاره باید څو کسان کندهار ته ولیږي، دوی خپله دوه ملګري کندهار ته روالېږل، هغوی د اسلامي تحریك له مشر او چارواکو سره ولیدل او له پوره اطمنان او قناعت وروسته یې خپلو د مدرسې ملګرو ته حال راوړ چې دا واقعاً د طالبانو او مجاهدینو تحریك دی. له دې سره ملا اختر محمد منصور او نور ملګري یې را روان شول، په کومه شپه چې دوی بولدك ته را ورسېدل، طالبانو د تخته پل سمیه نیولې وه او د کندهار پر خوا روان وه، په بولدك کې ملا اختر محمد منصور او ورسره ملګرو طالبانو خپل منځي غونډه وکړه ترڅو خپل مشر وټاکي، له سلا مشورو وروسته، دوی د خپلو ملګرو له منځه ملا اختر محمد منصور صاحب د خپل مشر په حیث انتخاب کړ او بیا دوی ټولو د هغه تر مشرۍ لاندې په اسلامي تحریك کې شمولیت وکړ.

### د اسلامي امارت د منتخب امیر په توګه ټاکنه:

کله چې د ۱٤۳٦هـ ق کال د شوال المکرم میاشتې په ۱٤ نېټه چې د ۲۰۱۵ز کال د جولای میاشتې له ۳۰ نېټې سره سمون خوري، د اسلامي امارت د رهبرۍ شورا لخوا د مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله وفات رسماً اعلان شو، د اسلامي امارت د رهبري شورى اعضاوو، د مشائخو او مخورو علماء کرامو په ګډون یوې غونډې چې د اهل الحل والعقد له اعتبار څخه برخمن وه، د محترم منصور صاحب له حضور او موجودیت پرته تر اوږدو بحثونو، مصلحت سنجولو او مشورو وروسته، نوموړی د اسلامي امارت د نوي امیر په حیث وټاکه او ټولو ورسره په یو غږ بیعت وکړ.

### د امریکایانو د یرغل پر خلاف وسله وال مقاومت:

په ۲۰۰۱ز کال د اکتوبر په اوومه نېټه په افغانستان باندې د امریکا تر یرغل وروسته، محترم منصور صاحب د هغوی په خلاف مسلح جهاد پیل کړ، د امریکا په ضد د نوموړي د جهاد یو د یاد وړ مرحله د کندهار د هوایي ډګر په شاوخوا کې د امریکایي بمبار په مقابل کې مقاومت او د امریکا له کوډاګیانو سره مخامخ جنګونه دي، برسېره پر نورو جهادي کارنامو، په کال ۲۰۰۳ز او ۲۰۰۸ز کې، د کندهار ولایت د مرکزي محبس د مجاهدینو په لاس دوه ځلې په حیرانوونکې توګه ماتېدل چې له مخې یې په دواړه ځلې مجموعاً تر یو نیم زر زیات اسیر مجاهدین د دښمن له اسارت څخه راخلا کړای شول، هم

شهادت:
باالاخره د حق د لارې دغه مخلص او فداکار مجاهد چې د اسلامي امارت د زعيم په حيث د ټاکل کېدو يې لا کال نه و پوره شوی، د امريکا د بې پيلوټه الوتکې په برید کې د ۲۰۱۶ز کال د مې مياشتې په ۲۱نېټه، د شهادت لوړ مقام ته ورسېد. تقبله الله

# د شهید مجیب الرحمن انصاري تقبله الله ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه

شهید مولانا مجیب الرحمن انصاري د خواجه محمد رفیق انصاري زوی او د ستر عالم او صوفي خواجه محمد صدیق انصاري لمسی په ۱۳۶۲ لمریز کال کې د هرات ولایت د اتمې ناحیې اړوند د ګازرګاه په سیمه کې په یوه پیژندویه علمي او روحاني کورنۍ کې زیږیدلی و. د نوموړي د نسب سلسله د پنځمه هجري پیړۍ ستر عالم او صوفي پیر هرات خواجه عبدالله انصاري صاحب ته رسیږي. څوک چې په خپل وخت کې د علم او عرفان ستر لاروی او وتلی شخصیت و. شهید مجیب الرحمن انصاري صاحب په همدې متدینه او علمدوسته کورنۍ کې وزیږید. د دوی کورنۍ چې د ګازرګاه په سیمه کې د خواجه عبدالله انصاري د زیارت او جامع مسجد په ګاونډ کې اوسي، نه یوازې د علمیت او روحانیت له اړخه مشهوره کورنۍ ده، بلکې اجتماعي نفوذ یې هم د پام وړ دی.

## ماشومتوب او ابتدائي زده کړې

انصاري صاحب په یوه روحاني او علمي خاندان کې زیږیدلی و. له دې علاوه د دوی کورنۍ په مالي لحاظ هم خودکفا وه. والد صاحب او ترونه یې په تجارتي کاروبار مصروف وو. نو ځکه نوموړی تر ډیره د دنیا له مادي ستړیاوو بې غمه او علم ته فارغ و. نوموړی د خپل عالم او صوفي نیکه په غیږ کې د ذکر، تلاوت، تعلم او تعلیم په فضا کې را لوی شو. له کوچنیوالي یې د سهار او ماښام اذکار او تلاوت عادت و. په ۷ کلنۍ کې د خپل نیکه لخوا د عمر فاروق رضی الله عنه دار الحفاظ ته داخل او له مشهور استاد مرحوم حافظ مولوي آقاګل خان څخه یې د یو نیم کال په موده کې قران کریم حفظ کړ. وروسته یې د اویس قرنی جامع مسجد له امام او خطیب مولانا عبدالبصیر څخه نظري او عملي علم التجوید زده کړ. وروسته یې دیني زده کړو ته ملا وتړله او د هرات په غیاثیه مدرسه کې یې ابتدائي کتابونه ولوستل.

## له مدرسې تر منبره

شهید انصاري چې د ژور ذکاوت او پوهې خاوند و، له خپل عالم نیکه څخه علاوه یې د هرات له مشهورو علماء کرامو څخه د علم زده کړې ته دوام ورکړ. نوموړی چې له کوچنیوالي الله تعالی د د بیان او خطابت ښه قوه ورکړې وه، په ډیر خواږه غږ به یې قرائت وایه او په ډیر فصیح او بلیغ انداز به یې تقریر

کاوه. پـه ۱۳۸۰ لمریـز کال کـې چـې عمـر یـې یـوازې اتلـس کالـه و، پـه کازرګاه کـې د خواجـه عبدالله انصاري صاحـب د جامع مسـجد د خطابت درنـه وظیفـه ورتـه وسـپارل شـوه. نومـوړي پـه ډیـر کـم وخت کـې د هـرات پـه سـطحه د مخکښو او جـذاب خطیـب پـه حیـث نـوم ویوسـت. تـر دې چـې پـه زرګونـو کسـان بـه یـې د تقریـر اوریـدو تـه هـره جمعـه را یوځـای کیـدل. پـه وروسـتیو کـې د نومـوړي د تقریـر جذابیت دومـره پـراخ شـوی و چـې حتـی لـه ولسـوالیو څخـه بـه خلـك د نومـوړي تقریـر تـه راتلـل او د جمعـې د ورځـې د سـهار لـه اتـو یـا نهـو بجـو بـه خلکـو مسـجد تـه ځان را رساوه تر څو د شهید انصاري جذاب تقریر واوري.

نومـوړی پـه ۱۳۸٤ لمریـز کال کـې د حـج پـه مبـارك سـفر لاړ او لـه راګرځیـدو وروسـته یـې د هـرات ښـار لـه مشـهورو اسـتادانو لکـه مولانـا محمـد غـوث هـروي، مولانـا ګل احمـد بادمرغانـي او نـورو څخـه دینـي زده کـړې ترسـره کـړې. تـر دې چې پـه ۱۳۸۹ لمریز کال کـې یې لـه مولانـا نجیب احمـد خراسـاني څخه د احادیثو دوره ترسره او له دیني علومو څخه د فراغت دستار یې په سر کړ.

لـه فراغـت وروسـته نومـوړي دوه کالـه نـور هـم د کازرګاه مسـجد د خطابـت او تدریـس سـپیڅلې دنـده ترسـره کـړه، تـر دې چـې پـه ۱۳۹۱ لمریـز کال کـې د علـم پـه طلـب پسـې مدینـې منـورې تـه لاړ او هلتـه یـې بـه جامعـه اسلامیـه کـې ٦ کالـه د دینـي علومـو تحصیـل تـه دوام ورکـړ او پـه ممتـازه درجـه لـه فراغـت وروسـته بیرتـه خپل ښار او مدرسې ته راستون شو.

## د شهید مولانا انصاري اصلاحي کارنامې او ویاړمن مواقف

مولانـا انصـاري یـوازې د مسـجد امـام او مـدرس نـه و، بلکـې یـو فعـال داعـي، ټولنیـز مصلـح او د جامعـې خیـر غوښـتونکی لارښـود و. نومـوړي پـه خپلـه سیمـه کـې لـه پـراخ نفـوذ او محبوبیـت څخـه د دینـی شـعائرو د احیـاء، اسلامـي فرهنـك د ودې، امـر بالمعروف و نهی عن المنکر او ټولنیزې اصلاح لپاره استفاده کوله.

کازرګاه سـیمه د هـرات ښـار پـه شمالشـرق د غـرو او تپـو پـه لمنـو کـې پرتـه یـوه سیاحتي سـیمه ده چـې ډیـر زیارتونـه لـري. د اشـغال پـه کلونـو کـې چـې پـه ښـارونو کـې د فسـاد، خلطیـت او بـي حجابـی ترویـج لپـاره منظـم کار کیـده، اثـرات یـې دې سـیمې تـه هـم راورسـیدل. یـو شـمیر ځوانـان او ښـځې بـه دې سـیمې تـه د سـیاحت پـه نیـت راتلـې، چـې ځینـې ښـځې لـه پـردو خلکـو سـره هـم لیـدل کیـدلې. دغـه راز بـه ځینـو ځوانانـو د شـرابو پـه شـمول نشـه یـي توکـي هـم اسـتعمالول. دا چـې حاکـم رژیـم د همـدې فسـاد د ترویـج لپـاره کار کاوه نـو څـکـه یـې د مخنیـوي تمـه تـرې نـه شـوای کیـدلای. تـر دې چـې مولانـا انصـاري یـوه ورځ د جمعـې پـه خطابـت کـې اعلان وکـړ، چـې لـه دې وروسـته کـه پـه دې ټولـه سـیمه کـې کومـه ښـځه لـه محـرم پرتـه او یـا کـوم ځـوان پـه نشـه یـي توکـو یـا کومـه بلـه بداخلاقـي و لیـدل،

کاوه. په ۱۳۸۰ لمریز کال کې چې عمر يې يوازې اتلس کاله و، په کازرګاه کې د خواجه عبدالله انصاري صاحب د جامع مسجد د خطابت درنه وظيفه ورته وسپارل شوه. نوموړي په ډېر کم وخت کې د هرات په سطحه د مخکښ او جذاب خطيب په حيث نوم ويوست. تر دې چې په زرګونو کسان به يې د تقرير اوريدو ته هره جمعه را يوځاى کيدل. په ورووستيو کې د نوموړي د تقرير جذابيت دومره پراخ شوى و چې حتى له ولسواليو څخه به خلك د نوموړي تقرير ته راتلل او د جمعې د ورځې د سهار له اتو يا نهو بجو به خلکو مسجد ته ځان را رساوه تر څو د شهيد انصاري جذاب تقرير واوري.
نوموړى په ۱۳۸٤ لمريز کال کې د حج په مبارك سفر لاړ او له راګرځيدو ورووسته يې د هرات ښار له مشهورو استادانو لکه مولانا محمد غوث هروي، مولانا ګل احمد بادمرغاني او نورو څخه ديني زده کړې ترسره کړې. تر دې چې په ۱۳۸۹ لمريز کال کې يې له مولانا نجيب احمد خراساني څخه د احاديثو دوره ترسره او له ديني علومو څخه د فراغت دستار يې په سر کړ.
له فراغت وروسته نوموړي دوه کاله نور هم د کازرګاه مسجد د خطابت او تدريس سپيڅلې دنده ترسره کړه، تر دې چې په ۱۳۹۱ لمريز کال کې د علم په طلب پسې مدينې منورې ته لاړ او هلته يې به جامعه اسلاميه کې ٦ کاله د ديني علومو تحصيل ته دوام ورکړ او په ممتازه درجه له فراغت ورووسته بيرته خپل ښار او مدرسې ته راستون شو.

## د شهيد مولانا انصاري اصلاحي کارنامې او وياړمن مواقف

مولانا انصاري يوازې د مسجد امام او مدرس نه و، بلکې يو فعال داعي، ټولنيز مصلح او د جامعې خير غوښتونکى لارښود و. نوموړي په خپله سيمه کې له پراخ نفوذ او محبوبيت څخه د ديني شعائرو د احياء، اسلامي فرهنګ د ودې، امر بالمعروف و نهى عن المنکر او ټولنيزې اصلاح لپاره استفاده کوله.
کازرګاه سيمه د هرات ښار په شمالشرق د غرو او تپو په لمنو کې پرته يوه سياحتي سيمه ده چې ډېر زيارتونه لري. د اشغال په کلونو کې چې په ښارونو کې د فساد ، خلطيت او بې حجابى ترويج لپاره منظم کار کيده، اثرات يې دې سيمې ته هم راورسيدل. يو شمير ځوانان او ښځې به دې سيمې ته د سياحت په نيت راتلې، چې ځينې ښځې له پردو خلکو سره هم ليدل کيدلې. دغه راز به ځينو ځوانانو د شرابو په شمول نشه يي توکي هم استعمالول. دا چې حاکم رژيم د همدې فساد د ترويج لپاره کار کاوه نو ځکه يې د مخنيوي تمه ترې نه شواى کيدلاى. تر دې چې مولانا انصاري يوه ورځ د جمعې په خطابت کې اعلان وکړ، چې له دې وروسته که په دې ټوله سيمه کې کومه ښځه له محرم پرته او يا کوم ځوان په نشه يي توکو يا کومه بله بداخلاقي و ليدل،

موږ یې نیسو، خپلې دار الافتاء ته یې ورانديږ کوو او شرعي سزا ورکوو. له دې سره یو ځای یې د امر بالمعروف و نهی عن المنکر ګروپونه په ځانګړي لباس کې مؤظف کړل چې په سیمه کې د ټولو منکراتو مخنیوی وکړي. دغه راز یې د کارګاه سیمه او د ښار په نورو برخو کې بیلبوردونه ولګول چې په هغه کې ښځې حجاب او عفت ساتلو ته رابلل شوې وې. دې مسئلې هغه وخت لویه غوغا جوړه کړه، رسنیو ورباندې ډیرې تبصرې وکړې خو دا چې مولانا انصاري په پوره جرأت دې کارته ولاړ و او ولسي ملاتړ یې هم درلود، حاکم رژیم یې په وړاندې هیڅ عمل ونه کړای شو.
مولانا انصاري د خپلې سیمې ځوانان ټول په دیني فکر روزلي و، همیشه یې د اسلامي امت د قضایاوو په اړه احتجاجي غونډې جوړولې او غبرګ یې پورته کاوه. یو وخت چې په اروپا کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم توهین شوی و، نوموړي خلکو ته اعلان وکړ چې سبا په دې اړه غونډه لرو، د نوموړي په اعلان زرګونه کسان راټول شول او ده ورته جذاب تقریر او وروسته د ( مؤمنین بپا خیزید ) مشهور حماسي شعر په زړه وړونکي ترنم واوراوه. د نوموړي تقریر دومره جذاب و چې له هرې جملې سره به یې خلکو د الله اکبر نعرې پورته کولې او ایماني جذبې یې په غورځنګ راوستې.

## په تعلیمي او دعوتي برخه کې خدمتونه

مولانا انصاري په خپل کلي کې د خواجه عبدالله انصاري د زیارت له څنګ سره د دار العلوم عالي انصار په نوم لویه مدرسه تأسیس کړه، چې همدا اوس د ٤٠٠ لیلیه طالبانو تر څنګ شاوخوا دوه زره کسان په کې زده کړې کوي. له دې علاوه یې د دار الایتام انصار، مدرسه دیني انصار ( چې نارینه او ښځینه برخې لري ) دار الحفاظ انصار، دار التألیف او دار الافتاء په نوم مهم دیني مراکز جوړ کړي دي. دغه راز یې د صدای انصار په نوم ایف ایم راډیو هم فعاله کړې چې دعوتي او اصلاحي خپرونې نشروي.

## د امریکایي اشغال مخالفت

مولانا انصاري د راسخ ایمان، محکمې عقیدې او آزادۍ غوښتنې د فکر درلودونکی و. نوموړی د امریکایي اشغال سر سخت مخالف او همیشه یې په ځغرده د اشغال او د هغوی د لاسپوڅي حکومت مخالفت کاوه. نوموړي په خپلو تقریرونو کې بیا بیا دا خبره کوله چې د مزدور رژیم سره دنده اجراء کول ناروا او معاش اخیستل یې حرام دي.
د ګوډاګي اداري چارواکو ډیرې هڅې وکړې چې نوموړی د زور، پیسو او تزویر په واسطه له دې خبرو منع کړي خو ونه توانیدل. نوموړي ته یې ډیر امتیازات وړاندې کړل، خو ده ورته هیڅ توجه ونه کړه او په پوره متانت یې

خپله ایماني وظیفه تعقیبوله. یو وخت چې د امریکایانو وروستی ګوډاګی اشرف غني هرات ته راغلی و، د هرات د والی په توسط یې مولانا انصاري ته حال ولیږه چې د اشرف غني ملاقات ته راشي. مولانا انصاري ورته وویل په هیڅ صورت نه غواړم د دې شخص مخ ووینم. وروسته اشرف غني حال ورولیږه چې اشرف غني به د ده سیمې کارګاه ته ورشي، خو مولانا انصاري وویل چې که اشرف غنی راشي هم زه ورسره نه ګورم.
یو وخت چې د ناټو ځواکونو قومندان هرات ته راغلی و. د هرات د هغه وخت والي عبدالقیوم رحیمي ته یې ویلي و، چې مولانا انصاري باید ضرور له خبرو منع کړي. خو والي ورته وویل چې دا زموږ په توان کې نه ده، ځکه انصاري یوازې نه دی، هغه زرګونه خلك په همدې فکر روزلي او که حکومت د نوموړي په ضد اقدام کوي په هرات کې به لوی شورش جوړ شي، چې پایلې به یې ډېرې بدې وي. له دې معلومیږي چې ګوډاګی اداره له نوموړي ډېر په تنګ و خو د نوموړي د پراخ ولسي نفوذ له امله یې پرې لاس نه شوای اوچتولای.
مولانا انصاري جراتمن او زړور عالم و، د خپلو اصولو او ارزښتونو په وړاندې سخت حساس او د هیڅ لحاظ یې نه کاوه. یو وخت چې خبر شو د هرات د اهل تشیع په ځینو مکاتبو کې د صحابه کرامو سپکاوی شوی، په ډېر جرأت یې غبرګ پورته کړ او اخطار یې ورکړ چې که بیا دا عمل تکرار شي، په وړاندې به یې سخت عملي اقدام ترسره کړي. د نوموړي له هماغه اخطار وروسته بیا هغه عمل تکرار نه شو.
مولانا انصاري د اشغال پر وړاندې د مسلح جهاد او د اسلامي امارت د داعیې کلك ملاتړی و. کله چې په وروستیو کې اسمعیل خان د مجاهدینو په وړاندې اقدام وکړ، مولانا انصاري یې سخت ترین مخالفت وکړ، هغه ته یې پلاوی واستاوه او ورته ویې ویل چې د اسلامي نظام د راتلو په وړاندې خنډ جوړ نه کړي.

## د اسلامي نظام په حمایت کې په میړانه دریدل

شهید مولانا انصاري لکه څنګه چې د اشغال او مفسد رژیم په مقابل کې په میړانه ولاړ او د (کلمة الحق عند سلطان جائر) لوی جهاد یې ترسره کاوه. دغه راز کله چې په افغانستان کې اسلامي امارت حاکم او اسلامي نظام پیاده شو. نوموړی په ډېر متانت، اخلاص او میړانه د اسلامي نظام په دفاع کې ودریده. په خپلو تقریرونو کې یې د اسلامي نظام کلك حمایت وکړ. خلك یې د اسلامي حکومت ملاتړ ته راوبلل. دغه راز یې د د علماء کرامو په ستره غونډه کې د اسلامي امارت دفاع او حمایت دیني وجیبه وبلله او مخالفین یې باغیان وګڼل. د نوموړي دې باجرأته موقف یو ځل بیا د اسلام او اسلامي نظام په دښمنانو غوغا ګډه کړه او ځو ورځې یې په اړه رسنیو تبصرې کولې.

کله چې د اسلامي امارت زعيم امير المؤمنين شيخ هبة الله اخندزاده صاحب هرات ته سفر کړی و له نوموړي سره يې وليدل. د امارت لخوا د رسمي وظائفو غوښتنه يې قبوله نه کړه او ويې ويل زه له خپل منبر او درسګاه څخه د اسلامي نظام خدمت کوم.

شهادت:

د ۱۴۰۱ هـ ش کال د سنبلې په ۱۱ مه نيټه چې د ۱۴۴۴ قمري د صفر المظفر له ٦ مې سره سمون خوري د جمعې مبارکه ورځ وه. نوموړي د ورځې لومړيو کې په هرات ښار کې د اسلامي امارت د مرستيال ملا برادر آخند په ګډون په يوه اقتصادي کانفرانس کې ګډون او وينا وکړه، وروسته يې له غونډې رخصت واخيست تر څو د جمعې لمانځه ته ځان ورسوي. کور ته له رسيدو سره يې د جمعې مسنون غسل وکړ، سپين کالي او دستار يې په تن کړل، عطر يې وويل او په ډير وقار د جمعې د لمانځه لپاره د مسجد په خوا روان شو. خو د مسجد له څنګ سره د ورځې په دوولس نيمې بجې د يوه ځان وژونکي لخوا وربانديې حمله وشوه او له اتلس کسانو سره چې ډيری يې محافظين و يو ځای د شهادت لوړ مقام ته ورسيد. په نوموړي د حملې مسؤليت داعشي خوارجو په غاړه واخيست.

د مولانا انصاري جنازه سبا د شنبې په ورځ د هرات ګازرګاه سيمې په عيدګاه کې ترسره شوه، د عيني شاهدانو له قوله هرات ښار تر اوسه دومره ستره جنازه نه وه ليدلې. په لسګونو زره کسانو د نوموړي جنازه په اوښکو او دعاګانو بدرګه کړه. د جنازې لمونځ يې کشر وروړ اوجيد عالم مولانا فضل الرحمن انصاري اداء کړ چې وروسته نوموړی د هرات ښار د علماء کرامو لخوا د شهيد انصاري ځای ناستی او د خواجه عبدالله انصاري د مسجد امام او خطيب هم وټاکل شو.

# د شهید حاجي خلیل الرحمن حقاني تقبله الله ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه

په تاریخ کې ځینې مرکونه یوازې د یوه انسان د ورکېدو پېښه نه وي، بلکې د زمانې د یو لوی تضاد نښه وي. خلیل الرحمن حقاني چې د نړیوالو قوتونو تر تعقیب لاندې و او د میلیونونو ډالرو جایزه یې پر سر اېښې وه، په پای کې د هغو کسانو له لوري شهید شو، چې د اسلام د نوم تر سیوري لاندې خپله توره د مسلمان پر سینه ورکاږي، دا هغه تېتوالی دی، چې تاریخ یې د خیانت تر ټولو تور باب بولي.

هغه لاس چې د مسلمان پر مسلمان پورته کېږي، لومړی د خپل ایمان لید له منځه وړي، بیا د امت د وجود رګونه پرې کوي. داعشیان چې ځان دین ته منسوبوي، د امت پر یوه زخم لا بل زخم تازه کړ. هغه کار چې دښمن په څو لسیزو جګړو کې ونه کړ، دوی د یوې شېبې په تېروتنه ترسره کړ. دا کار نه جهاد و، نه مېړانه؛ بلکې له هغه لارې بربنډ انحراف و. چې الله عزوجل ناحقه نفس وژل یکې ستره ګناه بللې، د مسلمان مجاهد وژنه تر ټولو سخته غداري ده، هغه که تر هر نوم او بیرغ لاندې وي.

د خوارجو داعشیانو په لاس د شهید شوي، له اورونو او جګړو د راوتلي مېړني مجاهد ژوند پېښو ته ورګرځو، له زوکړې پیل تر شهادت پورې یې لنډ ژوند لیك را اخلو.

## ۱ زوکړه او زده کړې

شهید خلیل الرحمن حقاني د خواجه محمد زوی او د علي باد شاه لمسی و، شاوخوا (۶۹) کاله وړاندې د پکتیا ولایت- ګردې څېړۍ ولسوالۍ د کاریزګي په عوض خېلو (د خپلو ماماګانو په کلي کې) د خدای بښلي خواجه محمد کره وزیږېد. په ختنه پښتون او پښتنو کې ځدراڼ، په ځدراڼو کې میزایي سلطان خېل دی.

نوموړي په رسمي ډول نه په کوم ښوونځي/ پوهنځي او نه کومه مدرسه کې د زده کړو لړۍ پیل او غځولې وه؛ خو په نارسمي توګه یې له زانګو تر ګوره د علم په حصول پسې کړاوونه، مهاجرتونه تېر او له ماشومتوبه د مبارزې، سربښندنو، زغم او حوصلې درسونو ته ګونډه ماته کړې وه.

په پنځه کلنۍ کې یې له خپلې مور څخه د قران کریم زده کړې پیل او د

جومات لـه ملا امام څخـه د ابتدايـي دينـي کتابونـو پـه لوسـتو سـره پـای تـه ورسـولې.
بيـا د ګـردې څېـرې د کاريزګـي پـه عـوض خپلـو کـې مولـوي محمـد عمـر تـه د
نور لوست لپاره کېناست.
لـه خپـل مشـر ورور مولـوي جلال الديـن حقانـي (رحمـه اللّه) څخـه يـې د درېيمـې
درجـې دينـي کتابونـه ولوسـتل او پښـتونخوا تـه د هجـرت پرمهـال يـې د نـورو زده
کـړو لـړۍ هلتـه وغځولـه. پـه همـدې وخـت کـې يـې د مجاهدينـو د ټپيانـو درملنـې
پـه موخـه پـه روغتيايـي برخـه کـې لنډمهالـې زده کـړې ترسـره او بالاخـره پـر هېـواد
د شـوروي ښـکېلاك پـر مهـال خپـل ټـول فکـر او ذهـن د وسـله والـې مبـارزې او جهـاد
پـر لـور واړاوه. هماغـه وو، چـې د زده کـړو لـړۍ يـې پـه ټپـه ودرېـده. مګـر د ژونـد
هـرې چـارې تـه يـې بيـا هـم د زده کـړې پـه موخـه کتـل، چـې قومـي درايـت، ولسـي
پوهه، ملي او سياسي درك يې د ماسټريو له خاوندانو کم نه وو.
د «لـوی مصلـح سـتر غـازي» کتـاب د ليکـوال پـه ټکـو: حاجـي خليـل لـوړې زده
کـړې نـه وې کـړې، خـود دوو لوريـو تـر منـځ د مرکـونـي دوښـمنی پـر اواري يـې سـر
خلاص د سياسـي او فطـري نبـوغ لـه مخـې پـر بـدی پوهېـده، څکـه خـو يـې د افغـان
شـوروي جګـړه کـې پـه مخابـره کـې مخالـف منصبـدارو تـه بـل پيغـور نـه
ورکـاوه؛ بلکـې ويـل بـه يـې: تاسـې پـر بـدی هـم نـه پوهېـږئ! حاجـي خليـل الرحمـن
حقانـي د هېـواد پـر ملـي ژبـو (پښـتو، دري) بانـدې روانـې خبـرې کولـې، پـه اردو
غږېده او عربي ژبه يې افهام او تفهيم کولی شوی.

### ۲ سياسي مبارزه او جهادي مخينه

د حاجـي خليـل الرحمـن حقانـي جهـادي روحيـه، انګېـزه، زړورتيـا او دوښـمن تـه
ماتـې د دوی د نيکونـو لـه جهـادي کارنامـو سـرچينه اخلـي او لـه هغـه خړوبېـږي. د
دوی نيکونـو د انګرېزانـو پـر وړانـدې د پکتيـا پـه زرمـت او لوګـر کـې خپلـه
سـينه سـپر کـړې وه، لـه سـختو جګـړو وروسـته يـې انګرېـزان مـات کـړي او تـر
ټولـو لـه مخـه خپلـه قربانـی تـه درېدلـي. خـو پـه دې جګـړو کـې يـې لـه انګرېزانـو
غنيمتونـه هـم نيولـي، چـې همـدا وسـله يـې بيـا مشـر ورور مولـوي جلال الديـن حقانـي
(رحمه اللّه) د شورويانو پر وړاندې جهاد کې وکاروله.
د داود خـان لـه کودتـاه وروسـته چـې يوشـمېر کمونسـتان پـه مهمـو منصبونـو او
دنـدو وګومـارل شـول او د اسلامپالـو پـه ځورولـو يـې لاس پـورې کـړ؛ پـه لويـه
پکتيـا کـې د شـهيد حاجـي خليـل الرحمـن حقانـي د مشـرانو ورونـو؛ مولـوي جلال
الديـن حقانـي او حاجـي محمـد ابراهيـم حقانـي پـه رهبـری علمـاوو، قومـي مشـرانو او
مخـورو سـترې غونـډې وکـړې او د هغـو پـر خلاف يـې سياسـي او جهـادي حرکتونـه
پيل کړل.
کمونسـتي کړيـو يـې د مشـرانو ورونـو د تـرور هڅـه وکـړه؛ خـو ناکامـه او د

چاپې پر مهال د یو ځانګړي تاکتیك او ولس د همکارۍ له مخې خوندي سیمې ته ولېږدول شول. کورنۍ یې د شمل درې، ګروېي غره ته پنا یووړه؛ خو کمونستانو هلته هم پرې د ژوند کړۍ تنګه او له (۱۵) ورځنۍ محاصره وروسته هجرت ته اړ کړل.

الحاج خلیل الرحمن حقاني له خپلې کورنۍ سره له پنځه ورځني پلي مزل وروسته په (۱۳۵٤) لمریز کال کې د کوزې پښتونخوا شمالي وزیرستان، داتاخېلو او له هغه ځایه میرانشاه ته هجرت وکړ. د خپلې کورنۍ د غړو په ځانګړي توګه مولوي جلال الدین حقاني سره یې د کمونستانو، شورویانو پر ضد د جهاد سنګرونه داسې ګرم ساتلي، چې د ملګرو په وینا یې: د خورا سخت جنګ پر وخت به د حقاني صاحب غږ پر همده و.

له امریکا او ناټو سره د بې سیاله مبارزې او جهاد پر مهال د لښکر په سر کې درېده او د دې مبارزې په جریان کې په (۲۰۰۳) زېږدیز، ډسمبر په (۱۵مه) نېټه د امریکایي او پاکستاني ګډو ځواکونو په عملیاتو کې ژوندی ونیول شو، وروسته یې پرې تور پورې کړ، چې ګنې پوځي دیکتاتور جنرال مشرف ته یې بم ایښی؛ خو تر څلور کلن ربړوونکي زندان وروسته دویم ځلي په پېښور کې بیا شاوخوا یوه میاشت زنداني شو.

په (۲۰۰۹) زېږدیز کال کې یې ملګرو ملتونو په تورلېست کې د شاملېدو وړاندیز وکړ، چې (۲۰۱۱) زېږدیز- فبرورۍ (۹مه) نېټه د امریکا خزانې وزارت د (۱۳۲۲٤) ګڼې فرمان له مخې په تورلېست کې شامل او پر سر یې پنځه میلیون ډالري جایزه اعلان کړه. خو شهید حقاني یې پروا ونه ساتله او د نیواك پر ضد یې خپلې مبارزې ته تر هغه دوام ورکړ، چې د امریکا وروستی عسکر له افغانستان څخه وشړل شو.

د حاجي خلیل الرحمن حقاني د سوبې او بریا پرېمانه کیسې د ده د سنګر د ملګرو په سینو کې پرتې دي، چې له بریا پرته د ماتې کومه بېلګه نه په کې لیدل کېږي.

### ۳ په جرګو، مرکو کې ونډه

شهید حاجي خلیل الرحمن حقاني په ولسي پوهه، قومي درایت او شخړو اواري کې د خپلې کورنۍ له مشرانو دومره زده کړه او تجربه ترلاسه کړې وه، چې د ډېرو لوړو زده کړو څښتنان پسې نشوای رسېدلی. د دوی نیکه قومي مشر و، له مړینې وروسته یې کاکا (ګل محمد خان) ته د مشرۍ پګړۍ ور پر سر کړې وه.

له لوی مصلح ستر غازي مولوي جلال الدین حقاني (رحمه الله) سره خو یې په جرګو، مرکو کې خپله ناسته ولاړه او ولسي، قومي ربړو اوارولو کې تولې

ستومانې ګاللې وې. نـه یـوازې پـه لویـه پکتیـا کـې د قومـي شـخړو اواري کـې برخـوال او مهـم نقـش درلـود ؛ بلکـې د هېوادنیـو مسـایلو پـه حـل و فصـل کـې مخکښ او فعال پاتې شو.

حاجـي خلیـل الرحمـن حقانـي د کورنیـو جګـړو پـر مهال د حقانـي صاحـب (رحمـه الله) ترڅنـګ د جګـړې لـه بېلابېلـو لـورو سـره د سـولې او جوړجـاړي پـه برخـه کـې نـه هېرېدونکـې هڅـې او پـر سـرو اورونـو د خیـر اوبـه تویـې کـړې دي. کـه څوک د جرګـو او مرکـو پـه اړه خبـرې کـوي، یـا پـه دې برخـه کـې د مصلـح پـه توګـه ګام پورتـه کـوي؛ حتمـاً بـه د شـهید خلیـل الرحمـن حقانـي لـه کارنامـو خبـر او د هغه له تجربو ګټه پورته کوي.

۴ خویونه، مهارتونه

شـهید حاجـي خلیـل الرحمـن حقانـي د تقـوا، صبـر، زغـم او جرئـت څلـی و. د ده پـه شـخصیت کـې د نرمـۍ او جدیـت بـې سـارې ترکیـب لیـدل کېـده، لـه ارمنـو سـره بـه مرسـتې تـه سـخت لېوالـه، سـپینه او غوڅـه خبـره بـه یـې همېـش پـر خولـه وه؛ پـه نظامي چارو کې ډېر باتجربه او مخکښ و.

د شـورویانو د یرغـل پـر مهال د جګـړییز مهارت او زړورتیـا پـه اړه یـې مصـري لیکـوال او خبریـال مصطفـی حامـد، چـې هغـه مهـال یـې شـهید حقانـي لـه نـږدې لیدلـی، پـه خپـل کتـاب «د نـرۍ پربـام» کـې کاږي: خلیـل الرحمـن حقانـي د ټانـک پـه وسـیله پـه نښـه ویشـتلو کـې بـې سـارې ماهـر او د دوښـمن د لومړیـو جنګـي کرښـو ماتوونکـی زړور مجاهـد و. د نومـوړي نـه یـوازې ټانـک چلـول زده او پـه نښـه ویشـتلو کې مشهور و؛ بلکې په تخنیك او جوړېدو یې هم ښه پوهېده.

الحـاج حقانـي زړه سـواندی، خاکسـاره، د بېوزلـو او یتیمـو لاس نیوونکـی و، د خپلـې خولـې مـړی یـې لـه بـل سـره دوه نیمـه کولـه، پـه ارمنـو بـه یـې چـې پیسـې وېشـلې، کـه بـه جیب کـې ورسـره پاتـې نـه وې، لـه بـل بـه یـې ورتـه پورولې. خـورا مشـفق، پـر ماشـومانو مهربـان او د هغـو د نـاز و بـازار قـدر ورسـره و. د جرګـو او مرکـو دې نومیالـي او سـوله خوښـوونکي د هېـواد د قومونـو ترمنـځ د یووالـي لپـاره شـپه ورځ پر ځان یوه کړې وه او د جګړې اور یې په جرګو واژه.

د پراخـه سـینې، پـوره زغـم، بشـپړې ژمنتیـا او ژور دیـد پـه لرلـو سـره الله تعالـی پـر ده او کورنـۍ لـه مشـره تـر کشـره بـل تـه د ښښـنې داسـې غـوره خـوی لورولـی و، چـې هـر څـوك ورتـه ګوتـه پـر غـاښ وو. حاجـي خلیـل الرحمـن حقانـي بـه چـې د حقانـي صاحـب (رحمـه الله) پـه څېـر پـه مخامـخ جګـړه کـې دوښـمن ونیـو، د واره بـه یـې ورتـه د عفـوې غېـږ خلاصـه او د ښښـنې ډاډ ورکـړ، ورتـه ویـل بـه یـې: تـه نـور خونـدي یې. نـه یـوازې جامـې او پیسـې بـه یـې ورکـړې، بلکـې د خطـر لـه ځایونـو بـه یـې د خپلـو مجاهدینـو پـه وسـیله تېـراوه، چـې ډېـری بـه بیـا لـه ښـه چلنـد نـه پـه اغېـز، نـه

یوازې خپلې کورنۍ ته ستنېدل نه، بلکې په سختو جګړو کې یې ترځنګ پاتېدل.
نوموړي هېڅکله، د کوم مسوولیت پر مهال په کوم ځای کې څوک له خپلې دروازې ناهیلي نه دي ځواب کړي، د ستونزې تر حل پورې یې ورسره مندې، تررې وهلې او لاسنیوی یې کاوه. د ژوند په وروستیو کې که څه هم د کډوالو او بېرته راستېدونکو وزیر و؛ خو ولس ته د خدمت په لېونۍ مینې سره یې د تولنې د هر پوړ وګړو پر مخ د دفتر دوازه پرانیستې ساتلې وه او تر هغې به کور ته نه تلو، چې د وروستي کس غوښتنلیك به یې لاسلیك کړی نه و.
حقیقت کې د ولس دې خدمتګار د خپل ولس منځ کې ځان خوښ او د ستونزو د حل پر مهال باسکون احساساوه.
د الحاج خلیل الرحمن حقاني غوره خوی که مهارت وبولو، دا و چې ژر به یې اړیکې جوړولای، ان پالای او ساتلای هم شوی. د مقابل لوري په نظامي او سیاسي کړیو کې به یې داسې اړیکې جوړولې، چې د دوښمن له مهمو برنامو مخکې له مخکې خبر او مقابلې ته چمتو کېده.
شهید حقاني د اسلامي امارت په بیا واکمنېدو سره د هغه مهال کندهار او اوسني مزارشریف له والي محترم حاجي وفا سره په همغږۍ او بې سارو هڅو وتوانېد، د کندهار په کډون ننګرهار، کونړ او څو نور ولایتونه د مخکني حکومت له چارواکو سره د منظمو تماسونو او اړیکو له مخې تسلیم او د واك لېږد په سپارلو سره د جګړې او ویجاړۍ مخه ډب کړه. دغسې یې د تېر نظام لوړ پوړو چارواکو ته د خوندیتابه په داډ ورکولو سره د هر یو کور ته د تګ ستړیا وګاله.

### ۴ مسوولیتونه

حاجي خلیل الرحمن حقاني له تاندې ځوانۍ د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې بې شمېره مسولیتونو ته اوږه ورکړې، ځینې یې دا دي:
- د هجرت په دیار کې د مجاهدینو د روزنیزو جهادي برنامو مسوولیت او د افغان کډوالو د ستونزو د حل کمېټې مشري. دغسې د هجرت په دیار کې یې د سیاسي مخالفینو، د مصلحینو شورا مسوولیت پر غاړه درلود.
- د شهید سلیمان شاه زغروال غونډ عمومي مسوول.
- په خوست، پکتیا، پکتیکا، غزني، لوګر او جلال اباد کې خپل مجاهدین رهبري کول.
- د خوست، پکتیا په فتحو کې د اووه تنظیمونو نظامي مسوول.
- د ډاکټر نجیب الله د حکومت د واکمنۍ پر مهال د مجاهدینو سرتاسري شورا غړیتوب.

•د کورنیو جګړو پر مهال د ستونزو د حل لپاره د اصلاحي شورا غړیتوب، چې د حایل قوت نظامي او سیاسي مسوول و.
•له صبغت الله مجددي څخه برهان الدین رباني ته د قدرت لېږد او امریکا له دفاع وزیر او پلاوي سره د اووه تنظیمونو په ناسته کې د خپل تنظیم مشري.
•په حل و عقد شورا کې د پکتیا ولایت د قومونو استازیتوب.
•د شوروي ښکېلاك له ماتې او افغان جهاد تر بریا وروسته د جهادي مشرانو تر منځ د اختلافاتو له منځه وړلو لپاره د کعبې شریفي امام په مشرۍ رامنځته شوې شورا غړیتوب.
• د اسلامي امارت په لومړۍ دوره کې د جمهوري ګارډ او خواجه رواش هوایي ډګر مسوول او شمال جبهو د مجاهدینو د محاذ قوماندان، چې د ثور له کودتاه وروسته په ۱٤ کلن جهاد کې یې هم د مجاهدینو د یوه محاذ قوماندانۍ کړې ده.
•د امریکایي تیري پر مهال د مجاهدینو د یوې ډلې قوماندانۍ او د ښکېلاك تر ماتې وروسته د کابل اداري له چارواکو سره په سوله ییزډول د نظامي تجهیزاتو د تسلیمۍ او وینې تویېدنې مخنیوي په برخه کې د اړیکو جوړونکی او قایمونکی.
دغسې یې وخت ناوخت د مشر حقاني صاحب (رحمه الله) د کفالت مسوولیت ته اوږه ورکړې، په ډېرو سیاسي او نظامي غونډو کې یې د هغه په استازیتوب برخه اخیستې او د اسلامي امارت بیا ځلې واکمنۍ سره د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو چارسمبالی وزیر و.
نوموړي په (۱٤۰۲) کال کې د پاکستان له لوري په جبري توګه را ایستل شوي په سلګونو زره افغان کډوال ښه مدیریت او په خپلو اصلي مېنو کې مېشت کړل. په خپله دې کلنه کاري موده کې یې د ګڼو بېرته راستنو شویو هېوادوالو لاسنیوی او د ستونزو د حل په موخه له هېواده بهر سعودي عربستان، متحده عربي اماراتو، پاکستان او ایران ته سفرونه وکړل.

## ۴ فرهنګي هڅې

حاجي خلیل الرحمن حقاني ته له کتاب او رسنیو سره مینه له کورنۍ په میراث پاتې وه. دې کورنۍ که څه هم فرهنګیان کم، خو فرهنګپال ډېر زیږولي او د جهادي تاریخ په خوندي کولو کې یې د سر قطار حیثیت لرلی دی.
د ده د فرهنګي هڅو له برکته د ارواښاد مولوي محمد یونس خالص په مشرۍ (د اسلامي حزب شهیدانو د ژوندلیکونو) او امریکا د یرغل په مقابل کې د یو شمېر نوموتو شهیدانو د مبارزو او کارنامو خاکې چمتو شوې، چې تمه ده د خپلو خاطرو او یادښتو په کډون به یې له چاپ راووځي.

لـه راډیـو او ټلویزیـون خبرونـه اورېـدل، سیاسـي بحثونـه کتـل، ورځپاڼـې، مجلـې لوسـتل، لـه لیکوالـو سـره د کتابونـو د چـاپ پـه برخـه کـې مرسـته او ځینـو کتابتونونـو تـه پـه خپلـو پیسـو کتابونـه هدیـه کـول یـې د فرهنګـي ودې او شـعور غوړېدا او کلکـې ژمنتیـا څرګنـدوی بلـل کېدای شـي. رسـنیو تـه یـې د خپلـو فعالیتونـو رپوټونـه ورکـول، وخـت ناوخـت یـې لـه هغـوی سـره ځانګـړې مرکـې او ولایتونـو تـه د کاري سـفرونو پـر مهـال نـه یـوازې د هغـو اسـتازي (خبریالان) ځـان سـره ملګـري کـول؛ بلکـې مینـه بـه یـې ورکولـه او د ډوډۍ خوړلـو پـر مهال یـې پر یـو دسـترخوان ترځنـګ کېنـول او مجلـس بـه یـې ورسـره کاوه.

خـوارج پـه هـر دور کـې د امـت د زخمونـو تـازه کوونکـي پاتـې شـوي دي؛ ظاهـراً د دیـن جامـه اغونـدي، خـو باطـن یـې د تـورو سیورو ډک وي. د دوی زړونـه د قسـاوت ډېـرې دي او د مسـلمان وینـه ورتـه د اوبـو د څاڅکـي ارزښـت هـم نـه لـري. علمـاو ویلـي چـې د خوارجـو نښـه دا ده چـې د حـق لـه نرمـو ارخونـو تښـتي، خـو د مسـلمان پـه خلاف خپلـه تـوره تېـزه سـاتي. دوی تـل د امـت پـه بـدن هغـه خنجـر وهلـی چـې د دښـمنانو لپاره یې لار هواره کړې ده. دوی امت د یو بل اتل د ویر په ټغر کېښناوه.

### ۴ شهادت

بالاخـره د اسلامـي امـت دغـه سـتره هسـتي، د متحـده آیالاتـو پـه تـور لېسـت کـې شـامل؛ مومـن مجاهـد، هغـه مجاهـد چـې پـر سـر یـې ملیونونـه ډالـر انعـام ايښـودل شـوی و، د دوو انقلابونـو پـه جریـان کـې چـا پـر کفـارو خـرخ نـه کـړ، مګـر د اسلام سرسـخته دوښـمنانو؛ خوارجـو داعشـيانو د خپـل بـادار شـروع کـړی، پـه نیمایـي کـې پاتـې شـوی کـار، پـای تـه ورسـاوه. پـه (۱۴۰۳) لمریـز کال د لینـدۍ میاشـتې پـه (۲۱ مـه) نېټـه، شـهید الحـاج خلیـل الرحمـن حقانـي د کډوالـو بېرتـه راستنېدونکو چارو وزارت پـه داخـل کـې د ماسپښـین یـوه نیمـه بجـه دواعشـو پـه یوه ځانمرګي برید کې په شهادت ورساوه. (نحسبه کذالك والله حسیبه)

جنـازه یـې د لینـدۍ پـر (۲۲مـه) نېټـه، د پنجشـنبې پـه ورځ پخپـل پلرنـي ټاټوبـي کـې، د پرتمینـو مراسـمو پـه تـرڅ کـې ترسـره او د زرغـون روغـه پـه نـوې هدیـره کې خاورو ته وسپارل شوه. (پر ګور یې نور)

### اې د اسلام ستره شهیده !

تـه بریالـی وې او بریالـی لاړې، تـا د اسلام پـه تاریـخ کـې د ننـګ او میړانـې کارنامـې د خپـل وجـود پـه وینـو ثبـت کـړې او تـه د هغـه زیـري برخـه وګرځېدې چـې پیغمبـر صلـی الله علیـه والـه وسـلم پـه خپلـه ورکـړی او ویلـي یـې دي، چـې زیـری دی، د هغـه

چـا لپـاره چـې خـوارج يـې ووژل او يـا د خوارجـو لـه لـوري شـهيد کـړای شـو، شـهادت لـوی نعمـت دی، چـې د بختـورو انسـانانو پـه نصيـب او قسـمت کـرځـي. تـا ژونـد د اسلام د مقـدس ديـن دفـاع تـه ځانکـړی کـړی و، تـه اوس نـه، بلکـې لـه مخکـې شـهيد شـوی وې، هسـې د دغـې لـوړې درجـې لپـاره د ځمکـې پرمـخ کرځېـدې. بختـور شـهيده، تـه د داسـې چـا لـه لـوري پـه شـهادت ورسـېدې، چـې د نبـي کـريـم صلـی الله عليـه والـه وسـلم د ځنـګ ملګـری حضـرت عثمـان رضـی الله تعالـی عنـه يـې د قـران کـريـم د تلاوت پـر محـال شـهيد کـړ او وينـې يـې د سـپيڅلې کتـاب پـر پاڼو توی شوې.

تـه اعلـی شـهيد يـې، داسـې شـهيد چـې مقـام دې ډيـر لـوړ دی، اې د الله ج لـه نعمتـونو برخمنـه شـهيده ! مـوږ دې لاره تعقيبـوو، ژونـد او مـرګ مـو سـتا پـر مسـير پـه سـر او سترګو قبول کړی دی.

# دويم فصل
# د اسد ۲٤مه

# ازادي او استقلال؛ د اسلام له نظره

سیف الدین

ازادي او استقلال د انسان له ترټولو لرغونو او سپېڅلو هیلو څخه ده. هر ملت او هر فرد غواړي چې د خپلې ارادې خاوند وي او د بل چا تر بندګۍ، ذلت او استبداد لاندې ژوند ونه کړي. خو دا پوښتنه چې "ریښتینې ازادي څه ده؟" او "استقلال باید د کومو حدودو پورې منحصر وي؟" د بېلابېلو تمدنونو او مکتبونو ترمنځ بېلابېل ځوابونه لري. اسلام د دې مسئلې لپاره یو بشپړ، متوازن او الهي چوکاټ وړاندې کوي؛ داسې چوکاټ چې نه یوازې د بهرنیو ښکېلاکګرو او ظالمانو له تسلطه د خلاصون په مانا دی، بلکې له هغې هم پراخ د انسان د باطن، عقیدې او ټولنیز ژوند بشپړ خلاصون دی.

په دې لیکنه کې به هڅه وشي چې د اسلام له نظره د ازادۍ او استقلال مفهوم په څو مهمو اساسي محورونو کې تحلیل شي:

- د عقیدې او فکر ازادي
- فردي ازادي یا بشري کرامت
- سیاسي او د خاورې ازادي
- او د اسلام له نظره د ازادۍ حدود

## د ازادۍ او استقلال لغوي او شرعي مانا

په عربي ژبه کې د "حریّت" کلمه د "عبودیت" (بندګۍ) عکس راځي یعنې دا چې انسان د بل چا لخوا یرغمل او د هغه مملوك نه وي. "استقلال" د "قَلّ" له مادې څخه اخیستل شوی، چې مانا یې خپلواکي، بې‌نیازي او پر خپلو پښو ولاړېدل دي؛ په دې مانا چې یو ملت یا حکومت د بل چا تر لاسنیوي، تسلط او امر لاندې نه وي. خو په شرعي اصطلاح کې دا دواړه کلمې د لوېدیځ مادي فکر په څېر مطلقې نه دي، بلکې د الله تعالی له حاکمیت سره تړلې دي: انسان هغه مهال ریښتینی ازاد بلل کېږي چې یوازې د الله تعالی بندګي وکړي؛ او یو ملت هغه وخت ریښتینی خپلواك ګڼل کېږي چې خپلې ټولې چارې د الهي شریعت پر بنسټ تنظیم کړي، نه د بل چا د ارادې او غوښتنو له مخې.

لومړی محور: د عقیدې او فکر ازادي

اسلام د ازادۍ مفهوم له عقیدې څخه پیلوي. اصلي او ریښتینې ازادي دا ده چې انسان د مخلوق له هر ډول بندګۍ، وېرې او تسلطه ووځي او یوازې د یو الله تعالی بنده جوړ شي. قرآن کریم کې الله تعالی فرمایي:
{لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ فَمَن يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ لَا انفِصَامَ لَهَا}، [سورت البقرة: ٢٥٦]
ژباړه: د دین په قبلولو کې هیڅ جبر او کراهیت نشته، په تحقیق سره حق او سمه لار د ګمراهۍ او باطل نه روښانه شوې ده، نو څوک چې منکر شي د شیطان او د غیر الله د عبادت نه او پر الله ایمان راوړي، بې له شکه هغه په داسې ټینګه او مضبوطه رسۍ منګولې خښې کړې چې هېڅ نه شلېږي.
په دې مبارك ایت کې له "طاغوت" څخه منکر کېدل یعنې د هر خپلسري او ظالم قدرت ردول؛ پر الله تعالی له ایمان سره یوځای یاد شوی دی. دا اصل ښیي چې ریښتینې ازادي د باطلو او طاغوتي حکومتونو او ظالمانه تسلط له بنده په خلاصون کې ده، او دا خلاصون یوازې د الله تعالی په بې‌ساري عبودیت او بندګۍ تمثیلېږي، نه په بې‌مسؤولیته او مطلق العنان خپلسرۍ سره.

د دغه حقیقت له ټولو په زړه پورې او درنه بېلګه د جلیل القدر صحابي ربعي بن عامر رضی الله عنه هغه تاریخي وینا ده چې د قادسیې په جګړه کې یې د فارس سپه سالار "رستم" ته وکړه. کله چې ترې وپوښتل شول: تاسې د څه لپاره راغلي یاست؟ نو ویې فرمایل: (اللَّهُ ابْتَعَثَنَا لِنُخْرِجَ مَنْ شَاءَ مِنْ عِبَادَةِ الْعِبَادِ إِلَى عِبَادَةِ اللَّهِ، وَمِنْ ضِيقِ الدُّنْيَا إِلَى سَعَتِهَا، وَمِنْ جَوْرِ الْأَدْيَانِ إِلَى عَدْلِ الْإِسْلَامِ فَأَرْسَلَنَا بِدِينِهِ إِلَى خَلْقِهِ لِنَدْعُوَهُمْ إِلَيْهِ، فَمَنْ قَبِلَ ذَلِكَ قَبِلْنَا مِنْهُ وَرَجَعْنَا عَنْهُ، وَمَنْ أَبَى قَاتَلْنَاهُ حَتَّى نَفِيءَ إِلَى مَوْعُودِ اللَّهِ...) [رواه الطبري في التاريخ: 2/401]
ژباړه: الله تعالی موږ را استولي یو، ترڅو له بنده ګانو هر هغه څوك چې غواړي، د مخلوق له بندګۍ د الله بندګۍ ته، د نړۍ له تنګستیا څخه د هغې بې‌پایه پراخوالي ته، او د باطلو ادیانو له ستمه د اسلام بې‌دریغه عدل ته راوباسو. نو موږ یې د خپل مخلوق پر لور په خپل دین سره رالېږلي یو ترڅو هغوی دغه دین ته رادعوت کړو؛ نو چا چې دا دعوت ومانه، موږ یې ترې منو او ترې ستنېږو (جګړه ورسره نه کوو)، او چا چې انکار وکړ، تر هغې ورسره جنګېږو ترڅو د الله تعالی وعدې (بریا یا شهادت) ته ورسېږو.
دا غوڅ ځواب د اسلامي فتوحاتو او دعوت اصلي روح روښانه کوي چې هدف د ځمکو نیول او د خاورې استعمار نه و، بلکې د مخلوق له بندګۍ څخه د الله د توحید لورې ته د انسانانو د زړونو ازادول وو. له همدې کبله، هر هغه سیاسي یا ټولنیز نظام چې انسان د بل انسان غلام او مطلق تابعدار ګرځوي؛ که د

پاچا، قوم، حزب یا هر بل ځواك په نامه وي، د اسلام له نظره د حقیقي ازادۍ د روح ضد او متضاد ګڼل کېږي.

دویم محور: شخصي حریت یا انساني کرامت
اسلام انسان ته، بې له دې چې نژاد، رنګ، ژبې یا ټولنیز مقام ته یې وکتل شي، یو ځانګړی مقام او درناوی ورېښلی دی. قرآن کریم کې الله تعالی فرمایي:
{وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ}، [سورة الإسراء: ۷۰]
ژباړه: او په تحقیق سره موږ انسان ته کرامت ورېښلی دی.
همدا غوځ اصل و چې د اسلامي تمدن پر مهال یې د رقیت او مریيتوب په وړاندې پراخه اخلاقي او فقهي کړنلاره رامنځته کړه؛ له همدې امله د مریيانو ازادول د لوی ثواب کار او د زښتو ډېرو ګناهونو د کفارې یوه بڼه وګرځېده.
په دې اړه امیر المؤمنین عمر بن خطاب رضی الله عنه ته یوه منسوب شوې وینا هم په تاریخي آثارو کې راغلې ده، چې نوموړی فرمایي: (مَتَى اسْتَعْبَدْتُمُ النَّاسَ وَقَدْ وَلَدَتْهُمْ أُمَّهَاتُهُمْ أَحْرَارًا؟)، [كتاب الولاية على البلدان]
ژباړه: تاسې کله او څنګه خلك د ځان غلامان کړل، حال دا چې میندو ازاد زېږولي وو؟
که څه هم د محدثینو ترمنځ، د دې کیسې د سند په باب علمي بحثونه شته او باید د یوه مشهور اثر په توګه یاده شي، نه د مستند او صحیح روایت په بڼه؛ خو بیا هم د دې وینا ژور مفهوم د قرآن او سنت له عمومي اصولو سره پوره سمون لري او د تاریخ په اوږدو کې یې د انساني کرامت او ازادۍ په غني کولو کې پراخ ملاتړ موندلی دی.
البته په اسلام کې د عقیدې او فکر ازادي او یا شخصي ازادي په دې مانا نه ده چې انسان کولای شي هر څه د خپل مزاج او هوس له مخې ترسره کړي، بلکې ازادي په هره برخه کې تل د شریعت له حدودو سره تړلې ده، لکه څنګه چې وروسته بحثونو کې دېته اشاره شوې ده.

درېیم محور: سیاسي او د مسکن ازادي
اسلام یوازې پر عقیدوي او فردي ازادۍ نه محدودېږي، بلکې د امت او خاورې خپلواکي او ځمکنۍ بشپړتیا هم د شریعت له مهمو اساسي مقاصدو څخه ګڼل کېږي. کله چې یو بهرنی یرغلګر ځواك پر یوه اسلامي خاوره تېری وکړي، نو له دغې خاورې څخه دفاع او د خارجي یرغلګرو پر وړاندې مقاومت چې فقهاء یې "جهاد الدفع" بولي؛ د همدې خاورې پر ټولو وګړو فرضِ عین

کړځي. قرآن کريم فرمايي:
{وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلَّهِ}، [سورة البقرة: ۱۹۳]
ژباړ: او له هغوی سره تر هغې وجنګېږئ چې فتنه (کفر، شرك او ظلم) پاتې نه شي او دين ټول يوازې د الله تعالی لپاره شي.
او همداراز ارشاد فرمايي:
{وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ}، [سورة النساء: ۷۵]
ژباړه: آخر څه دليل دی، چې تاسې د الله په لاره کې د هغو بېوسو نارينه، ښځو او ماشومانو په خاطر نه جنګېږئ، چې کمزوري کړای شوي دي؟
د اسلامي فقهي نامتو علماوو، لکه امام ابن تيميه رحمه الله او يو شمېر نورو، پر دې اصل ټينګار کړی چې د دفاعي جهاد (د بهرني يرغلګر پر وړاندې د خاورې، عزت او دين ساتنې) حکم تر نورو فرضي عبادتونو مقدم دی؛ ځکه د دين، ځان، مال او خاورې له خونديتوب پرته نور ديني لومړيتوبونه نه شي پلي کېدای.
له همدې کبله، د اسلام تاريخ له هغو افتخارمنو مقاومتي غورځنګونو ډك دی چې مسلمانانو د بهرنيو استعمارګرو پر ضد پر مخ وړي دي. د افغانستان تاريخ د دې غوڅ واقعيت يوه روښانه بېلګه ده؛ افغانانو په خپل تاريخ کې تل د بهرني استبداد او يرغل پر وړاندې خپله حماسي ازادي خوندي ساتلې ده؛ د دوی په غيرتي او ايماني کارنامو کې د درېيو مغرورو امپراتوريو پر وړاندې د متصلو نسلونو نه ماتېدونکی عروج يوه ستره فتحه يادېږي.
د دغې ايماني خاورې باجرأته مشرانو د انګرېزانو او افغانانو په درېواړه تاريخي جګړو (۱۸۳۹–۱۹۱۹ ز) کې د مقدس دين او هېواد په ننګ د بريتانوي استعمار پر وړاندې تاريخساز مقاومت وکړ، چې پايله يې د ۱۲۹۸ لمريز کال د اسد په ۲۸مه (د ۱۹۱۹ زېږديز کال د اګست ۱۸مه) د بشپړ سياسي او ډيپلوماټيك استقلال له پرتمين اعلان سره ثمر ته ورسېده. څه موده وروسته، کله چې د کمونيزم بلاك پر دغې خاورې هجوم راوړ، د همدغو باشهامته پلرونو زامنو هم د خپلو پلرونو په لار د لس کلن جهاد او مقاومت (۱۹۷۹–۱۹۸۹ ز / ۱۳۵۸–۱۳۶۷ لمريز) په ترڅ کې خپله قرباني ورکړه او د ۱۳۶۷ لمريز کال د دلوې په ۲۶مه (د ۱۹۸۹ زېږديز کال د فبرورۍ ۱۵مه) يې د شوروي اتحاد مغرور ځواکونه له هېواد څخه تېښتې ته مجبور کړل.
په وروستي او خورا هېښوونکي فصل کې، د دې خاورې باهمته لمسيانو د عصر د تر ټولو لوی نظامي ائتلاف او امريکايي استعمار پر وړاندې د دوو لسيزو (۲۰۰۱–۲۰۲۱ ز) حماسي لاره تعقيب کړه. په دې دوو سختو لسيزو کې، د

افغانستان اسلامي امارت په خورا لوړ ایماني عزم، بې‌ساري قرباني او مدبرانه قیادت سره دا مبارزه رهبري کړه؛ هغوی د هر ډول پرمختللو نظامي ټیکنالوژیو او زور زیاتي پر وړاندې د ولس او مجاهدینو ترمنځ نه شلېدونکی یووالی او تر ټولو منظم سیاسي-نظامي نظم قایم کړ، چې د خپلو بې‌ساریو قربانیو، تقوا او بې‌دریغه مېړاني په برکت یې یوه نوې معجزه رامنځته کړه. دغه مبینه فتحه او زړوره بریا د ۱۴۰۰ لمریز کال د اسد په ۲٤مه (د ۲۰۲۱ زېږدیز کال د اګست ۱۵مه) د کابل پر بیا نیولو او د امریکایي اشغال په بشپړه توګه په ماتولو پای ته ورسېده.

د افغانستان اسلامي امارت دا ویاړمنه ورځ (د اسد ۲٤مه) د بې‌ساري غرور، ازادۍ او اسلامي خپلواکۍ د نوي تمثیل په توګه نمانځي. که څه هم د دغو درېیو تاریخي بریاوو سیاق او شرایط توپیر لري، خو دا بې‌ساري اتلولۍ د تاریخ د یوه نه شلېدونکي زنځیر درې په زړه پورې حلقې دي؛ یو داسې زرین بهیر چې له نیکونو او پلرونو تر اوسنیو لمسیانو او د افغانستان د اسلامي امارت پورې دا روښانه حقیقت ثابتوي، چې د افغانستان غیور ملت د استقلال بېرغ تل لوړ، څپاند او سربلند ساتلی دی.

څلورم محور: د اسلام له نظره د ازادۍ حدود

د اسلامي فکر او لوېدیځ لیبرال فکر ترمنځ بېلونکې کرښه د ازادۍ په پېژندلو کې ده. ځکه چې اسلام د ازادۍ لپاره خپل حدود لري او د لوېدیځ په مفکوره کې ازادي د یو فرد مطلق العنان خپلسرۍ ته ویل کېږي چې انسان په خپل ژوند، بدن، عقیده، او اخلاقو کې هرڅه کولی شي، که څه هم د شریعت پولې پکې لمنځه وړل کېږي. خو اسلام دا مفهوم په بشپړ ډول ردوي چې ازادي دې بې‌حده او بې‌قانونه وي. ځکه ازادي هم، لکه د بل هر حق په څېر، له مسؤولیت سره تړلې ده او انسان د الله تعالی بنده دی، نو د هغه حریت د الهي شریعت له چوکاټ او ایماني مسؤلیته بهر نه شي وتلی، چا چې د خپلې خوښې واک ترلاسه کړ، پر غاړه یې د عدل، امانتدارۍ او د نورو د حقونو د ساتنې درنه دنده هم ورلوېږي. له عدل او شرعي احکامو پرته ازادي د اسلام له نظره محض فتنه ده، نه ریښتینې ازادي.

همدا محکمه قاعده د سیاسي حکومتدارۍ په برخه کې هم پلي کېږي؛ ځکه په اسلام کې استقلال یوازې دا نه دی چې بهرنی یرغلګر له خاورې وایستل شي، بلکې دنده د الهي عدل قایمول، د شرعي احکامو پلي کول، امر بالمعروف او نهي عن المنکر، د ټولنیز شر او فساد جرړې ایستل او د عامو

مسلمانانو لـه شـرعي حقوقـو سـاتنه دا تـول د ریښتیني استقلال لـه لازمـي او نـه جلا کېدونکـو برخـو څخـه دي. قـرآن کریـم هـم واکمنانـو تـه د عـدل او امانـت د سـپارلو پـه اړه فرمایلـي دي: {إِنَّ اللَّـهَ يَأْمُرُكُـمْ أَن تُـؤَدُّوا الْأَمَانَـاتِ إِلَـىٰ أَهْلِهَـا وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ}، [النساء: ۵۸]

ژباړه: مسـلمانانو ! الله تعالـی تاسـې تـه امـر کـوي چـې امانتونـه د هغـو اهـل تـه وسپارئ، او کله چې د خلکو ترمنځ فیصله کوئ، په عدل یې وکړئ.

همدارنګـه د تمکیـن او اقتـدار پـه صـورت کـې د شـریعت د تطبیـق او لمانځـه د اقامـې پـه اړه فرمایـي: {الَّذِيـنَ إِن مَّكَّنَّاهُـمْ فِـي الْأَرْضِ أَقَامُـوا الصَّلَاةَ وَآتَـوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ}، [الحج: ٤١]

ژباړه: دا هغـه کسـان دي چـې کـه مـوږ پـه ځمکـه کـې واک ورکـړو؛ لمونـځ قایموي، زکات ورکوي، په نېکیو امر کوي او له بدیو منع کوي.

او تـر څنګ یـې د ټولنیـز امنیت او فساد د مخنیوي پـه اړه روښانه هدایت کـوي چـې: {وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الْأَرْضِ ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ}، [القصص: ۷۷]

ژباړه: او پـه ځمکـه کـې د فسـاد خپرولـو هڅـه مـه کـوه؛ ځکـه چـې الله تعالـی فساد کوونکي نه خوښوي.

نـو لـه دې څخـه معلومېږي چـې بشـپړ اسـتقلال دوه پیوسـته او نـه شـلېدونکي پیوندونـه لـري: لومړی د بهرنـي اشـغال نظامـي او فکـري ریښـې لمنځـه وړل، او دویم دننـه شـرعي حاکمیـت، عـدل او د منکراتـو محـوه کـول، او د طاغوتیانـو قوانیـن ختمـول، چـې کـه یـوازې بهرنـی یرغلګـر ووځـي خـو دننـه شـرعي احـکام او الهـي عـدل نـه وي پلـي شـوي، د طاغوتیانـو قوانیـن لمنځـه نـه وي وړل شـوي، نـو د اسلام لـه نظـره دغـه اسـتقلال نیمګـړی او لـه خپـل بشـپړ حقیقـي مفهـوم نـه لیـرې پاتـې کېږل کېږي.

پـه اوسـني عصـر کـې، د افغانسـتان اسلامـي امـارت د همدغـه متـوازن اسلامـي اسـتقلال، شـرعي حریـت او د اتلانـو د ژور تاریخـي زنځیـر ریښـتینی او یوازینـی استازی دی؛ ځکـه دغـه نظام وکـولای شـول چـې لـه یـوې خـوا د شـل کلـن معجـزه ایـز مقاومـت پـه تـرڅ کـې د بهرنـي اشـغال او ناټـو ائتلافـي ټغـر ټـول کـړي، او لـه بلـې خـوا دننـه پـه کـران هېـواد کـې د الهـي شـریعت نفـاذ، امنیـت، د فسـاد ورکـول او د خپلـواک اسلامـي حاکمیـت زریـن بېـرغ پـه پـوره حاکمیـت سـره سربلند وساتي.

# په افغانستان کې د صلیبي تاړاك اشر او وحشتونه

ساجد جلان

سریزه

افغانســتان د یویشــتمې پېړۍ په پیــل کــې یــو ځــل بیــا د بهرنیــو یرغلګــرو ځواکونــو د ظالمانــه تــاړاك پــه ډګــر بــدل شــو. د ۲۰۰۱م کال د ســپتمبر لــه یوولسـمې پېښـې را وروسـته، مغـرورې امریـکا د «ترهګـرۍ پـر ضـد جګـړې» تـر کاذب او دروغجـن شـعار لانـدې پـر مظلـوم افغـان ولـس بې‌بنیـاده پوځـي برید پیـل کـړ. د ۲۰۰۱م کال د اکتوبـر پـه اوومـه امریـکایـي متجاوزینـو او د هغـوی بریتانـوي متحدینـو پـر افغـان خـاوره وحشـیانه هوایـي بریدونـه پیـل کـړل او وروسـته د ناټـو کـې شمیر غربي هېوادونه هم د افغانستان په پوځي ماموریت کې شامل شول.

متجـاوزو بهرنیـو ځواکونـو کـه څـه هـم د خپلـو شـومو موخـو د پټولـو لپاره د امنیـت، د ښـځو د حقونـو او بیـا رغونـې دروغجـن او بې‌بنسـټه شـعارونه ورکـول، خـو پـه عمـل کـې د افغـان ولـس لپاره د دې شـل کلـن اشـغال او یرغـل بې‌رحمانـه پایلـه یـوازې غمیـزه، د کورونـو ورانېـدل او وینـې توئېدنـه وه. جګـړه اوږده شـوه، کلـي او ښـارونه د امریـکایـي اشـغالګرو ځواکونـو او د هغـوی د کورنیـو لاسـپوڅو د پوځـي مانورونـو پـه ډګـر بـدل شـول، چـې لـه املـه یـې بې‌ګنـاه عـام خلـك د بهرنیـو ځواکونـو د ړنـدو هوایـي بریدونـو، بربریـت لرونکـو شـپنیو عملیاتـو او د اشغالګرو د متجاوزو قطعاتو د چاپو ترمنځ بند پاتې شول.

امریـکا او د هغـوی صلیبـي متحدینـو پـر افغـان خـاوره د پوځـي تسـلط او یرغـل تـول بـار د افغانانـو پـر اوږو واچـوه او د کابـل اداري کوډاګیـو عسـکرو د پردیـو د ګټـو لپاره د خپـل ولـس پـر وړانـدې د یرغلګـرو تـر څنـګ پوځـي رول ولوبـاوه. خـو پـه ټولـه کـې د افغـان ولـس لپـاره د دې شـل کلنـې جګـړې انسـاني پایلـې بې‌سـارې درنـې وې. د ملګـرو ملتونـو د افغانسـتان مرسـتندویه پلاوي (UNAMA) د جګـړې د ملکـي قربانیانـو د ثبـت لپـاره منظـم راپورونـه خپـاره کـړي او پـه یـاده جګـړه کـې د متجاوز لوري د سرغړونو اسناد یې ثبت کړي دي.

دا مقالـه د دې تاریخـي او تـور پـړاو هغـو وحشـتونو، ناورینونـو او دردونـو تـه ځانګـړې شـوې ده، چـې زمـوږ مجاهـد افغـان ولـس د ۲۰ کلـن امریـکایـي اشـغال، د هغـوی د صلیبـي متحدینـو او کورنیـو لاسـپوڅو تـر جابرانـه او خونـړي سـیوري لانـدې زغملـي دي.

لومړی څپرکی؛

پر افغانستان د متجاوز امریکایي یرغل پیل:

د ۲۰۰۱م کال د سپتمبر ۱۱مه پېښه په امریکا کې رامنځته شوه. له دې پېښې وروسته، د امریکا استکباري حکومت القاعده مسؤله وبلله او له طالبانو یې د القاعدې د مشرانو سپارل وغوښتل، د هېڅ راز معتبرو اسنادو او بې‌طرفه څېړنو پرته یې پلمه جوړه کړه او پر افغانستان یې د پوځي یرغل مقدمات برابر کړل. امریکایي واکمنانو د سیاسي او ډیپلوماتیکو لارو پر ځای د استکبار، حاکمیت او ژورې دوښمنۍ له امله له منطق او خبرو اترو انکار وکړ او د افغان خاورې پر ضد یې له پوځي ځواک او متجاوزانه غوښتنو کار واخیست.

د اکتوبر په اوومه، امریکایي یرغلګرو او د هغوی صلیبي متحدینو د افغان مظلوم ولس پر بېلابېلو سیمو ظالمانه هوایي بریدونه پیل کړل. که څه هم بهرنیو متجاوزینو په پیل کې ادعا کوله چې دا بریدونه یوازې پر محدوده سیمه دي؛ خو په واقعیت کې په خورا بې‌رحمۍ سره زموږ کلي، کورونه او ملکي زېربناوې د اشغالګرو ځواکونو د پرمختللو او وژونکو وسلو لاندې محاصره شول او بې‌ګناه عام خلك پکې په شهادت ورسېدل.

وروسته صلیبي ټلوالې پر افغانستان خپل پوځي حضور پراخ کړ او په افغانستان کې یې شل کلنه خونړۍ او غیرانساني جګړه په افغان ولس وتپله. هغه جګړه چې په پیل کې د چټکو پوځي عملیاتو په توګه معرفي کېده، خو په تدریج سره یې د شلو کلونو د اوږدې جګړې بنه غوره کړه او افغانستان یو ځل بیا د بهرنیو متجاوزینو او د هغوی د داخلي لاسپوڅو د ګرمو جګړو په منځ کې واقع شو؛ چې تر ټولو درونده قیمت یې عام ولس پرې کړ.

دوهم څپرکی؛

هوایي بمبارۍ؛ د بهرنیو اشغالګرو له اسمانه راکوز شوی وحشت او مرګ!

د امریکایي یرغلګرو او د هغوی د متحدې ناټو د جنایتونو لویه او خونړۍ ځانګړنه د پرمختللو جنګي الوتکو، بې‌پیلوټه ډرونونو او بې‌رحمانه هوایي بمباریو پراخ او وحشیانه استعمال و. متجاوزینو او د هغوی کورنیو لاسپوڅو به د خپلو جرمونو د پټولو او توجیه لپاره دا عملیات په کذاب ډول «دقیق» بلل؛ خو د افغانستان په پېچلې جغرافیایي او کلیوالي چاپېریال کې د غلطو معلوماتو، ناسم هدف ټاکلو او استخباراتي تېروتنو پایله یې هره ورځ زموږ د بې‌ګناه هېوادوالو، مظلومو کلیوالو، ښځو او ماشومانو د بهرنیو الوتکو تر درنو بمباریو لاندې له خاورو او وینو سره خاورې کېدل وو.

د ګرانای بې‌رحمانه پېښه؛ فراه، ۲۰۰۹م کال

د ۲۰۰۹م کال د مۍ په میاشت کې د فراه ولایت د بالابلوك ولسوالۍ په ګرانای

سیمه کې د امریکایي هوایي بریدونو له امله د کن شمېر خلکو د وژل کېدو راپورونه ورکړل شول.
د دې ظالمانه جنایت د قربانیانو دقیق ابعاد پټ ول د اشغالګرو یو معمول وو؛ خو حقیقت دا دی چې په لسګونو بېګناه افغانان، چې زیاتره یې ماشومان او ښځې وې، د امریکایي الوتکو له خوا په ټوټه-ټوټه حالت کې په شهادت ورسېدل. د کابل له کوډاکۍ اداري نیولې تر بهرنیو متجاوزینو پورې؛ ټولو دا هڅه وکړه چې د افغان ولس دا خونړی داغ کم ښکاره کړي، خو دا پېښه د امریکایي اشغال په تاریخ کې د ملکي انسانانو پر وړاندې د هغوی د بشري جنایتونو یوه خورا بېرحمانه نمونه شوه.
د یوه کلي لپاره د اشغالګرو د داسې برید جابرانه معنا یوازې د یو څو کورونو ویجاړېدل نه وو؛ بلکې د لسګونو کورنیو په خاورو کېښېنول او د پلار، زوی، مور او ماشوم په زړه بوږنونکي ډول د لاسه ورکول وو. په دې ستر جنایت کې لسګونو افغان کورنیو په یوه شېبه کې خپله ټوله هستي او خپل نږدې عزیزان له لاسه ورکړل.

### د شینډنډ له وحشته ډکې فاجعې؛ هرات

د هرات ولایت په شینډنډ ولسوالۍ کې هم د ۲۰۰۸م کال د هوایي بریدونو په اړه د ملکي تلفاتو پراخ راپورونه خپاره شول. د قربانیانو د شمېر په اړه بېلابېل ارقام وړاندې شول، خو بهرنیو یرغلګرو او د هغوی کابل مېشتو لاسپوڅو ونشو کولای چې د دغو پېښو حقایق او د افغان شهیدانو دقیق ارقام مسخ کړي.
د داسې بېرحمانه پېښو تر ټولو دردناکه برخه دا وه چې د جګړې له اصلي میدان څخه لرې پراته خلك هم د مرګ له خطره خوندي نه وو. یو کلیوال به نه پوهېده چې د شپې د الوتکې غږ به د کوم کور لپاره د ژوند او مرګ ورروستی خبر وي.

### دربیم څپرکی

د کندوز د روغتون جنایتکارانه بمبارې؛ د انسانیت او طبي بې‌طرفۍ تر پښو لاندې کېدل
د ۲۰۱۵م کال د اکتوبر په دریمه، امریکایي اشغالګرو ځواکونو د کندوز ښار د «بېپولې ډاکټرانو» یا MSF پر روغتون وحشیانه هوایي برید وکړ. دا د افغانستان د جګړې له تر ټولو مشهورو او دردناکو پېښو څخه ده.
د بېپولې ډاکټرانو د راپورونو له مخې، متجاوزو امریکایي الوتکو د روغتون پر اصلي ودانۍ لږ تر لږه یو ساعت پرله‌پسې بېدرېغه بمبار وکړ؛ په داسې حال کې چې هلته عاجل ناروغان، بېوسه ټپیان او طبي کارکوونکي موجود وو. په دې وحشیانه برید کې ۴۲ بېګناه انسانان، چې طبي

کارکوونکي او ناروغان هم پکې شامل وو.
دا فاجعه ځکه ډېره دردناکه وه چې روغتون د جګړې د قربانیانو لپاره د ژوند ژغورلو تر ټولو خوندي ځای و. خو هغه ناروغان چې د درملنې لپاره روغتون ته رسېدلي وو، خپله د هوايي برید قربانیان شول.
د جګړې د قوانینو له مخې روغتونونه او طبي مرکزونه ځانګړی خوندیتوب لري، مګر د کندوز پېښې د نړۍ پام یو ځل بیا دې ته واړاوه چې امریکايي متجاوزینو له بې‌نظیره غرور او عاطفي نشتوالي څخه په استفادې حتا پر عاجلو طبي مرکزونو هم رحم ونکړ. نو ځکه خو یې د خپلې وحشیانه جګړې په ډګر کې حتا د ناروغانو او طبي کارکوونکو خوندیتوب هم له خطر سره مخ کړ. د امریکا جنایتکار حکومت وروسته د خپلو زړه بوږنونکو بې‌رحمیو د ختېه کولو لپاره دا روښانه بشري جنایت تشه «تېروتنه» وبلله، خو د قربانیانو کورنیو لپاره د تېروتنې یوې کلمې د دوی مړي بېرته نشول راژوندي کولای.
څلورم څپرکی؛
شپنۍ چاپې او وحشتونه؛ کله چې د مظلومو افغانانو حریم د بهرنیو ځواکونو د ظلم ډګر شو
د ۲۰ کلن امریکايي اشغال یوه بې‌رحمانه او د افغان کلتور او عزت خلاف کړنه شپنۍ چاپې وې. متجاوزو امریکايي او د هغوی کورنیو ګوډاګیو او لاسپوڅو قطعاتو به د باطلو، مغرضانه او له بغضه ډکو استخباراتي راپورونو پر بنسټ د شپې پرمهال د افغانانو پر کورونو چاپې اچولې.
د افغانستان په ډېرو کلیو کې د شپې د دروازې ټک‌ټک یا د چورلکې غږ د خلکو لپاره د ډار، غم او شهادت پیغام و.
د شپنیو چاپو یوه عامه انځورګیري
تصور وکړئ چې یوه کورنۍ د شپې په خوب ویده ده. ماشومان، ښځې او سپین ږیري په کور کې دي. ناڅاپه د چورلکې غږ راشي، سیمه محاصره شي، د کور دروازه په بمونو والوځول شي او بهرني او داخلي لاسپوڅي وسله‌وال پر خونو رادننه شي. د کور نارینه تحقیر او وتړل شي، د ښځو او ماشومانو چیغې او کوکارې اسمان ته پورته شي او یواځې د شخصي بدګومانۍ او بې‌اساسه راپورونو له مخې خالي کوټې ولټول شي او د کور څو تنه د اسیرانو په توګه ونیول شي؛ نو دا به څه یو وحشتناک حالت وي.
د بشري حقونو سازمانونو په خپلو لسګونو مستندو راپورونو کې د دې خبرې تصدیق کړی چې اشغالګرو ځواکونو او د هغوی د صفر یک، صفر دو په څېر متجاوزو او لاسپوڅو قطعاتو له محاکمې پرته سلګونه بې‌ګناه افغانان او

مظلوم کلیوال په خپلو کورونو کې د خپلې کورنۍ د افرادو په وړاندې په ډېرې بې‌رحمۍ ویشتلي دي، ځوك یې په جبري ډول لادرکه کړي او ځوك یې بندیان کړي دي.
د افغاني کلتور له مخې کور د انسان د عزت او شخصي حریم مرکز دی. نو ځکه د شپې له خوا کورونو ته ننوتل او د ښځو او ماشومانو وېرول د ډېرو افغانانو لپاره له پوځي تجاوز ورهاخوا یو نه بخښل کېدونکی د کورني حریم سپکاوی او جنایت هم گڼل کېده.

پنځم څپرکی؛

زندانونه، شکنجه او د انسان کرامت ته سپکاوی

د ۲۰ کلن اشغال په کلونو کې بې‌شمېره افغانان د پردیو متجاوزینو او د هغوی د هېوادپلورو استخباراتو له خوا د بې‌بنیاده شکونو او دروغجنو تورونو پر بنسټ ونیول شول او د بشریت ضد تعذیب‌ځایونو ته واچول شول. ځینې د بګرام په ظالمانه توقیف مرکز او لسګونه نور د افغانستان له جغرافیې څخه بهر صلیبي او مخفي زندانونو ته ورسول شول.

د بگرام بدنام او جهنمي زندان

د بگرام لویه هوایي اډه د اشغال په اوږدو کې د متجاوزو امریکایي ځواکونو د ظلم، شکنجې او تعذیب تر ټولو مخکښ مرکز و. که څه هم بهرنیو ځواکونو او د کابل گوډاگي ادارې د دغه زندان د پټولو هڅه کوله، خو له هغه ځایه راوتلو حقیقتونو ثابته کړه چې په بگرام کې له اسیرانو سره داسې وحشیانه، سپکوونکې او له قساوته ډکې د شکنجې طریقې کارول کېدې چې بشري تاریخ یې ډېره کمه سابقه لري.
د زنداني لپاره درد یوازې د زندان کوټه‌قلفي او امریکایي قمچینې نه وې؛ بلکې د هغه کورنۍ هم د بې‌خبرۍ او غم په رواني زندان کې سوزېدې.
مور به نه پوهېده چې زوی یې چېرته دی، ښځه به نه پوهېده چې خاوند یې ژوندی دی او که امریکایي جلادانو تر شکنجو لاندې وژلی، او ماشومان به د خپل پلار د راتلو په انتظار وو.

گوانتانامو ته د افغانانو جبري لېږد

یو شمېر افغانان د جګړې په لومړیو کلونو کې د GUANTANAMO BAY DETENTION CAMP بدنام او ډارونکي زندان ته هم ولېږدول شول.
دا زندان د اوږدې مودې لپاره د نړۍ د بشري حقونو د سازمانونو د نیوکو موضوع و، ځکه ځینې بندیان له اوږدې مودې راهیسې له رسمي محاکمې پرته ساتل کېدل.
د قانون له نظره هر انسان د عادلانه محاکمې حق لري؛ خو د جګړې په دې

چاپېريال کې دېر افغانان له داسې وضعيت سره مخ شول چې د دوی د قضيو د برخليك په اړه کلونه تېرېدل.

شپږم څپرکی؛

د ماشومانو وژل کېدل او د يو نسل زخمي کېدل

جګړه د ماشوم او بالغ ترمنځ توپير نه پېژني. بم چې د کور پر چت ولګېږي، ماشوم ته نه وايي چې ته د جګړې برخه نه يې.

د افغانستان د جګړې په اوږدو کې ماشومان د هوايي بريدونو، ځمکنيو جګړو، چاودنو او بې‌ځايه کېدو قربانيان شول. زرګونه ماشومانو خپل پلرونه او ميندې له لاسه ورکړې.

کله چې يو تنکی ماشوم د امريکايي چورلکو او بمبار په انګازه له خوبه تېکان خوري، د خپل انګړ خاورې او د خپلې شهيدې مور او پلار وينې وينې، د هغه پاتې ژوند د بهرنيو ځواکونو د دغې تحميل شوې جګړې له امله په يو دايمي ماتم او عذاب بدلېږي.

ځينې ماشومان يتيمان شول، ځينې ټپيان شول او ځينو د ټول عمر لپاره جسمي معلوليتونه پيدا کړل. دغې تپل شوې جګړې يو دېر لوی تعداد نسل يوازې په مادي لحاظ نه، بلکې په رواني لحاظ هم ژوبل کړ. هغه ماشومان چې بايد د کتاب، ښوونځي او لوبو له نړۍ‌سره اشنا وای، د ټانك، الوتکې، چاودنې او مرګ له نومونو سره اشنا شول.

اووم څپرکی؛

د افغان ښځو زړه بوږنونکی درد؛ د پردي اشغال تر ټولو پټه او درنه قرباني

لوېديځو متجاوزو دولتونو د خپل بې‌بنياده پوځي بريد او امريکايي اشغال د توجيه لپاره دا شل کاله د «ښځو د حقونو» مکارانه او دروغجن شعارونه نندارې ته وړاندې کول؛ خو په عمل کې د بهرنيو ځواکونو او د هغوی د ګوډاګيو د خونړيو يرغلونو تر ټولو زياته او دردناکه برخه خپله مظلومو افغان ښځو وزغمله.

کله چې يو کور د هوايي بريد يا جګړې قرباني شي، د ښځې ژوند څو چنده سختېږي. ځکه هغې خپل خاوند، زوی يا پلار له لاسه ورکړ، نو په داسې حال کې بيا د ماشومانو پالنه، د کور اقتصادي ستونزې او د بې‌سرپرستی درد ټول د هغې پر اوږو رالوېږي.

په دېرو کورنيو کې د جګړې له امله ښځې کونډې شوې او ماشومان بې‌پلاره شول. ځينې ښځې له خپلو کورونو بې‌ځايه شوې او په مهاجرت او بې‌وزلۍ کې يې خپل ژوند ته دوام ورکړ.

نو له همدې امله د اشغالګرو له خوا د «ښځو د ازادۍ» هر تش په نامه سياسي

شعار باید د هغو بې‌شمېره کونډو او مظلومو مېندو د ژړاوو، اوښکو او وینو په تل کې وارزول شي، چې د متجاوزو بهرنیو وسلو له امله یې خپله ټوله خوشحاله هستي او کورنۍ له لاسه ورکړه.

اتم څپرکی؛

د کلیو، کورونو او عامه ژوند تباهي

افغانستان یو زیاتره کلیوالي هېواد دی. کله چې جګړه کلي ته ورننوځي، یوازې یو پوځي مرکز نه ویجاړېږي؛ بلکې د خلکو د ژوند ټوله منظومه کډوډېږي.

په هلمند، کندهار، فراه، کونړ، ننګرهار، پکتیا، پکتیکا او نورو ولایتونو کې د جګړې او پوځي عملیاتو له امله کڼ خلك د خپلو کورونو پرېښودلو ته اړ شول.

یو بزګر چې خپل کور پرېږدي، یوازې د خښتو ودانۍ نه پرېږدي؛ هغه خپله ځمکه، فصل، څاروي او د کلونو خواري پرېږدي.

یو دوکاندار خپل بازار له لاسه ورکوي.

یو ماشوم خپل ښوونځی پرېږدي.

یوه مور د خپل کور امنیت له لاسه ورکوي.

په دې بڼه، د ۲۰ کلن ظالمانه امریکایي اشغال په پلي کولو سره د مظلوم افغان هېواد ټولنیز او اقتصادي بنیادونه سخت وځپل شول او هېواد ته یې لوی او تاریخي زیانونه واړول.

نهم څپرکی؛

جبري بې‌ځایه کېدل؛ د اشغال له کبله له خپل کوره د افغانانو ایستل

د امریکایي اشغال او د هغوی د داخلي ګوډاګیو د خونړیو عملیاتو له امله میلیونونه افغانان د هېواد دننه او بهر له کډوالۍ او غربت سره مخ شول.

جبري بې‌ځایه کېدل یوازې د یوه جغرافیایي ځای پرېښودل نه دي، بلکې د بهرنیو متجاوزینو د بمباریو او مظالمو له امله یو افغان له خپلې ټولنې، خپلوانو، جوماتونو، ښوونځي، بازار او ټول هغه چاپېریال څخه جلا کېږي چې کلونه یې پکې ژوند کړی وي.

د بې‌ځایه شوې کورنۍ درد

یوه کورنۍ تصور کړئ چې د جګړې له امله د شپې په تیاره کې خپل کور پرېږدي. له ځان سره یوازې څو کالي، یو ماشوم او لږ خوراك اخلي. سبا چې سهار شي، نه پوهېږي چې بېرته به خپل کور ویني او که نه.

د بې‌ځایه شویو خلکو په ژوند کې د سرپناه، خوړو، پاکو اوبو، کار، زده کړې او آن د لومړیو انساني حقوقو ستونزې زیاتې وي.

له همدې امله د امریکايي استکبار د تېل شوې جګړې قرباني يوازې هغه اتل شهید نه دی چې د یرغلګرو په بمبار کې روح خپل خالق ته سپاري؛ بلکې هغه له کوره ایستل شوی ماشوم هم د دې امریکايي یرغل ژوندی قرباني دی چې د اشغال د جنایتونو له امله له خپلو ديني او عصري زده کړو بې برخې پاتې شو.

لسم څپرکی؛

## د بشري حقونو د شعار او عملي واقعیت ترمنځ تضاد

امریکا او لوېدیځوالو متحدینو یې د افغانستان د جګړې په کلونو کې د بشري حقونو، قانون حاکمیت او د انسان د کرامت خبرې ډېرې کولې.

خو د جګړې په ډګر کې داسې پېښې رامنځته شوې چې د همدې شعارونو په اړه یې جدي پوښتنې راپورته کړې.

که د بشري حقونو معنا د هر انسان د ژوند حق وي، نو له هوايي بریدونو څخه ملکي قربانیان ولې خوندي نه وو؟

که د قانون حاکمیت مهم وي، نو ولې د ځینو بندیانو قضیو کلونه کلونه له شفافه محاکمې پرته دوام وکړ؟

که د انسان کرامت اصل وي، نو د بګرام، ګوانتانامو، کندهار او نورو سیمو په بندیخانو کې د امریکايي جلادانو له خوا د بندیانو پر وړاندې له ذهنه پورته شکنجو، بد چلند او سپکاوي راپورونه ولې رامنځته شول؟

او که د افغان ښځو او ماشومانو ساتنه د دغه شل کلن بهرني شتون پلمه وه، نو ولې همدا افغاني مېندې کونډې، ماشومان یتیمان او د هغوی کلي او کورونه د امریکايي یرغلګرو او د هغوی د لاسپوڅو اداروډ باروتو او جګړو په لمبو کې وسوځېدل؟

دا ترخې پوښتنې د بهرني یرغل په وړاندې د افغان ولس د تاریخي حافظې برخه دي او په عین حال کې د امریکايي اشغال د شلو کلونو ژور او نه پاکېدونکی داغ دی.

یوولسم څپرکی؛

## د بهرني متجاوز اشغال تاریخي مسؤلیت او ناورینونه

د تاریخي انصاف او واقعیت غوښتنه دا ده چې پر افغانستان د ۲۰ کلن تپل شوي جنګ او جنایتونو روښانه انځور بیان شي او د جګړې د قربانیانو موضوع په بشپړ ډول وکتل شي.

د دې خونړۍ شل کلنې غمیزې، ویجاړیو او د بې ګناه افغانانو د عامه وژنو اصل او بنیادي علت یوازې او یوازې پر افغانستان د امریکايي استکبار او د هغوی د صلیبي متحدینو پوځي یرغل او اشغال و. که بهرنیو متجاوزینو زموږ پر

پاکه خاوره یرغل نه وای کړی، زموږ ولس به له داسې ناورین، تحریك شویو جګړو او کورنیو شخړو سره نه و مخ شوی.
بهرنیو اشغالګرو ځواکونو او د هغوی کورنیو لاسپوڅو د خپلو نارروا موخو لپاره زموږ پاکه خاوره د بې رحمانه پوځي ازموینېتونو په ډګر بدله کړه. د دوی ړندو هوایي بمبارۍ، شپنیو چاپو، پرته له محکمې ترور کولو او په عامه کچه ویجاړیو د زرګونو مظلومو افغانانو وینې توئې کړې.
بهرني متجاوزین او د هغوی داخلي متحدین د دغو ټولو بشري او تاریخي جنایتونو مخامخ مسؤلین دي او له دغه تاریخي او اخلاقي مسؤلیته به هېڅکله تېښته ونه شي کړای.
د مظلوم افغان ولس لپاره چې هره کورنۍ یې د بهرني یرغل په بې رحمۍ کې د خپلو بچیانو، میندو او ماشومانو جنازو ته ناسته وه، د ظالم اشغالګر جنایت روښانه دی؛ او د دغو مظلومو شهیدانو خویندې او میندې به د بهرني یرغل او د هغوی د لاسپوڅو دا مظالم هېڅکله هېر نه کړي.

دولسم ځپرکی؛

## د بهرني اشغال ویجاړونکی اقتصادي وحشت

پر افغانستان د ۲۰ کلن امریکایي یرغل او د ناټو د ظالمانه شتون تر ټولو سخت او اوږدمهاله زیان زموږ د هېواد د اقتصادي بسیاینې او زېربناوو مطلق ویجاړی و.
د اشغال په شلو کلونو کې غاصبو بهرنیانو او د هغوی په اشارې چلېدونکې فاسدې کوډاکۍ ادارې د افغانستان ریښتیني اقتصاد ته د ودې ورکولو پر ځای، زموږ هېواد یوازې د خپلو لنډمهالو پوځي او استخباراتي لګښتونو په یوه کاذب او دروغجن غولوونکي پړاو کې وساته. که څه هم امریکایي استکبار د بیارغونې ډېرې ادعاوې کولې، خو په حقیقت کې یې ټولې شتمنۍ فاسدو کړیو او خپلو ملاتړو ته توزیع کولې او د افغانستان اصلي اقتصادي بنیادونه یې ویجاړ کړل.
جګړه بازار ته امن نه پرېږدي.
امن نه وي، پانګه نه راځي.
پانګه نه وي، کار نه پیدا کېږي.
کار نه وي، بې وزلي زیاتېږي.
په دې ډول د جګړې اور د بم له چاودنې وروسته هم نه مري؛ بلکې کلونه وروسته د بې کارۍ، بې وزلۍ او ټولنیزو ستونزو په بڼه ژوند کوي.

دیارلسم ځپرکی؛

## د جګړې رواني زخمونه

د انسان په بدن ټپ کله ناکله په څو میاشتو کې جوړ شي، خو د انسان په

ذهن کې د جګړې تېونه کلونه پاتې کېږي.
افغانستان يو داسې نسل درلود چې د بمونو غږ، د چورلکو شور، د شپې چاپې او د جنازو منظرې يې د ماشومتوب برخه وه.
يو ماشوم چې خپل پلار يې د صليبيانو په ړندو بمباريو کې له لاسه ورکړی وي، کلونه وروسته هم هغه شپه هېرولای نه شي.
يوه مور چې خپل زوی يې د امريکايي اشغال د هوايي بريد په پېښه کې له لاسه ورکړی وي، د ژوند تر وروستۍ ورځې د هغه د نوم په يادولو اوښکې تويوي.
يو سړی چې کلونه کلونه يې د بګرام او ګوانتانامو په بدنامو او تورنو محبسونو کې د امريکايي جلادانو تر تعذيب او شکنجو لاندې تېر کړي وي، له بنده تر راوتلو وروسته هم د دغو امريکايي جنايتونو او وېرې له امله سختې رواني اندېښنې زغمي.
دا هغه تاريخي او ژور زخمونه دي چې د بهرنيو يرغلګرو او لوېديځو استکباري رسنيو په راپورونو کې هېڅکله نه ښودل کېږي.

**څوارلسم څپرکی؛**

شل کاله جګړه او اشغال؛ پايله يې د بهرنيو متجاوزينو تاريخي شکست
امريکايي متجاوزينو او د هغوی صليبي متحدينو شاوخوا شل کاله پر افغان خاوره خپل شوم او ظالمانه اشغال مسلط کړ. په دې موده کې هغوی خپله ارماني پوځي ژبه وکاروله، په بيليونونو ډالره يې افغان خاورې ته د ويجاړۍ او وژنو په بنيه راوړل او په بې‌رحمۍ يې د افغانستان جغرافيا په باروتو کې وسوځوله.
خو په پای کې، د افغانانو د لويو قربانيو له امله، بهرني متجاوز پوځونه له شرمه ډکې تېښتې ته اړ شول او د کابل فاسده، بې‌کفايته او د هغوی په اشارې جوړه شوې ګوډاګۍ اداره په ۲۰۲۱م کال کې په خورا په زړه پورې او چټک ډول لکه د کارتونو کور رانسکوره شوه.
دا تحول او تاريخي شکست دا ثابته کړه:
چې د بهرني يرغل، زور او استکبار له لارې جوړ شوي کاذب نظامونه په هيڅ يوه اسلامي ټولنه کې تلپاتې ځای نه لري. هر کله چې بهرنی لاسي ملاتړ او د متجاوزينو بې‌رحمه بمباری‌بنده شي، نو دا ډول هېوادپلورونکي حکومتونه به په څو شېبو کې له منځه ځي.
د امريکايي يرغلګرو او د هغوی د داخلي لاسپوڅو د دغه شل کلن تپل شوي اشغال پر مهال افغان ولس لسګونه زره بااستعداده مېړني بچيان په شهادت ورسېدل، ميليونونه افغانان بې‌ځايه شول، کلي او ابادۍ يې د بمونو هدف

شـوې، خـو پایلـه دا شـوه چـې افغـان ولـس متجـاوز اسـتکبار تـه تاریخـي ماتـې ورکړه او د هغوی ټولې شومې پروژې یې له خاورو سره خاورې کړې.

پنځلسم څپرکی؛

د افغان ولس اصلي تاوان

په هـره جګـړه کـې سیاسـتوال خبـرې کـوي، جنـرالان نقشـې جـوړوي او سـتر قدرتونـه خپلـې ګټـې لټـوي؛ خـو پـه پـای کـې د جګـړې اصلـي بیـه عـام خلـك ورکوي.

د افغانستان په شل کلنه جګړه کې هم:

- مور خپل زوی له لاسه ورکړ؛
- ماشوم خپل پلار له لاسه ورکړ؛
- ښځه کونډه شوه؛
- ماشوم یتیم شو؛
- کورنۍ بې ځایه شوه؛
- بزګر خپله ځمکه پرېښوده؛
- ناروغ روغتون ته ونه رسېد؛
- زده‌کوونکی له ښوونځي پاتې شو؛
- کور د جګړې په کنډواله بدل شو.

دا د جګـړې هغـه انسـاني بیـه وه چـې پـه ډالـرو، پوځـي راپورونـو او سیاسـي اعلامیـو کې په بشپړه توګه نه شي اندازه کېدای.

پایله

پـر افغانسـتان د ۲۰۰۱م کال د سـپتمبر لـه پېښـې وروسـته پیـل شـوی امریکایـي او د ناټـو پوځـي یرغـل او اشـغال د هېـواد د معاصـر تاریـخ لـه تـر ټولـو تـورو، خونړیـو او غابښ ماتوونکو پړاوونو څخه و.

لوېدیځوالـو متجاوزینـو پـه پیـل کـې د ترهګـرۍ‌ضـد، د دروغجـن امنیـت، د بشـري حقونـو او بیـا رغونـې مکارانـه شـعارونه ننداراې تـه وړانـدې کـړل، خـو د ۲۰ کلـن اشـغال پـه ټـول بهیـر کـې یـې بې‌شـمېره داسـې جابرانـه جنایتونـه ترسـره کـړل چـې د لسـګونو زرو بې‌ګنـاه افغانانـو پاکـې وینـې یـې توئـې کـړې، زرګونـه کورنـۍ یـې لـه خپلـو خـاورو بې‌ځایـه کـړې، زمـوږ ابـاد کلـي یـې وران کـړل او د نړیوال استکبار ادعاوې یې له خاورو سره خاورې کړې.

د ګرانـاي او شـینډنډ لـه وحشـته ډکـې هوایـي فاجعـې، د کنـدوز د روغتـون جنایتکارانـه او بې‌رحمانـه بمبـارۍ، شـپنې چاپـې، د بګـرام او ګوانتانامـو پـه بې‌رحمـو توقیف‌ځایونـو کـې د مظلومانـو تعذیـب او شـکنجه کـول او د میلیونونـو افغانانـو هجرتونـه د دغـه امریکایـي اشـغال هغـه ناپـاك تاریـخ دی چـې

هېڅکله له ذهنه نه شي پاکېدای.

د دغه شل کلن يرغل پوره تاريخ دا څرګندوي چې افغان ولس د عامه وژنې، ويجاړۍ او عمومي غميزو تر ټولو اساسي ملامتيا يوازې او يوازې پر امريکايي متجاوزينو، د هغوی پر متحدينو او د هغوی پر کورنيو ګوډاګيو او لاسپوڅو ادارو ورلوېږي؛ ځکه د دوی تپل شوي يرغل زموږ اسلامي خاوره د جګړې او باروتو په لمبو کې وسوځوله.

د افغانستان د شل کلنې جګړې تر ټولو مهم درس دا دی چې يو ملت د بمبارۍ، زندان، شپنې چاپو او پوځي زور له لارې تلپاتې سولې ته نه شي رسېدای.

د افغان ولس درد دا دی چې تل د نړۍ ستر قوتونه غواړي چې خپلې جګړې د همدې خاورې پر سينه وکړې، خو بيا هم د جګړې د قربانيانو جنازې د افغانانو له کورونو پورته کېږي.

او نن هم د هغو کونډو ښځو، يتيمانو ماشومانو، ټپيانو او بې ځايه شويو خلکو درد د تاريخ پر پاڼو ليکل شوی دی.

د جګړې وسلې يوه ورځ چوپېږي، پوځونه يوه ورځ وځي، خو د وژل شويو ماشومانو د ميندو اوښکې او د ورانو کورونو يادونه د نسلونو په حافظه کې پاتې کېږي.

# د طالبانو اسلامي تحريك له پيل څخه تر ۱٤۰۰ کال د زمري ٢٤مې پورې

غياث‌الدين غوري

افغانستان هغه يوازينۍ خاوره ده چې د «امپراتوريو د هديرې» وياړلی نوم يې د خپل زرين تاريخ پر پاڼو ثبت کړی دی. دا هغه ملت دی چې د تاريخ په اوږدو کې، له ستونزو، زندانونو، شکنجو او سلګونو نورو ظلمونو سره سره، هېڅکله ذلت او غلامۍ ته غاړه نه ده ايښې. د افغانانو يو عادت؛ له غلامۍ او بندګۍ څخه ژوره کرکه درلودل دي او هېڅکله نه غواړي چې خپلواکي او عقيده يې تر پښو لاندې شي. افغانستان تل د زړورو نارينه‌وو، مېړنيو ښځو او مجاهدينو پناه‌ځای پاتې شوی دی.

د دې خاورې تاريخ له جهاد، د اشغال پر وړاندې له مبارزې، کورنيو جګړو او سترو سياسي تحولاتو سره تړلی دی. د همدې لوړو ژورو په منځ کې، د طالبانو د اسلامي تحريك راڅرګندېدل او د ۱٤۰۰ کال د زمري تر ٢٤مې پورې رامنځته شوي تحولات د هېواد د معاصر تاريخ له مهمو فصلونو څخه ګڼل کېږي؛ هغه فصل چې د ناامنۍ او کورنيو جګړو له منځه پيل شو او له دوو لسيزو جګړې او مبارزې وروسته، د اسلامي امارت د بيا واکمنېدو تر بريده ورسېد.

د افغانانو له کلونو جهاد او سرښندنو وروسته، په پای کې شوروي اشغال له ماتې سره مخ شو. افغان ملت تمه لرله چې د دغه جهاد مېوه به د خپلواکۍ، امنيت، يووالي او د يوه اسلامي نظام د ټينګښت په بڼه ترلاسه کړي. د افغانانو لپاره د اسلامي نظام ټينګښت يو ستر آرمان و؛ هغه آرمان چې د جهاد په کلونو کې يې د تحقق لپاره زرګونه قربانۍ ورکړې وې.

لنډه دا چې د کمونيستي حکومت له نسکورېدو وروسته، افغانستان له يوه سخت او کړکېچن پړاو سره مخ شو. د بېلابېلو ډلو او ګوندونو ترمنځ سياسي اختلافات، د واك پر سر د ډلو او احزابو سيالۍ شدت پيدا کړ او هېواد په کورنيو جګړو کې ښکېل شو. کابل او د هېواد ګڼې نورې سيمې د خونړيو نښتو، ويجاړيو او بې‌ثباتۍ شاهدې وې.

په ډېرو سيمو کې خلك له ناامنۍ، زورواکۍ، سيمه‌ييزې واکمنۍ، د وسله‌والو ډلو له خپلسريو، فساد، ظلم او قومي او ګوندي سياليو سره مخ وو. هغه د يووالي او ثبات آرمان چې خلکو له کلونو جهاد وروسته يې د تحقق تمه لرله، د سياسي او پوځي کشمکشونو په منځ کې کمرنګه شو.

په همدي شرايطو کې، د الله تعالی جل‌جلاله په فضل او احسان، د مظلوم افغان ملت د ژغورنې لپاره د افغانستان په جنوب کې له ديني مدرسو او د مجاهدينو له ليکو څخه يو اسلامي تحريك راڅرګند شو. د غه تحريك ځان د کورنيو جګړو د پای ته رسولو، د امنيت د ټينګښت، د فساد پر وړاندې د مبارزې او د اسلامي نظام د ټينګولو لپاره متعهد باله. په حقيقت کې، د شر او فساد د ډلو د ظلمونو او فسادونو د له منځه وړلو لپاره د داسې يوه تحريك رامنځته کېدل يوه جدي اړتيا ګڼل کېده. د غه تحريك په چټکۍ سره پراخ شو، سيمې يې يوه په بل پسې تر خپل کنټرول لاندې راوستې او په پای کې کابل هم د اسلامي امارت د مجاهدينو لاس ته ولوېد.

د افغانستان د اسلامي امارت په جوړېدو سره، د هېواد لويه برخه د يوې واحدې اداري او رهبری تر چتر لاندې راغله. د هغه پړاو له مهمو لاسته‌راوړنو څخه يوه د کورنيو جګړو او پراخو ناامنيو پای ته رسول وو. د هېواد مواصلاتي لارې خوندي شوې، د هغو سيمه‌ييزو قوماندانانو واك محدود شو چې پر خپلو خلکو يې ظلم او تېری کاوه او د هېواد په پراخو سيمو کې نظم او امنيت ټينګ شو.

اسلامي امارت هڅه وکړه چې قومي او ګوندي تعصباتو ته د پای ټکی کېږدي او افغان ملت د يوه واحد نظام تر چتر لاندې راټول کړي. افغان ملت د دې احسان پوروړی دی او هېڅکله به يې هېر نه کړي. د فساد پر وړاندې مبارزه، د امنيت تأمين او د اسلامي شريعت د احکامو تطبيق د دغه نظام له اساسي موخو څخه وو.

سره له دې، اسلامي امارت له کورنيو مخالفتونو او بهرنيو فشارونو سره هم مخ و او افغانستان لا هم د سيمه‌ييزو او نړيوالو تحولاتو په مرکز کې پاتې و.

د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د ۱۱مې پېښې د نړۍ د کفارو لپاره د اسلامي نظام او د افغان ملت د آزادۍ د له منځه وړلو پلمه وګرځېده او د افغانستان په تاريخ کې يې نوی فصل پرانيست. له دې پېښې وروسته، د امريکا متحده اياالاتو او متحدينو خپل پوځي عمليات په افغانستان کې پيل کړل.

په لنډه موده کې د اسلامي امارت حکومت له سقوط سره مخ شو او د اسلامي امارت مجاهدينو د ملا محمد عمر مجاهد رحمه‌الله د لارښوونې او سپارښتنې له مخې، د يوې مودې لپاره له صحنې څخه شاته شول او د واك له مرکزونو څخه يې واټن ونيو. د ډېرو خلکو په اند، ښايي دا د طالبانو د تحريك پای وي؛ خو دا پای نه، بلکې د مبارزې د يوه نوي پړاو پيل و.

د بهرنيو اشغالګرو ځواکونو په راتګ او د يوه فاسد او زړېدلي ډيموکراتيك نظام په رامنځته کېدو سره، افغانستان نوي پړاو ته داخل شو. بهرنيو يرغلګرو پراخ پوځي حضور درلود او د هغوی لاس‌پوځي حکومت هم د دوی په

سیاسي، مالي او پوځي ملاتړ خپل فعالیت ته دوام ورکاوه.
د اسلامي امارت مجاهدینو د خپلې خاورې او اسلامي مقدساتو د دفاع لپاره د اشغالګرو او د هغوی د اجیرانو پر وړاندې مبارزه پیل کړه. په پایله کې، افغانستان د شلو کلونو لپاره د خپل معاصر تاریخ له تر ټولو اوږدو جګړو څخه یوه تجربه کړه. پوځي عملیاتو، هوايي بریدونو، بمبارونو، د بهرنیانو او د هغوی د ملاتړو ظلمونو او وحشتونو، نیونو او وسله‌والو نښتو د هېواد خلکو ته درانه ځاني او مالي زیانونه واړول.
په همدې موده کې د اسلامي امارت مجاهدینو په تدریجي ډول خپلې لیکې بېرته منظمې او پیاوړې کړې او پوځي فعالیتونه یې د هېواد بېلابېلو سیمو ته پراخ شول. د جګړو اوږدو کلونو زرګونه شهیدان او ټپیان پرېښودل او کنې کورنۍ یې د خپلو عزیزانو پر وير کینولې. مجاهدینو په دې کلونو کې د بهرنیو اشغال او د هغه د کورنیو اجیرانو ځواکونو پر وړاندې مقاومت وکړ؛ هغو ځواکونو چې غلامي او بندګي یې خپل عادت ګرځولی و.
سره له دې چې بهرنیو ځواکونو له پوځي او تخنیکي پلوه هراړخیز برلاسی درلود، جهاد او مبارزې دوام وموند او د بهرنیو ځواکونو د وتلو موضوع د افغانستان له مهمو سیاسي مسئلو څخه وګرځېده.
له کلونو جګړې وروسته، په پای کې د امریکا په مشرۍ د بهرنیو اشغالګرو ځواکونو د حضور د پای ته رسولو لپاره د خبرو اترو پروسه پیل شوه. د دوحې هوکړه د بهرنیو ځواکونو د وتلو زمینه برابره کړه او د هغوی له وتلو سره سم د افغانستان سیاسي او پوځي معادلات په چټکۍ سره بدل شول.
په ۱۴۰۰ کال کې د اسلامي امارت د مجاهدینو پرمختګونه چټک شول، ولایتونه یو په بل پسې فتح شول او د جمهوریت او ډیموکراسۍ حکومتي جوړښت په بې‌ساري سرعت سره له منځه ولاړ.
په پای کې، کابل د ۱۴۰۰ کال د زمري په ۲۴مه د دې خاورې د بچیانو او مجاهدینو لاس ته ولوېد او د یهودو او نصاراوو تر ملاتړ لاندې لاس‌پوځی حکومت هم سقوط وکړ.
له شوروي اتحاد څخه د بریا تر ۱۴۰۰ کال د زمري ۲۴مې پورې د افغانستان داستان، د هغو څو نسلونو د ژوند داستان دی چې د جګړو، اشغال، کورنیو اختلافاتو او سیاسي تحولاتو په منځ کې یې ژوند کړی دی. په دې ټولو کلونو کې د هېواد خپلواکي او سیاسي حاکمیت، د یوه اسلامي نظام د ټینګښت له غوښتنې سره یوځای، د افغان ټولنې د یوې سترې برخې له مهمو غوښتنو او بحثونو څخه وو.
د افغانستان د اسلامي امارت د مجاهدینو راڅرګندېدل او قیام هغه تحریك و چې

د کورنیو جګړو او ناامنیو له منځه راتوکېد؛ د یوې مودې لپاره یې د افغانستان پر لویه برخه واکمني وکړه، د امریکا له یرغل وروسته له واکه وغورځول شو، شل کاله یې د بهرنیو ځواکونو او د هغوی د ملاتړ وړ حکومت پر وړاندې مبارزه وکړه او په پای کې د ۱٤۰۰ کال د زمري په ۲٤مه یو ځل بیا کابل ته راستون شو.

الحمدلله، نن د افغانستان ملت یو اسلامي، آزاد او خپلواك نظام لري؛ هغه غوښتنه چې د افغان ملت له تلپاتې او وروستیو هیلو څخه وه.

خو هغه دښمنان چې لا هم د اسلام او اسلامي نظام د له منځه وړلو په فکر کې دي، باید له هغو متجاوزینو او اشغالګرو څخه عبرت واخلي چې دې سپېڅلې خاورې ته په راتګ سره رسوا او ذلیل شول؛ ځکه دا آزاد او خپلواك ملت هېڅکله د کفارو او د هغوی د پروژو تر ولکې لاندې راتلل نه مني.

# د فتوحاتو مهالوېش

## لویدیځ زون

| ولایت | قمري نېټه |
|---|---|
| نیمروز | ۲۸ ذوالحجې ۱٤٤۲هـ |
| فراه | ۲ محرم ۱٤٤۳هـ |
| هرات | ٤ محرم ۱٤٤۳هـ |
| بادغیس | ٤ محرم ۱٤٤۳هـ |
| غور | ۵ محرم ۱٤٤۳هـ |

## جنوب لویدیځ زون

| ولایت | قمري نېټه |
|---|---|
| هلمند | ۵ محرم ۱٤٤۳هـ |
| کندهار | ۵ محرم ۱٤٤۳هـ |
| ارزګان | ۵ محرم ۱٤٤۳هـ |
| زابل | ۵ محرم ۱٤٤۳هـ |
| دایکنډي | ۷ محرم ۱٤٤۳هـ |

## جنوب ختیځ زون

| ولایت | قمري نېټه |
|---|---|
| غزني | ٤ محرم ۱٤٤۳هـ |
| پکتیا | ٦ محرم ۱٤٤۳هـ |
| پکتیکا | ٦ محرم ۱٤٤۳هـ |
| خوست | ۷ محرم ۱٤٤۳هـ |
| لوګر | ۵ محرم ۱٤٤۳هـ |

## ختیځ زون

| ولایت | قمري نېټه |
|---|---|
| ننګرهار | ۷ محرم ۱٤٤۳هـ |
| کنړ | ٦ محرم ۱٤٤۳هـ |
| لغمان | ٦ محرم ۱٤٤۳هـ |
| نورستان | ۷ محرم ۱٤٤۳هـ |

## شمال ختیځ زون

| ولایت | قمري نېټه |
|---|---|
| بخشان | ۳ محرم ۱٤٤۳هـ |
| تخار | ۳۰ ذوالحجې ۱٤٤۲هـ |
| کندز | ۲۹ ذوالحجې ۱٤٤۲هـ |
| بغلان | ۲محرم ۱٤٤۳هـ |

## شمال زون

| ولایت | قمري نېټه |
|---|---|
| سرپل | ۲۹ ذوالحجې ۱٤٤۲هـ |
| جوزجان | ۲۹ ذوالحجې ۱٤٤۲هـ |
| سمنګان | ۱ محرم ۱٤٤۳هـ |
| فاریاب | ٦ محرم ۱٤٤۳هـ |
| بلخ | ٦ محرم ۱٤٤۳هـ |

## مرکزي زون

| ولایت | قمري نېټه | ولایت | قمري نېټه | ولایت | قمري نېټه |
|---|---|---|---|---|---|
| میدان وردګ | ۷ محرم ۱٤٤۳هـ | کاپیسا | ۷ محرم ۱٤٤۳هـ | کاپیسا | ۷ محرم ۱٤٤۳هـ |
| بامیان | ۷ محرم ۱٤٤۳هـ | پروان | ۷ محرم ۱٤٤۳هـ | پروان | ۷ محرم ۱٤٤۳هـ |

# د جمهوریت سقوط او د اسد ۲۴مه

ولید ویاړ

د زمري یا اسد ۲٤مه د افغانستان په معاصر تاریخ کې یوه عادي ورځ نه ده، یوازې په افغانستان پورې تړاو نه لري، د ټولې نړۍ په ځانګړې ډول د ناټو او امریکا برخلیك هم ورسره تړلی دی. امریکا او ورسره پوځي ټلوالې یې نږدې پنځه وېشت کاله وړاندې په داسې حال کې د افغانستان د اشغال ټلواله جوړه کړه، چې زموږ هېواد نه کوم هېواد ته کواښ و او نه یې هم د سپټمبر یولسمې پېښې سره تړاو درلود، خو اصلي حقیقت دا و چې په افغانستان کې د کورنیو جګړو د لمن ټولونکې اسلامي امارت غرب او امریکایي ټلوالې ته د منلو وړ نه و، دغه سوچه اسلامي او پر خپلو ارزښتونو ولاړ نظام د سیمې او نړۍ د اسلامي هېوادونو په کچه کوم مثال هم نه درلود، له بل اړخه استخباراتي مغرضه سازمانونه او اسلام ضد عناصر په دې پوهېدل چې اسلامي ارزښتونو ته د اسلامي امارت ژمنتیا به دغه نظام د افغانستان او سیمې په یوه ځواکمن هېواد بدل کړي، چې بیا به یې مخنیوی ورته ګران وي. د هغه مهال امریکایي ولسمشر او په اوسني عنصر کې د صلیبي جګړو بنسټګر جورج بوش اعلان وکړ چې یا به له موږ سره وی یا هم زموږ پر ضد، له دې پرته درېیمه لار نشته.

بالاخره د همدغه یرغل پیل شروع شو، د یو شمېر غرب مېشتو او په کورنیو جګړو کې د ښکېلو افغانانو په را پورته کولو سره یې یو ځل بیا په افغانستان کې د دیموکراسۍ تر شعارونو لاندې د جمهوریت بنسټ کېښود. دا جمهوریت د غربي جمهوریتونو یوه کټ مټ کاپي وه چې ستنې یې په اساسي قانون، بشري – وضعي قوانینو او نورو داسې غربي ارزښتونو ولاړې وې چې خپله یې غرب او امریکا هم تطبیقي اړخ نه درلود.

حقیقت دا و چې له دغه اشغال سره اسلامي امارت یوازې د لنډ مهال لپاره له ښارونو شاتګ وکړ او له بیا ځان را سمبالولو سره یې په خپله مبارزه او کمو امکاناتو سره د جمهوریت غرب پالې مفکوره ونګوله او یو ځل بیا یې د افغان نسل په زړونو کې د جهاد او مبارزې مشعل روښانه کړ. پوره شل کاله که په افغانستان کې د غربي ټلوالې د وحشتونو او ظلمونو بحراني دور و، غرب مېشتي او امریکایي پلوه واکمنانو په خپله خوښه له ولس او اسلامي ارزښتونو سره د تضاد سنګر نیولی و، خو یوه هیله هم موجوده وه، دا هیله د اسلامي امارت وسله او فکري مبارزه وه چې مجاهدینو او عام ولس ته د یوې را

روانې بریا زېري ورکول، دغه زیري په ۲۰۲۱م کال کې تحقق وموند، د مادیاتو او معنویاتو مبارزه کې سپین محمدي بیراغ همغسې رپاند پاتې شو او بالاخره د مجاهدینو په لاسونو د ارګ پر اسمانڅك برج هم ورپېده.
هو؛ دا د زمري یا اسد ۲٤مه نېټه وه، هغه تاریخي ورځ چې کابل ښار د اسلامي بریا او فتحې شعارونو نیولی و، ازادۍ-خوښي وکړې د اختر د ورځې په څېر له خوښۍ کوڅو او سړکونو ته راوتلي وو، خو هغوی چې خپل برخلیك یې په خپلو غربي او امریکایي بادارانو پورې ترلی و، مخ په هوایي ډګر روان و، په الوتکو پسې یې منډې وهلې او د خپلو پخوانیو ناوړه کړنو د رسوایۍ له وېرې یې خپل رب، هېواد او «ولس» هېر کړی و.
هغه جمهوریت چې دوه لسیزې ورباندې میلیاردونه ډالر غربي او امریکایي پانګونه شوې وه، کمپیاین ورته شوی و، د اساسي قانون او نورو وضعي اصولو په تېلوسره یې د هر وحشت او ناروااوو د سرچینې په توګه خلکو ته وړاندې کړلی و، پر اوبو د نقش په څېر وران شو او ډېر ژر د همدغه تپل شوي نظام غړو هم د غندنې خولې خلاصې کړې او له ولس څخه یې ښښنه وغوښته. د جمهوریت په سقوط کې له شك پرته چې د اسلامي امارت مبارزې اساسي ونډه درلوده، خو د دغه مبارزې ستنې له اسلامي امارت څخه پر ولسي ملاتړ او اسلامي شریعت ته په ژمنتیا ولاړې وې، هغه څه چې زموږ د مسلمان ولس تلپاتې او تاریخي غوښتنه وه او بالاخره یې رښتینی تحقق وموند.
د اسد ۲٤مه که له یوې خوا د تاریخي بریا ورځ او د زرګونو سپېڅلو شهیدانو د کاروان روښانه منزل و، له بل اړخه د جمهوریت تر چتر لاندې د سرختو مجرمینو، انسان وژونکي او هېواد پلورونکو لپاره د امن ورځ هم وه، ځکه چې د اسلامي امارت زعیم او د افغانستان فاتح حضرت امیرالمومنین حفظ الله تعالی د عمومي عفوې او بخشش یو داسې تاریخي او بې ساري فرمان صادر کړ چې نړۍ یې بېلګه نه لري او هېڅ یې هم طمعه نه کوله.
د غه فرمان د اسد له ۲٤مې وروسته د افغانانو تر منځ د ملي پخلاینې، یو موټي پاتې کېدو او د یوه ملت په توګه د ځان حس کولو دروازه پرانېسته او د اسلامي امارت مجاهدینو د خپل زعیم فرمان ته په بشپړ درناوي سره ډېرو داسې کسانو ته هم د وروروڼی غېږ ورکړه چې دوه لسیزې یې له ظلم او بربریت پرته بل څه نه پېژندل.

# د اسلامي امارت د واکمنۍ پنځه کاله؛ لاسته‌راوړنې، ننګونې او راتلونکې تګلاره!

احسان

## سریزه

د ۱۴۰۰ هجري لمریز کال د زمري ۲۴مه د افغانستان په معاصر تاریخ کې د بدلون یوه مهمه او برخلیک‌ټاکونکې ورځ ګڼل کېږي. په دې ویاړمنه ورځ، د افغانستان ویاړلي او سرلوړي ملت د بهرنیو یرغل پر وړاندې د دوو لسیزو جهاد او مقاومت وروسته خپله آزادي او خپلواکي بېرته ترلاسه کړه او په هېواد کې د اسلامي او ولسي حاکمیت نوی فصل پیل شو. که د جهاد تېرې دوه لسیزې د مبارزې او قربانۍ دوره وه، نو له فتحې وروسته پنځه کاله د اسلامي نظام د ټینګښت، دولت‌جوړونې او خلکو ته د خدمت دوره وه.

د دغو پنځو کلونو اهمیت په دې حقیقت کې نغښتی دی چې افغانستان له نیمې پېړۍ جګړو او بهرنیو لاسوهنو وروسته، د لومړي ځل لپاره داسې فرصت وموند چې د بهرنیو ځواکونو له مستقیم حضور پرته خپل برخلیک په خپله وټاکي. له همدې امله، دا دوره د تحمیلي او متکي حاکمیت څخه د ولس د ارادې او شریعت پر بنسټ د حاکمیت پر لور د لېږد دوره بلل کېدای شي. د دې دورې د کارنامو ارزونه یوازې د یوه حکومت د لاسته‌راوړنو بیاکتنه نه ده، بلکې د یوه خپلواک او اسلامي راتلونکي د جوړولو لپاره د یوه ملت د مقاومت او هڅو روایت هم دی.

د افغانستان اسلامي امارت په دې لنډه موده کې، سره له دې چې له ظالمانه تحریمونو او بهرنیو خنډونو سره مخ و، وتوانېد چې د جګړې له پړاو څخه د نظام‌جوړونې مرحلې ته واوړي او په بېلابېلو برخو کې د پام وړ او روښانه کارنامې ولري. هغه بنسټیزه پوښتنه چې دا مقاله یې د ځوابولو هڅه کوي، دا ده چې اسلامي امارت په تېرو پنځو کلونو کې کوم لوری غوره کړی او کومې لاسته‌راوړنې یې لرلې دي؟ دا څېړنه له علمي لیدلوري، د عیني واقعیتونو او باوري راپورونو پر بنسټ ترسره شوې ده.

الله تعالی فرمایي: «الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ» (الحج: ٤١) «

ژباړه: هغوی چې کله موږ په ځمکه کې واک ورکړو، نو لمونځ قائموي،

زکات ورکوي، د نېکۍ امر کوي او له بدۍ څخه منع کوي.»
د قرآن عظیم‌الشان دغه مبارك آیت په تېرو پنځو کلونو کې د اسلامي امارت د حرکت لوری په ښه توګه بیانوي.

## ❶ د امنیت ټینګښت او د ملي حاکمیت پیاوړتیا

امنیت د هر دول پرمختك او آبادۍ بنسټ دی او له شك پرته، په تېرو پنځو کلونو کې د اسلامي امارت د نظام تر ټولو ستره او محسوسه لاسته‌راوړنه په ټول هېواد کې د امنیت تأمین دی. هغه ملت چې څلور لسیزې یې د جګړې، ناامنۍ، چاودنو، اختطافونو او وسله‌والو خپلسریو ترخه تجربه لرله، نن د اسلامي نظام د واکمنۍ له برکته د رښتیني امنیت خوږ خوند احساسوي.
په تېرو پنځو کلونو کې اسلامي امارت د خپلسرو افرادو څخه د زرګونو سپکو او درنو وسلو په راټولولو، د غیرمسؤلو ډلو په بې‌وسلې کولو، د زورواکۍ او قانون‌ماتونې په مخنیوي او نورو اقداماتو سره په ټول هېواد کې ملي حاکمیت ټینګ کړی دی. نن له بدخشانه تر نیمروزه او له هراته تر ننګرهاره، یو بیرغ، یو نظام او یو مقتدر حاکمیت واکمن دی؛ د هېواد هېڅ برخه د اسلامي نظام له چتر څخه بهر نه ده. دغه ځمکنۍ یووالی د ملت له اوږدمهالو هیلو څخه و چې اوس یې د تحقق شاهدان یو.
سربېره پر دې، د اسلامي امارت د منظمو او ژمنو وسله‌والو ځواکونو رامنځته کېدل، چې شمېر یې له ۱۵۰ زرو مجاهدینو څخه اوړي، د ملي پولیسو، پیاوړي او ژمن استخباراتي ځواك ترڅنګ، د دې لامل شوي چې افغانستان منظم، د خلکو له منځه راټوکېدلي او د هېواد امنیت ته ژمن امنیتي ځواکونه ولري.
د داعش ـ د عصر د خوارجو ـ د ناوړه پدیدې پر وړاندې د اسلامي امارت قاطع، نه ستړې کېدونکې او بریالۍ مبارزه د امنیت د تأمین په برخه کې د نظام د وړتیا بله روښانه بېلګه ده. په داسې حال کې چې ګڼو هېوادونو له خپلو پراخو امکاناتو سره سره د دې ډلې د مهارولو توان نه درلود، اسلامي امارت د خپلو امنیتي ځواکونو د شپه‌ورځنیو هڅو او د خلکو د کلك ملاتړ په مټ د دغې فتنه‌کړې ډلې ملا ماته کړې او ثابته کړې یې ده چې د افغانستان خاوره به بیا هېڅکله د ناامنۍ ځاله نه وي.
د ملګرو ملتونو راپورونو هم په افغانستان کې د ملکي تلفاتو بې‌ساری کمښت او د امنیتي وضعیت د پام وړ ښه‌والی تایید کړی دی.
نن هر وګړی کولای شي د دې ټولهراړخیز امنیت ثمره په خپل ورځني ژوند کې په ښکاره ډول احساس کړي؛ هغه سوداګر چې خپل مالونه له یوه ولایت څخه بل ولایت ته د اختطاف له وېرې پرته لېږدوي، هغه کورنۍ چې د شپې له اندېښنې پرته سفر کوي او هغه بزګر چې د خپلو حاصلاتو د لوټ

کېدو وېره نه لري، تول د دې بنسټيز بدلون شاهدان دي.
همدارنګـه، د هېـواد د پولـو خونـدي کـول او د قاچـاق او بهرنيـو ډلـو د نفـوذ مخنيـوی د دې لامـل شـوی چـې افغانسـتان لـه ډېـرو کلونـو وروسـته د پانګونـې او سـيمه‌ييز ترانزيـټ لپـاره د يـوه خونـدي هېـواد پـه توګـه مطـرح شـي؛ هغـه مقـام چـې د زرګونـو بهرنيـو ځواکونـو لـه حضـور سـره سـره د جمهوريـت پـه شـلو کلونـو کـې هېڅکله ترلاسه نه شو.

## ❷ متوازنه او پر اقتصاد ولاړه بهرنۍ تګلاره

د بهرنــۍ پاليســۍ پــه ډګــر کــې اسلامــي امــارت د «تــوازن، بې‌طرفــۍ او مثبــت تعامــل» پــر بنســټ يــوه حکيمانــه تــګلاره غــوره کــړې ده. دغــه تــګلاره پــر دوو اساســي اصولــو ولاړه ده: لومــړی، د بشــپړې سياســي خپلواکــۍ ســاتل او لــه هېــڅ بهرنــي ځــواك ســره د وابســتګۍ نــه لــرل؛ او دويــم، د متقابــل درنــاوي او ملــي ګټــو پر بنسټ له نړۍ سره رغنده او په اقتصاد ولاړ تعامل.
د تېــر پــه خلاف، چــې افغانســتان د بهرنيــو قدرتونــو ترمنــځ د سـياليو پــر ډګــر بــدل شــوی و، نــن اسلامــي امــارت لــه ټولــو ګاونډيــو او د سـيمې لــه هېوادونــو ســره مثبتــه او رغنــده اړيکــې ټينګــې کــړې دي. لــه چيــن، روســيې، ايــران، ترکيــې، د منځنــۍ آسـيا لــه هېوادونــو او عربــي نــړۍ ســره د سياســي، اقتصــادي او ســوداګريزو اړيکــو پراختيا د دې تګلارې د برياليتوب نښه ده.
پــه مهمــو ســيمه‌ييزو او نړيوالــو ناســتو کــې د اسلامــي امــارت د پلاوو فعــال او احترمانــه حضــور او پــه کابــل کــې د لســکونو لوړپوړو بهرنيــو پلاوو کوربه‌تــوب دا څرګنــدوي چــې افغانســتان لــه خپلــې تحميلــي انــزوا څخــه راوتلــی او پــه ســيمه‌ييزو معادلــو کــې د يــوه مهــم او مســؤل لوبغــاړي پــه توګــه راڅرګنــد شــوی دی.
اسلامــي امــارت تــل ټينــګار کــړی چــې لــه ټولــې نــړۍ، پــه ځانګــړې توګــه لــه اسلامــي نــړۍ ســره ښــې اړيکــې غــواړي او اجــازه بــه ورنــه کــړي چــې د افغانســتان لــه خاورې څخه د هېڅ هېواد پر ضد استفاده وشي.
دې متــوازن سياســت پــه عمــل کــې هــم څرګنــده پايلــې لرلــې دي. پــه يــو شــمېر هېوادونــو کــې د افغانســتان د ســفارتونو او قونســلګريو فعالېــدل، د ســترو ســوداګريزو او ترانزيټــي ترونونــو لاسـليك او د تاپــي، تــاپ او خــواف ــ هــرات د اوسـپنې پټلــۍ پــه څېــر د ســترو ســيمه‌ييزو پــروژو پــه اړه د خبــرو اتــرو بيــا پيــل، دا ټــول ښــيي چې نړۍ په تدريجي ډول د افغانستان اوسنی واقعيت منلی دی.
اسلامــي امــارت ثابتــه کــړې چــې لــه سياســي تــړاو پرتــه او د ملــي وقــار پــه ســاتلو ســره لــه نــړۍ ســره تعامــل وکــړي؛ داســې تعامــل چــې د بهرنيانــو د امرونــو پــر بنســټ نــه، بلکــې د افغانســتان او اسلامــي امــت د لــوړو ګټــو پــر بنســټ ولاړ وي. همــدې

عزتمندانه چلند د سیمې د هېوادونو باور بېرته پر افغانستان راګرځولی دی.

## ۳ اقتصادي بیارغونه او د ځانبسایني پر لور حرکت

ښايي د اسلامي امارت د پنځه کلنې دورې تر ټولو روښانه فصل يې اقتصادي لاسته‌راوړنې وي؛ په ځانګړي ډول په داسې شرايطو کې چې نظام له ناعادلانه بندیزونو او د متحده ایالاتو له خوا د ملي شتمنیو له کنګل کېدو سره مخ و. لومړنی سترګام د اداري فساد پر وړاندې جدي او عملي مبارزه وه. هغه فساد چې د جمهوري نظام پر مهال يې ریښې غځولې وې او د هېواد اقتصادي رګونه يې وچ کړي وو، نن په بې‌ساري ډول محدود شوی او د یوې سالمې او شفافې ادارې د رامنځته کېدو زمینه برابره شوې ده.

د دې سالمې اداري پایله د ملي عوایدو د پام وړ زیاتوالی دی. د مالیې وزارت د شمېرو پر بنسټ، د هېواد کورني عواید له سلګونو میلیاردو افغانیو څخه اوښتي او د ملي بودجې لګښتونه له کورنیو سرچینو تمویل کېږي؛ دا په معاصر تاریخ کې د پام وړ لاسته‌راوړنه ده او ښيي چې زموږ ملت کولای شي پر خپلو پښو ودرېږي او پرته له دې چې پر بهرنیو مرستو تکیه وکړي، خپل اقتصاد اداره کړي.

سربېره پر دې، اسلامي امارت هغه سترې او بنسټیزې ملي پروژې بېرته راژوندۍ کړې دي چې له کلونو راهیسې هېرې شوې وې. د قوشتېپې لوی کانال، چې د هېواد له سترو اوبو لګولو پروژو څخه دی، مهمې لویې لارې، د اوبو مهارولو بندونه، د سترو کانونو استخراج او د کورنیو تولیداتو، کرنې او صنعت ملاتړ، ټول د اقتصادي ځانبسایني پر لور د نظام د ثابت حرکت څرګندې نښې دي.

په تېرو دوو کلونو کې د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت ثبات، په داسې حال کې چې د ډېرو ګاونډیو هېوادونو اقتصادونه له سختو بدلونونو سره مخ وو، د نړیوال بانک په ګډون د نړیوالو بنسټونو له خوا د یوې مهمې اقتصادي لاسته‌راوړنې په توګه یاد شوی دی. هغه څه چې دغه بریالیتوب لا مهم کوي، د ګمرکي نظام بنسټیز اصلاحات او د مالیاتو شفاف راټولول دي. په تېر کې د ګمرکونو عواید حیف‌ومیل کېدل؛ خو نن د سالم مدیریت او د قاچاق د مخنیوي له لارې عواید په سمه توګه ملي خزانې ته انتقالېږي.

همدارنګه، د خصوصي سکتور ملاتړ، کورنیو او بهرنیو پانګه‌والو ته د اسانتیاوو برابرول، د کورنیو تولیداتو د ننداړتونونو جوړول او د غالیو، وچې مېوې او قیمتي ډبرو د صادراتو زیاتوالی، دا ټول ښيي چې د افغانستان اقتصاد له مصرفي او ترلي حالت څخه د تولیدي او ځانبسیا اقتصاد پر لور روان دی.

### ۴ د اسلامي شریعت پلي کول، فرهنګي او ټولنیز خدمتونه

د افغان ملت د جهاد اساسي هدف د اسلامي شریعت حاکمیت و، او اسلامي امارت په تېرو پنځو کلونو کې په محکمو، معارف او د ټولنیز ژوند په بېلابېلو برخو کې د شریعت تطبیق ته لومړیتوب ورکړی دی.

شرعي محکمو د خلکو قضیو ته د عادلانه او چټك رسېدنې له لارې د عدالت پر ورانديې د ملت له لاسه تللی باور بېرته راژوندی کړی دی او خلك نن وینی چې د مظلوم حق د واسطې او رشوت پرته ترلاسه کېدای شي.

د معارف او لوړو زده‌کړو په برخه کې د اسلامي او ملي ارزښتونو پر بنسټ د تعلیمي نصاب اصلاح، د سلګونو ښوونځیو او مدرسو بیارغونه او زرګونو ځوانانو ته د زده‌کړې او تحصیل د زمینه برابرول له بنسټیزو اقداماتو څخه دي.

د روغتیا په برخه کې د روغتونونو او روغتیایي مرکزونو بیارغونه او په ټول هېواد کې د ناروغانو درملنه په دوامداره توګه روانه ده او هڅې کېږي چې روغتیایي خدمتونه د هېواد تر ټولو لرې پرتو سیمو ته هم ورسېږي.

له سترو بشري او اسلامي لاسته‌راوړنو څخه یوه چې په ټوله نړۍ‌کې یې د پام وړ ستاینه راجلب کړې، د نشه‌يي توکو پر وړاندې قاطع مبارزه ده. اسلامي امارت د نشه‌يي توکو د کښت، تولید او قاچاق د منع کولو او له کوڅو او لارو څخه د لسګونو زرو روږدو کسانو د راټولولو او په روغتیایي مرکزونو کې یې د درملنې له لار ملت او بشریت ته ستر خدمت ترسره کړی دی؛ هغه څه چې پخواني نظام د میلیاردونو ډالرو له بهرنیو مرستو سره سره یې له ترسره کولو عاجز و.

سربېره پر دې، د فتحې په لومړیو ورځو کې د امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی له خوا د عمومي عفوې اعلان د افغانستان د درنو قومونو ترمنځ د ملي یووالي او ورورولۍ د پیاوړتیا سبب شو او وښودله چې امارت د ټولو افغانانو کډ کور دی. تر څنګ یې، د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت له لارې د ټولنې معنوي اصلاح، د اسلامي فرهنګ ترویج، د منکراتو او ناپسندو رواجونو مخنیوی او د ټولنې په فکري رهبرۍ‌کې د علماوو د مقام بېرته راژوندي کول، د هېواد فضا د اسلامي معنویت او اخلاقو پر لور سوق کړې ده.

د جوماتونو بیارغونه، د اسلامي او فرهنګي کتابونو چاپ او وېش، د دیني مدرسو ملاتړ او د زرګونو طالب‌العلمانو جذبول، ښيي چې اسلامي نظام له یوې خوا د امنیت او اقتصاد په تأمین سره د خلکو جسمي او مادي ژوند ته او له بلې خوا د دین او فرهنګ له لارې د هغوی روح او معنوي ژوند ته متوازن پام کوي؛ او همدا توازن د هر ولسي نظام د بقا راز دی.

### ۵ ننګونې او فرصتونه

که څه هم د اسلامي امارت د پنځه کلن سفر په بهیر کې لا هم یو شمېر نیمګړتیاوې او ستونزې لیدل کېږي، خو د غ ستونزې د اسلامي نظام د ارادې د کمزورۍ یا بې‌کفایتۍ له امله نه دي؛ بلکې په مستقیم ډول له ظالمانه بندیزونو، د نړیوالې ټولنې له نه همکارۍ او د یوه مشروع او ولسي نظام له نه رسمیت پېژندلو سره تړاو لري.

اسلامي امارت له محدودو کورنیو امکاناتو سره لوی کارونه ترسره کړي دي؛ خو اقتصادي بندیزونو، په امریکایي بانکونو کې د افغان ملت د میلیاردونو ډالرو بهرنیو اسعارو کنګل پاتې کېدو او نړیوالو پرمختیایي مرستو ته د لاسرسي نشتوالي په ځینو مواردو کې د بیارغونې او اقتصادي ودې بهیر ورو کړی دی. ملګرو ملتونو او د نړۍ سترو هېوادونو د دې پر ځای چې له افغان ملت سره صادقانه همکاري وکړي، د بشري مرستو له سیاسي کولو او پر خلکو د غیرضروري فشارونو له لارې داسې چلند کړی چې د افغانستان د لا پرمختګ پر وړاندې یې خنډونه رامنځته کړي دي. دغه دوه‌ګوني چلند د افغانستان د پرمختګ پر وړاندې له سترو خنډونو څخه شمېرل کېږي.

په دې سره ویلای شو چې که دغه بهرني خنډونه او ناعادلانه بندیزونه لرې شي، نړۍ د افغانستان له ننیو واقعیتونو سره تعامل وکړي او له اوسني نظام سره د همکارۍ لاس وغځوي، نو هغه وده چې نن په بېلابېلو برخو کې روانه ده، څو برابره به چټکه شي.

افغانستان د بشپړ امنیت، ځوان او پیاوړي بشري ځواک، پراخو طبیعي زېرمو، بډایه اوبو او د آسیا د څلورلارې په توګه د خپل غوره جغرافیایي موقعیت له امله ټول هغه فرصتونه لري چې په یوه آباد، ځان‌بسیا او بېلګه هېواد بدل شي. هغه څه چې نن یې کمښت احساسېږي، یوازې د نړۍ د همکارۍ نشتوالی دی، نه د نظام ناتواني. د لیتیوم، مسو او اوسپنې په څېر د کانونو سترې زېرمې، چې ارزښت یې زرګونه میلیاردو ډالرو په کچه اټکل شوی، هغه نه‌مهار شوې اوبه چې د بندونو له بشپړېدو سره افغانستان د برېښنا پر صادرونکي هېواد بدلولای شي او د هېواد ځوان او متدین نفوس، هغه سترې شتمنۍ دي چې هېڅ بندیز یې د تل لپاره نه شي مهارولای.

د تېرو پنځو کلونو تجربې ثابته کړې چې هرکله د همکارۍ لارې پرانیستل شوې دي، اسلامي امارت د پانګونې د راجلبولو، د ځوانانو لپاره د کاري فرصتونو د رامنځته کولو او په لنډ وخت کې د افغانستان د سیمې د نښلولو پر مرکز د بدلولو وړتیا لرلې. نو له همدې امله، اصلي ننګونه بندیزونه دي او اصلي فرصت یو موټی ملت او نظام دی.

## ٦ پایله

د اسلامـي امـارت د پنځـه کلنـۍ واکمنـۍ کارنامـه په ځرګنـده توګـه ښـيي چې دغـه نظام د تثبيت لـه يـوه ستونزمن پـړاو څخـه په برياليتـوب تېـر شـوی دی. تېـر پنځـه کلونـه د ثبـوت کلونـه وو؛ دا يـې ثابتـه کـړه چې افغانـان کـولای شـي د ديـن او ملـي يووالـي پـه مـټ امنيـت تأميـن کـړي، فسـاد لـه منځـه يوسـي او لـه بهرنيانو سره له وابستګـۍ پرته خپل هېواد اداره کړي.

اوس د راتلونکـې مسـير روښـانه دی: د نظـام لـه تثبيـت څخـه د دوامـدارې پراختيـا او هوساينې پر لور حرکت.

د الله تعالـی جل‌جلالـه پـه تـوکل، د ملـت پـه يووالـي، د اسلامـي امـارت د حکيمانـه رهبـرۍ پـه مـټ، د ظالمانـه بنديزونـو پـه لـرې کېـدو او د نـړۍ د واقعـي همکاريـو پـه پيـل سـره، افغانسـتان کـولای شـي پـه چټکـۍ سـره د آبـادۍ، ځان‌بسـاينې او هـر اړخيـز پرمختـګ پـر لـور ګامونـه واخلـي، او د افغانسـتان راتلونکـې بـه د نـن پـه پرتلـه لا روښـانه وي. د اسلامـي نظام تـر سيوري لانـدې د يـوه آباد، آزاد او پياوړي افغانستان په هيله!

## ٧ مأخذونه

١. د اميرالمؤمنين حفظه‌الله تعالی اعلاميې او فرمانونه.
٢. د ماليې وزارت او د افغانستان بانك كلني راپورونه.
٣. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندويه پلاوي (يوناما) راپورونه.
٤. د افغانستان د اقتصاد په اړه د نړيوال بانك راپورونه.
٥. د اسلامـي امـارت د پوهنـې، عامـې روغتيـا او لـه نشـه‌يي توکـو سـره د مبـارزې اړوندو وزارتونو او ادارو راپورونه.
٦. د سياستوالو، فرهنګي فعالانو او حقوقي كارپوهانو تحليلونه.

# دریم فصل
# معاصر خوارج

# له فتحې وروسته؛ د داعش په وړاندې د اسلامي امارت بریالۍ مبارزه

قیس سعید

کله چې د ۲۰۲۱ کال د اګست په ۱۵مه (د ۱۴۰۰ لمریز کال د اسد ۲۴مه) نېټه د کابل پر لوړو منارو د فتحې سپین بیرغ پورته شو او د بهرنیو اشغالګرو شل کلن پېچلی نظامي حضور د استشهادي اتلانو او مخلصو مجاهدینو د بې ساري عزم پر وړاندې په حیرانوونکې توګه راوپرځېد، د هېواد د ازادۍ د دغه ستر انقلاب د بې ارزښته کولو او بدناملو لپاره د پټو او ښکاره استخباراتي سازمانونو لخوا وروستی او خورا خبیث کارت میدان ته راواچول شو؛ د هغې افراطي پروژې کارت چې نوم یې «داعش» او حقیقي ماهیت یې د اسلامي نظام په خلاف د سیمه ییزو او نړیوالو استخباراتو مقاصد پوره کول وو. دغو فتنه ګرو او د هغوی تر شا ولاړو سیاسي او استخباراتي تمویلوونکو داسې انګېرله وه چې د اسلامي امارت نوی جوړ شوی نظام به په لومړیو وختونو کې د اداري چوکاټونو په رامنځته کولو، فلج شوي اقتصادي سیستم ته په ساه ورکولو او د امنیتي ادارو په تنظیمولو کې دومره بوخت وي چې دوی ته به په اسانۍ سره لاره پرانیستل شي؛ تر څو د بې ګناه مسلمانانو او ملکي وګړو پر عبادتي او تحصیلي ځایونو د بریدونو په لاره اچولو سره، رواني جګړې او عمومي ډار ته لمن ووهي او پر نظام د خلکو اعتماد له منځه یوسي، خو هغوی دا تېروتنه وکړه چې د مجاهدینو لوړ استخباراتي مهارت، نه ماتېدونکي عزم او د هېوادوالو مخامخ ملاتړ ته یې د شك په سترګه وکتل.

له فتحې سمدستي وروسته، د دغې فتنې د ځپلو لپاره د اسلامي امارت لخوا وضعه شوې ستراتیژي کاملاً حیرانوونکې وه. د دفاعي حالت د غوره کولو پر ځای، د استخباراتو عمومي ریاست او ځانګړو ځواکونو د هېواد په کچه د بې رحمانه تصفیوي پراخو او منظمو عملیاتو پر سلسله پیل وکړ. په کابل، ننګرهار، کنړ، جوزجان او فاریاب کې د دغې افراطي شبکې مهم مرکزونه او د ترور پټې ځالې تر سختو او ناڅاپي بریدونو لاندې راغلې. د دغو نښتو او مهمو عملیاتو په پایله کې د هغوی سلکونه بهرني او کورني غړي له منځه یوړل شول او ټول هغه لړلیکونه فلج شول چې له بهر څخه افغانستان ته د جنګیالیو د رالېږلو په لاره کې کارول کېدل. تر ټولو دروند ګوزار دوی

ته هغه مهال ورکړل شو، کله چې د دغې فتنې نظامي طراحان او مشران تر دقیقو او چټکو بریدونو لاندې راغلل؛ لکه د دغې ډلې عمومي نظامي مسؤل چې خپل نوم یې کوثری و او په دغه ډله کې یې د قاري فاتح په نوم شهرت درلود، پخوانی والي او وروسته بیا عمومي قاضي شیخ محمد، د نظامي چارو بل مهم قومندان اعجاز امین اهنګر (ابو عثمان کشمیری) او د مالي او تبلیغاتي برخې سمبالګر حسین. دغه ټول کلیدي کسان مخکې تر دې چې خپل شوم پلانونه عملي کړي، په کابل، ننګرهار او بلخ کې د استخباراتو عمومي ریاست لخوا د هدفمنو عملیاتو پر مهال په خپلو پټنځایونو کې له منځه یووړل شول.

د دې نظامي ضربو ترڅنګ، تر ټولو محوري مبارزه د هغوی د تمویل او تبلیغاتي سرچینو په پرې کولو کې ترسره شوه. لکه څنګه چې ټولو ته څرګنده ده چې دا ډول افراطي او تکفیري جریانونه هیڅکله په یوه افغاني اسلامي ټولنه کې ولسي فکر او مادي ربښې نه شي پیدا کولای، بلکې ټوله تکیه یې له بهر څخه په را حواله کېدونکو ډالرو، د بهرنیو استخباراتي تمویلونکو پر تغذیې او د انټرنیټ پر مجازي منبرونو ولاړه وه. اسلامي امارت د دوی د مالي جریان دقیق کنټرول ترلاسه کړ، د ناانډوله اسعارو انتقال یې محدود کړ او له بلې خوا، د هېواد په کچه جیدو علماوو د مذهبي فتواوو او شفافو څېړنو په واسطه د دغې تکفیري ډلې تور مخ د افغان ولس په وړاندې بربنډ کړ. له دې سره نه یوازې د هغوی مالي سرچینې وچې شوې، بلکې خپل دروغجن اسلامي شعارونه یې هم له ارزښته ولوېدل.

نن چې د هغې تاریخي فتحې پنځه کاله پوره کېدونکي دي، نو هغه فتنه چې سیمه ییزو او نړیوالو استخباراتو او د لوېدیځ میډیایي شبکو یې د لویو جګړو او کډوډیو پېښولو سندرې زمزمه کولې، په منظم ډول تسلیمۍ، زوال او نابودۍ ته رسېدلې ده. د امارتي ارګانونو مسلکي او چټکو کړنو نه یوازې دا چې د افغانستان جغرافیایي سرحدونه د داعش له هر ډول پایښت او تحرك څخه تصفیه کړل، بلکې د ټولې سیمې او ګاونډیو هېوادونو لپاره یې هم دا جوته کړه چې په کابل کې حاکم نظام د امن او ثبات ریښتینی ضامن دی. دا مبارزه بلابحث دا حقیقت ثابتوي چې د حق او د اسلامي امارت د امنیتي او دفاعي ځواکونو د محکم عزم پر وړاندې هېڅ یوه بهرنۍ، پردیپاله او استخباراتي اغوا شوې پروژه نشي کولای د دې اسلامي خاورې تلپاتې ثبات وننګوي او هره فتنه به د تاریخ په تورو پاڼو کې له ورته ذلیلې او دردناکې ماتې سره مخ کېږي، ان شاء الله.

# خوارج ولې د کفارو پر ځای د مسلمانانو وژنې ته ترجیح ورکوي؟

نعمان سعید

الحمد لله، والصلاة والسلام على رسول الله، وعلى آله وصحبه، أما بعد:

د مخکنیو او اوسنیو خوارجو په ټول تاریخ کې به یو ځای هم پیدا نه کړې، چې کومه ځمکه دې یې له کفارو یا مشرکینو څخه فتح کړې وي، بیا د یې هلته اسلام او مسلمانان حاکم کړي وي، ځایي کفار یا مشرکین دې مسلمانان شوې وي.

همدا شان د خوارجو په ټول تاریخ کې به څوک پیدا نه کړې، چې دوی دې خالص مشرکانو یا کافرانو سره د جنګ لپاره راپورته شوې وي، سره له دې، چې د تاریخ په ځینو پړاوونو کې خوارج ډېر په ځواک، شوکت، شمېر او وسایلو له پلوه ښه قوت درلودلی دی؛ خو د دوی ټول تاریخ دا دی، چې هر ځل او هر ځای د هغه مسلمان پر وړاندې را پورته شوې دي، چې د کفارو لپاره خنډ وي، یا د دوی له تکفیري فکر سره جوړ نه وي، او د مسلمانانو په وژلو، ربړولو او له منځه وړلو یې صرفه نده کړې.

په دې لیکنه کې به موږ اول د مخکنیو او اوسنیو خوراجو د فکري، عقیدوي او هدفي یووالي او د هغوی د مشترکاتو لنډ تشریحي تطبیق وکړو او بیا به د حدیثو او مخکنیو علماوو له لیدلوري دا خبره واضحه کړو، چې ولې د خوراجو اصلي هدف مسلمانان دي؟ ولې د کفارو پر ځای دوی د مسلمانانو وژلو ته ترجیح ورکوي؟

## د مخکنیو او اوسنیو خوراجو توافقات:

### ۱ ځواك او وسایل:

اوسني خوارج، لکه داعش د پخوانیو خوارجو په څېر ځواك، وسایل او امکانات لري؛ خو د هماغه پخوانیو خوارجو غوندې د مشرکینو او کفارو پر ضد نه؛ بلکې د مسلمانانو پر ضد یې کاروي.

### ۲ د مسلمانانو وژنه:

اوسني خوراج د خپلو مخکنیو خوراجو غوندې د خپل منحرف او نفسي تاویل، تفسیر او تعبیر پر اساس هر هغه کس مسلمان نه کڼي، چې د دوی نظریه نه مني او ضد یې وي. لکه څنګه چې مخکنیو خوارجو مسلمانان وژل او

کفـارو تـه يـې زيـان نـه رسـاوه؛ اوسـني خـوارج هـم مسـلمانان او د پـوره مسـلمان حکومت په وړاندې بريدونه کوي.

٣ د کفارو پر ضد کمزوري چلند:

پخوانيـو خوارجـو مشـرکانو او کافرانـو تـه زيـان نـه رسـاوه. عينـاً اوسـني خـوارج هـم داسـې دي؛ البتـه ځينـې وخـت د غيـر مسـلمانانو پرضـد فعاليـت لـري؛ خـو هغـه ډېـر کمـزوري وي، يـوازې د ځينـو پـروژو لـه مخـې وي؛ خـو اصلـي تمرکـز يـې د اسلامـي ټولنې پر داخلي شخړو او فتنو دی.

٤ اختلاف ته ترجيح:

د پخوانـي خوارجـو غونـدې، اوسـني خـوارج هـم د مسـلمانانو د اختلافاتـو څخـه ګټـه اخلـي، د شـخړو پـر وخـت راپورتـه کيـږي. دوی د خپلـو هدفونـو او پلانونـو لپـاره فتنـې او وېش ته مخه کوي او د دې لپاره له هيڅ ډول وحشت دريغ نه کوي.

٥ فکري منحرف تاويلات:

د پخوانيـو خوارجـو غونـدې، ننـي خـوراج هـم د اسلامـي شـريعت پـه نصوصـو او سـنتو بانـدې عمـل نـه کـوي؛ بلکـې يـوازې د خپـل افراطـي فهـم، منحـرف تاويـل، غلـط تفسير او نفسي تعبير پر اساس د هر څه او هر چا په وړاندې قضاوت کوي.

بهر حـال! اوس بـه راشـو دېتـه، چـې ولـې خـوارج د کافرانـو پـر ځـای مسـلمانان وژنـي او د مسلمانانو وژلو ته ترجيح ورکوي؟

علمـاء کـرام وايـي: د مشـرکينو سـره د خوارجـو نـه جنګيـدل د رسـول صلـی الله عليـه وسـلم د نبـوت لـه ښـکاره نښـو څخـه ده؛ ځکـه نبـي صلـی الله عليـه وسـلم د دوی پـه اړه هغـه مبـارك ويلـي: "يقتلـون أهـل الإسلام، و يدعـون أهـل الأوثـان، يمرقـون مـن الإسلام كمـا يمـرق السـهم مـن الرمية". معنـی دا، خـوارج داسـې خلـك دي، چـې «مسـلمانان بـه وژنـي او بـت پرسـتان بـه پرېږدي، او لـه اسلامـه بـه داسـې خارجيږي، لکـه غشـی، چې له ليندئ څخه وځي». (بخاري و مسلم)

علامـه قرطبـي رحمـه الله پـه خپـل کتـاب «المفهـم» کـې د دغـه حديـث لانـدې وايـي: قولـه: "يقتلـون أهـل الإسلام، ويدعـون أهـل الأوثـان" هـذا منـه صلـى الله عليـه وسـلم إخبـار عـن أمـر غيـب وقـع علـى نحـو مـا أخبـر عنـه، فـكان دلـيلا مـن أدلـة نبوته صلى الله عليه وسلم... اهـ

يعنـې د هغـه صلـی الله عليـه وسـلم دا وينـا چـې: «مسـلمانان بـه وژنـي او بـت پرسـتان بـه پرېږدي» دا د هغـه صلـی الله عليـه وسـلم لـه لوري د غيبـي امـر اخبـار دی، چـې نـن هماغسـې واقـع شـو، څـه ډول چـې يـې خبـر ورکـړی و؛ دا د هغـه صلـی الله عليـه وسلم د نبوت له دلايلو څخه ده.

او ابـن حجـر رحمـه الله پـه «فتـح البـاري» کـې وايـي: هـو ممـا أخبـر بـه عليـه السـلام

من المغيبات فوقع كما قال. يعني، دا له هغو غيبي خبرو ده، چې نبي صلى الله عليه وسلم يې خبر ورکړی و او هماغسې واقع شوه، چې څه ډول يې ويلي و.
ابن حزم رحمه الله په خپل کتاب «الفصل» کې وايي: قالوا باستعراض كل من لقوه من غير أهل عسكرهم ويقتلونه إذا قال: أنا مسلم، ويحرمون قتل من انتمى إلى اليهود وإلى النصارى أو إلى المجوس ! و بهذا شهد رسول الله صلى الله عليه وسلم بالمروق من الدين كما يمرق السهم من الرمية، إذ قال عليه السلام: "إنهم يقتلون أهل الإسلام و يتركون أهل الأوثان " وهذا من أعلام نبوته صلى الله عليه وسلم؛ إذ أنذر بذلك وهو من جزئيات الغيب فخرج نصا كما قال.
يعني هغوی (خوارج) دا عقيده لري، چې هر څوك چې د دوی له ډلې نه وي او ورسره مخ شي؛ نو پوښتنه ترې وکړي، که ووايي، چې: «زه مسلمان يم» نو هغه وژني او د يهودو، نصاراوو او مجوسيانو وژنه حرامه گڼي ! او رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغوی د همدې کار په اړه شاهدي ورکړې، چې دوی (خوارج) له دين څخه داسې وځي لکه غشی، چې له ليندۍ څخه وځي؛ ځکه هغه صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «مسلمانان به وژني او مشرکين به پرېږدي او دا د هغه صلى الله عليه وسلم د نبوت له ښکاره نښو څخه ده؛ ځکه چې هغه له مخکې خبر ورکړی و او دا د غيب له جزئياتو څخه و؛ عيناً هماغسې واقع شول، لکه څنگه چې يې ويلي و.
او امام احمد په «كتاب السنة» کې روايت کوي: عن عون بن عبد الله، قال: بعثني عمر بن عبد العزيز إلى الخوارج أكلمهم، فقلت لهم: هل تدرون ما علامتكم في وليكم التي إذا لقيكم بها أمن بها عندكم وكان بها وليكم؟ وما علامتكم في عدوكم التي إذا لقيكم بها خاف بها عندكم وكان بها عدوكم؟
قالوا: ما ندري ما تقول !
قلت: فإن علامتكم عند وليكم التي إذا لقيكم بها أمن بها عندكم وكان بها وليكم أن يقول: أنا نصراني ! أو يهودي ! أو مجوسي ! وعلامتكم عند عدوكم التي إذا لقيكم بها خاف بها عندكم وكان بها عدوكم أن يقول: أنا مسلم. اهـ
له عون بن عبد الله څخه روايت دی، وايي: عمر بن عبدالعزيز رحمه الله زه خوارجو ته ور ولېږلم، خبرې مې ورسره کولې؛ ورته ومې ويل: ايا تاسو لپاره کومه نښه شته، د هغه چا په اړه، چې ستاسو دوست وي، چې که له هماغې خبرې سره درسره مخ شي؛ نو تاسو پرې ډاډه شئ او هغه ستاسو دوست وي؟ ستاسو نښه څه ده، د هغه چا په اړه، چې ستاسو دښمن وي، که هغه له همغې

سره درسره مخ شي؛ نو تاسو ترې ووېرېږئ او هغه ستاسو دښمن وي؟
هغوی وویل: موږ نه پوهېږو چې ته څه وایې.
ما ورته وویل: نو ستاسو نښه د دوست لپاره دا ده، چې که درته یې وویل چې: «زه نصراني یم» یا «زه یهودي یم» یا «زه مجوسي یم» نو تاسو دا ده شئ او هغه ستاسو دوست وي! او د دښمن لپاره ستاسو نښه دا ده، چې درته ووایي: «زه مسلمان یم»؛ تاسو ترې ووېرېږئ او هغه به ستاسو دښمن وي.

او شاطبي رحمه الله په «الاعتصام» کې وايي: أخذوا في قتال أهل الإسلام بتأويل فاسد، زعموا عليهم أنهم مجسمون وأنهم غير موحدين، وتركوا الانفراد بقتال أهل الكفر من النصارى والمجاورين لهم وغيرهم.
یعنې هغوی (خوارج) د مسلمانانو پر ضد جګړه پیل کړه، د فاسد تأویل له مخې او پر هغوی یې دا تور پورې کړ، چې ګواکې دوی (مسلمانان) مجسمه دي او موحدین نه دي او د کفارو، نصاراوو او د هغوی د مجاورینو پر ضد یې جګړه پرېښوده.

ابن تیمیه په خپل کتاب «مجموع الفتاوی» کې وايي: هؤلاء الخوارج المارقون من أعظم ما ذمهم به النبي -صلى الله عليه وسلم- أنهم يقتلون أهل الإسلام ويدعون أهل الأوثان وذكر: أنهم يخرجون على حين فرقة من الناس. یعنې دغه له دین څخه وتلي خوارجو، تر ټولو ستر عیب، چې نبي صلی الله علیه وسلم هم ور باندې نیوکه کړې، دا دی چې دوی مسلمانان وژني او مشرکین پرېږدي. بیا وايي: دا خوارج د خلکو د اختلاف او تفرقې پر مهال راپورته کېږي.

# په سومالیه کې د داعش ډلې ظهور او شالید !

احرار جمشید

د افریقا په ختیځ کې د داعش د سومالیه څانګه چې د (ابنا⊠ الخلافه) په نامه هم یادېږي، د ۲۰۱۵م کال په اکتوبر کې د الشباب جهادي غورځنګ یو غړی عبدالقادر مؤمن، چې په خپل صف کې متشدد او اختلاف کونکی کس بلل کېده. د نوموړي په مشرۍ؛ چې په پونټلینډ نیمه خپلواکه سیمه کې یې فعالیت کاوه، له خپلو نالوستو او سرناخلاصه ملګرو سره جلا او په یوه ویډیویي پیغام کې یې د داعش د هغه وخت له مشر ابوبکر البغدادي سره بیعت وکړ.

دا بیعت د داعش د سومالیه څانګې د جوړېدو پیل وو.

امنیتي تحلیلګران وایي، هغه مهال په سومالیه کې د الشباب جهادي غورځنګ پر مخ او ګړندی روان وو، چې د افریقا لویې وچې مرکزي حکومت او د بهرنیو استخباراتي سازمانونو په همغږۍ او مشورو وروسته یې په دغه هیواد کې د جهادي حرکتونو د مخنیوي لپاره، د عبدالقادر په مشرۍ دغه ډله د اوږد مهال وخت لپاره را پورته او د داعش له مرکز شام سره یې په تماس کې کړه.

د دې بیعت وروسته، دا څانګه په پیل کې کوچنۍ وه. د الشباب جهادي غورځنګ او د نورو مسلمانانو سره یې سختې جګړې کولې؛ خو د ۲۰۱۷م په ډیسمبر میاشت کې د داعش مرکزي قیادت، دا ډله په رسمي ډول د خپل ولایت په توګه ومنله او د "ولایة الصومال" په نوم یې ونوموله.

دا ډله په عمده ډول، په پونټلینډ (شمال ختیځه سومالیه) په ځانګړې توګه، د باري په غرنیو سیمو کې فعالیت کوي.

د داعش سومالیه څانګه په تېرو کلونو کې نسبتاً کمزورې وه؛ خو په ۲۰۲٤ او ۲۰۲۵ کې یې بیا پیاوړتیا او فعالیت ښکاره کړ. د بیا راپورته کېدو اصلي علتونه یې خورا مهم دي، چې په لاندې ډول یې خلاصه کوو:

لومړی: د سومالیه کمزورې مرکزي حکومتولي او دوامداره سیاسي بې ثباتي د داعش لپاره یو مناسب چاپیریال برابروي. په خاص ډول په پونټلینډ سیمه کې، چې نیمه خپلواکه ده، حکومتي کنټرول کمزوری دی، قبیلوي شخړې زیاتې دي او اقتصادي ستونزو خلک په نا امیدۍ کې اچولي. داعش دا

تشـې د ځـان لپـاره یـو فرصـت ګڼـي، خلـك اسـتخداموي او او خپـل حضـور پیـاوړی کوي.

دویـم: پـه صومالیـه کـې د داعـش ډلـې د بهرنیـو جنګیالیـو شـمېر ډېـر زیـات شـوی دی، شـاوخوا ۶۰ سـلنه جنګیالـي بهرنیـان دي، دا بهرنیـان لـه نـورو افریقایـي او د سـیمې لـه هیوادونـو څخـه راځـي، چـې د داعـش لپـاره یـو پیـاوړی او منظـم ځـواك جوړوي. دغـه راز د داعـش مشـر عبدالقـادر مؤمـن چې لـه پخـوا راهیسـې پـه صومالیـه کـې دی، د نړیـوال داعـش پـه مشـرتابه کـې مهم رول لوبـوي، چـې دا هـم د دې ډلـې لپاره مالي او لوژستیکي ملاتړ بلل کېږي.
دریـم: داعـش ډلـه پـه پونټلینـډ کـې د اکسـتوریشـن ( اجبـاري ټیکـس ) او حتـی د کریپټـو اسـعارو لـه لارې قـوي مالـي سـرچینې ترلاسـه کـړې دي. دوي لـه سـوداګرو او شـرکتونو څخـه میاشـتنی پیسـې اخلـي، کـه یـې څـوك ورنـه کـړي ګواښـوي یې او یا برید پرې کوي.
د بیلګـې پـه توګـه، پـه ۲۰۲٤م کال کـې یـې پـه بوصاصـو ښـار کـې ځینـي لـوي روغتونونـه او شـرکتونه ددې لـه املـه تړلـي وو، چـې پیسـې یـې نـه ورکولـې. د غربـي نهادونـو او د ملګـرو ملتونـو راپورونـه وایـي، چـې داعـش پـه صومالیـه کـې میلیونونـه ډالـر لـه سـوداګر، شـرکتونو، وارداتـو، مالـداری او زراعـت څخـه د اجبـاري ټیکـس یـا زکـات پـه نـوم راټولـوي، چـې دا پیسـې د جنګیالیـو معـاش، وسلو او استخدام لپاره کارول کېږي.
څلـورم: د الشـباب جهـادي غورځنـګ سـر سـیالي او پـه عیـن وخـت کـې د سـیمې نـا امنـي (لکـه د غربـي ځواکونـو کـم حضـور او اتمیس ماموریت بدلـون ) د داعـش لپـاره یـو فرصـت پیـدا کـړی دی. داعـش کـه څـه هـم د الشـباب جهـادي غورځنـګ پـه نسـبت کمـزوری ښـکاري؛ خـو د داعـش د نړیوالـې شـبکې سـره د پیوسـتون لـه املـه مالـي او عملیاتـي کټـې ترلاسـه کـوي، چـې دې کار یـې هـم وده چټکـه کړې ده.

# د هجرت سپېڅلتیا او د داعش ناوړه استفاده !

خالد احرار

په اسلامي تعلیماتو کې هجرت یو لوړ او مقدس مفهوم دی. قرآن کریم کې الله تعالیٰ فرمایي: «وَالَّذِينَ هَاجَرُوا فِي اللَّهِ مِن بَعْدِ مَا ظُلِمُوا لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَلَأَجْرُ الْآخِرَةِ أَكْبَرُ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ» (النحل: ٤١).
هجرت د ظلم او کفر له چاپېریال څخه د اسلامي ژوند او عقیدې ساتنې لپاره کېده کول دي. د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم هجرت له مکې معظمې څخه مدینې منورې ته د اسلامي تاریخ یو تر ټولو مهم پړاو و، چې د صبر، قربانۍ او ایماني زور سمبول ګرځېدلی دی.
رښتینی هجرت د الله تعالیٰ د رضا لپاره کېږي، نه د شخصي اغراضو یا د یوې ډلې د سیاسي آجندا لپاره. خو د داعش په څېر افراطي ډلې او په ځانګړې ډول د هغې خراسان څانګه دا سپېڅلی مفهوم په ناوړه ډول کاروي. دوی هجرت نه د عقیدې ساتنې یا اسلامي ژوند لپاره؛ بلکې د خپلې تبلیغاتي او جګړه‌ییزې آجندا لپاره یوه وسیله ګرځولې ده.
داعش په خپل تبلیغاتي چل و هنر (په ټولنیزو رسنیو، د خراساني داعشیانو مربوطو مجلو او نورو چینلونو کې) تل د «خلافت» د بیا جوړولو او «تمکین» خبرې کوي. دوی بهرنیو مسلمانانو ته (په ځانګړې ډول له پاکستان، افغانستان، مرکزي آسیا او حتیٰ اروپا څخه) وایي: «دلته تمکین او مرکزونه شته، هرڅه منظم او چمتو دي.»، «هجرت وکړئ، دلته به تاسو ته کور، عزت، ورورولي او د خلافت برخه درکړل شي.» - «ستاسو هجرت به د اسلام لپاره لوړ مقام وي.»

په عین حال کې دا وعدې زړه راښکونکې او غوړې ښکاري، څکه چې ډېر ځوانان په خپلو هېوادونو کې له اقتصادي، ټولنیزو او سیاسي ستونزو سره مخ دي. خو په واقعیت کې دا وعدې ډېرې وختونه دروغ او فریب دي. داعش چې په پاکستان کې ښکاره او په افغانستان کې په پټه فعالیت کوي، بشپړ تمکین یا فزیکي خلافت نه لري. دا ډله په پاکستان کې په پټو شبکو، سرحدي سیمو او ځنګلونو کې مرکزونه لري، په عمده ډول په خپلو بریدونو کې د مسلمانانو په هدف ګرځولو تمرکز لري، نه په حکومت جوړولو یا

اسلامي نظام قائمولو.
ډېر کسان چې په پاك نيت سره د دوی په غوږو او تراشل شويو وعدو (د خلافت د جوړولو لپاره) «هجرت» کوي، په حقیقت کې د خراساني داعشيانو لخوا په افغانستان او سيمه کې د عامو مسلمانانو پر ضد کارول کېږي. دوی ته ويل کېږي چې دلته هرڅه چمتو دي، خو کله چې رسېږي نو په عملي جګړه يا د نورو مسلمانانو په وړاندې استعمالیږي. په ۲۰۲۵-۲۰۲٦ کې هم راپورونه شته، چې داعش له بهرينو اتباعو څخه د جلب او جذب په برخه کې استفاده کړېده.

د داعش «خلافت» يوازې په ميډيا کې شتون لري. په حقيقت کې دا د څو افراطيانو پټ شتون او بريدونه دي. دوی د «هجرت» نوم په کارولو سره خلك راکرځوي، خو پايله يې فتنه، وژنه او د مسلمانانو تر منځ تقسیم دی.
د فکر وړ خبره دا ده، چې ولې دا ناوړه استفاده خطرناکه ده؟
يو/ د هجرت سپېڅلتيا ته سپکاوی: هجرت د ظلم څخه تېښته او د اسلامي ژوند لپاره دی؛ نه د ترهګرۍ او فتنې لپاره.
دوه/ د ځوانانو تباهي: ډېر بې ګناه کسان په پاك نيت لاړ شي، خو يا وژل کېږي يا په جرمونو کې ښکېل کېږي.
درې/ د مسلمانانو تر منځ فتنه: د داعش خراسان بريدونه په عمده ډول په مسلمانانو کې مرګ ژوبله اړوي، چې د مسلمان وژنه تر ټولو ستره فتنه ده.
څلور/ تبليغاتي فريب: په ميډيا کې ښودل شوی «تمکين» يوازې د څو تنو افراطيانو عکسونه او ويډيوګانې دي چې حقيقت پټوي.

ددې ټول تحليل پايله دا را وزي، چې هجرت يو مقدس عمل دی چې په اسلام کې يې لوړ مقام دی، خو د داعش په څېر افراطي ډلو يې ناوړه استفاده کړې تر څو خپلې تباهي کاره اجندا ته لمن ووهي. مسلمانان بايد د داسې تبليغاتو څخه خبر اوسي او د معتبرو علماوو له مشورې پرته هېڅ «هجرت» ته زړه ښه نه کړي. رښتينی اسلام د مسلمان ملت د يووالي غوښتونکی دی، نه د وژنې او فتنې.
د داعش دا چل ول په ۲۰۲۵-۲۰۲٦ کې هم دوام لري، خو امنيتي ځواکونه يې په ځارلو بوخت دي. هر مسلمان ته پکار دي چې د اسلام رښتيني تعليمات مطالعه کړي او له دروغو وعدو څخه ځان وساتي او د چا د تشو باتو په لومه کې ښکيل نشي.

# څلورم فصل
# ديني او جهادي ليكني

# غرناطه پرون، غزه نن؛ د اسلام د وروستي مورچل د بقا جګړه!

نعمان سعید

په اندلس کې د اسلامي غرناطې د پاچاهۍ دوه پېړۍ پاتې کېدل، د اسلام له معجزو څخه یوه معجزه وه. دا اسلامي ټاپو، چې د صلیبي نړۍ د کرکې، دښمنۍ او تاریخي مکرونو په توپاني سمندر کې لامبو وهله، هیڅکله به یې دومره اوږد او مشهور مقاومت نه وای کړی، که د مقاومت روح یې د اسلامي عقیدې او اصولو څخه نه وای راټوکېدلی.
له اسلامي عقیدې پرته به دا ټاپو هېڅکله نه وای توانېدلی، چې په اندلس کې د دښمن په وړاندې په یوازې ځان ودرېږي، په داسې حال کې چې تر دې وړاندې ټول اسلامي ښارونه او کلاوې آن دوه پېړۍ مخکې سقوط شوې وې. دې چیلنج ته قانوني ځواب هغه راز دی، چې غرناطه یې آن دوه پیړۍ د اسلامي فکر او عالي تمدن څخه ډکه وساتله. د غرناطې خلکو دا خبره احساسوله، چې داسې یو دښمن ورڅخه چاپېر دی، چې د هر ډول فرصت په تمه دی، څو دوی تېر باسي او دا چې د اسلامي نړۍ څخه د بریا راوارډول ناشوني دي؛ نو بایده دي، چې پرخپلو متو تکیه وکړي.

همدا احساس د دوی لپاره تر ټولو ستر محرك و، ترڅو د هر ډول حالاتو په وړاندې د تل لپاره چمتو واوسي، د جهاد بیرغ لوړ وساتي او خپل اسلام ته ټینګ پاتې شي. په همدې توګه غرناطه تر ۱۴۹۲م (۸۹۷هـ) پورې د اسلامي اندلس ملکه پاتې شوه، د علومو مناره او په اروپا کې د اسلامي تمدن وروستۍ ځلانده مشال و.
خو د غرناطې د سقوط نه مخکې کالونو کې د اندلس په ژوند کې بدلون راغی. د عیسویانو یو ستر اتحاد رامنځته شو، چې د اسلام پر ضد تر ټولو سترې دوې عیسوي پاچاهۍ، یعنې د ارغون او قشتالې سلطنتونه سره یو ځای شول.
دا اتحاد د قشتالې د ملکې «ایزابېلا» او د ارغون پاچا «فرناندو» د واده په وسیله بشپړ شو. د دې دواړو کاتولیك پاچاهانو د واده د شپې خوب دا و چې غرناطه ونیسي، شهر العسل په الحمرا ماڼۍ کې تېره کړي او د غرناطې د څارنې په تر ټولو لوړ برج صلیب نصب کړي.

په اسلامي ارخ کې بیا د غرناطې په سلطنت کې سخت اختلافات راولاړ شوي وو، په ځانګړي ډول د واکمنې کورنۍ ترمنځ. دا کوچنۍ پاتې غرناطه په دوو برخو وېشل شوې وه، چې یوه برخه یې په پلازمېنه غرناطه کې ابو عبدالله محمد بن ابو الحسن النصري (د غرناطې وروستی پاچا) اداره کوله او بله برخه یې وادي آش او شاوخوا سیمې وې، چې د هغه تره ابو عبدالله محمد پرې واکمن و.
کاتولیك پاچاهانو په ۸۹٤هـ کې پر وادي آش او اړونده سیمو برید پیل کړ او وتوانېدل وادي آش، المریه، بسطه او نورې سیمې ونیسي، تر دې چې د غرناطې تر دروازو ورسېدل. بیا یې ابو عبدالله النصري ته استازي ولېږل او ترې ویې غوښتل، چې د الحمرا ښکلې مانۍ دوی ته وسپاري، او هغه دې د دوی د ساتنې لاندې په غرناطه کې ژوندی پاتې شي.
د تاریخ د تکراري دورو د نورو کمزوریو واکمنانو په څېر دا پاچا هم کمزوری و؛ ځکه خو هغه د دې ورځې لپاره چمتووالی نه و نیولی؛ خو پوهېده، چې دا غوښتنه د اندلس د وروستي اسلامي سلطنت د تسلیمۍ معنا لري، نو یې رد کړه. جګړه د مسلمانانو او عیسویانو ترمنځ پیل شوه او دوه کاله یې دوام وکړ.

په دې جګړه کې یو مسلمان اتل چې د مجاهدینو په زړونو کې یې د غیرت او استقامت اورونه بل ساتل؛ هغه «موسی بن أبي الغسان» و، داسې یو اتل چې د لمر د وروستۍ ځلا په څېر د لوېدو نه مخکې راښکاره شو. د همدې اتل او د هغه د ملګرو په برکت غرناطې دوه کاله د کاتولیك پاچاهانو پر وړاندې مقاومت وکړ او اووه میاشتې یې سخته کلابندي وزغمله.
البته بیا هم د جګړې پایله څرګنده وه؛ ځکه ابو عبدالله هغه څوك و، چې وروستي سلطنت یې د یو ریښتیني سړي په څېر ونه ساته؛ هلته کورنۍ اختلافات، داخلي وېش د عیسوي جبهې د بشپړ اتحاد په مقابل کې خپله یو فرصت ورکول وو. همدا شان هغه د اوږدې مودې تاریخي انحرافونه، قومي تعصبونه، غیر شرعي او غیر اصولي لانجې او شخړې، چې د پخوانیو سقوط شویو اسلامي سلطنتونو څخه یې په میراث اخیستې وې، دا ټول عوامل د دې سبب شول، چې په اندلس کې د اسلام وروستۍ شمعه هم مړه شي.

کله چې ابو عبدالله، د غرناطې وروستی پاچا، په بېړۍ کې سپور شو او له اسلامي غرناطې څخه روان شو او د داسې یوې خاورې نه یې وروستۍ رخصت

اخیسـت، چـې اتـه پېړۍ یـې د اسلام تـر سـیوري لانـدې پـه اروپـا کـې سـاه اخیسـتې وه؛ پـه دې دردنـاك او تراژیدیـك حالـت کـې ابـو عبـدالله پـر خپـل لـه لاسـه وتلـي سـلطنت وژړل او د خپلـې مـور هغـه تاریخـي خبـرې یـې واورېدې: «اوس نـو د ښځو پـه څېر پر هغه پاچاهۍ ژاړه، چې د سړیو په څېر دې ونه ساتله».
حقیقـت دا دی چـې د هغـه مـور پـه همـدې یـوه جملـه نـه یـوازې خپـل زوی رټلـی و؛ بلکـې د اسلامـي نـړۍ درېـر هغـه واکمنـان یـې هـم غندلـي دي، چـې د ښځو پـه څېـر یـې پـر هغـه سـلطنت وژړل، چـې د سـړیو پـه څېـر یـې نـه و سـاتلی. د ښـکلې اسلامـي غرناطـې د سـقوط کیسـه یـوازې د تاریـخ تـوره پاڼـه نـه ده؛ بلکـې د اسلامـي امـت لپـاره یـو ژونـدی درس، یـو دردنـاك عبـرت او د راتلونکـو نسـلونو لپـاره د تنبیـه زنـګ دی. غرناطـې هغـه مهـال سـقوط ونـه کـړ، چـې دښـمن قـوي شـو؛ بلکـې هغـه وخـت راولوېـده، کلـه چـې مسـلمانان کمـزوري شـول، اختلافونـو سـره وویشـل، شـخصي کتـو د امـت د مصلحتونـو ځـای ونیـوی او هـر لـوری یـوازې د خپـل قـدرت، خپل نفوذ او خپلې څوکۍ د ساتلو په فکر کې شو.

نـن چـې سـړی غـزې تـه ګـوري؛ محاصـره، لـوږه، بمبـار، د ماشـومانو چیغـې، د مینـدو اوښـکې او د امـت چوپتیـا وینـي؛ نـو د غرناطـې هماغـه وروسـتی ورځـې ورپـه یادېږي. هماغـه حالـت، هماغـه درد او هماغـه تکـرار. هلتـه هـم مسـلمانان یـوازې پرېښـودل شـوي وو او نـن غـزه هـم د نـړۍ د ظلـم، د دښـمن د اتحـاد او د امـت د بې‌وسـۍ ترمنځ ولاړه ده.
د غرناطـې خلـك پوهېـدل، چـې تـر شـا یـې بـل قـوي ځـواك نشـته؛ نـو ځکـه یـې پـه خپـل ایمـان، جهـاد ، قربانـۍ او اسـتقامت تکیـه کـړې وه. غـزه هـم نـن پـه همـدې روحیـه ولاړه ده. هغـه ماشـومان، چـې د بمونـو تـر سـیوري لانـدې قرآن حفـظ کـوي، هغـه مینـدې چـې خپـل شـهید زامـن پـه ډېـر ویـاړ بدرګـه کـوي او هغـه مجاهدیـن، چـې د نـړۍ د پرمختللـو وسـلو پـر وړانـدې لا هـم مقاومـت کـوي؛ دا ټـول د همـدې اسلامي عقیدې د ژوندي پاتې کېدو نښې دي.

خـو تاریـخ دا هـم راښـیي، چـې یـوازې د څـو اتلانـو قربانـي امـت نـه ژغـوري، ترڅـو چـې امـت پـه ټولیـزه توګـه راویـښ نشـي. غرناطـې د داخلـي اختلافونـو، قومـي تعصبونـو، د واك پـر سـر شـخړو او د کمـزورو واکمنانـو لـه املـه سـقوط وکـړ. نـن هـم کـه امـت د ژبـې، قـوم، سیاسـت او ډلـې پـه نـوم وېشـل شـوی پاتـې شـي؛ نـو د غـزې درد بـه یـوازې د غـزې تـر دیوالونـو محـدود پاتـې نشـي؛ بلکـې دا اور بـه د ټـول امـت تـر دروازو ورسېږي.

غـزه نـن د امـت لپـاره یـوه هنـداره ده. هـر څـوك بايـد خپـل حالـت پـه کـې ووينـي. څـوك چـې د مظلومانـو ملاتـړ نـه کـوي، څـوك چـې د امـت درد يـوازې د خبرونـو تـر سـرلیکونو محدود کړي او څوك، چـې د مسـلمانانو لـه وينـو سـره عـادي شـوي؛ هغـوی دې د غرناطـې وروسـتۍ صحنـه پـه يـاد کـړي. هغـه ورځ چـې وروسـتی پاچـا د خپلـې لـه لاسـه وتلـې پاچاهـۍ پر سر ژړل، خو ژړا يې نور هېڅ ارزښت نه درلود.

امـت بايـد پـوه شـي، چـې تاريـخ يـوازې د لوسـتلو لپـاره نـه وي؛ بلکـې د عبـرت اخيسـتلو لپـاره وي. کـه د غرناطـې لـه سـقوطه درس وانخلـو، کـه د غـزې لـه مقاومـت څخـه تنبيـه نشـو او کـه خپـل اختلافونـه د دښـمن د اتحـاد پـر وړانـدې ختـم نکـړو؛ نو راتلونکـی نسـل به زموږ په اړه هم هماغه جمله تکرار کړي:
«تاسو پر هغه امت وژاړئ، چې د ساتلو لپاره مو د سرېو په څېر دريغ ونه نيوه.»

# د عزالدين حداد د وينو پور او د اسلامي نړۍ مسؤليت

**سيف اجمل**

د تاريخ پاڼې تل د هغو اتلانو په وينو رنګينې شوې دي چې د خپل هېواد، عقيدې او ناموس د دفاع لپاره يې خپل سرونه قرباني کړي دي. د فلسطين په پاکه خاوره کې د حماس د اسلامي غورځنګ د عسکري او پوځي قيادت د اتلانو شهادتونه د همدې وياړلي تاريخ ژوندي مثالونه دي. له مشرانو څخه نيولې تر کشرانو پورې، د غزې د شمالي څنډې د دفاع اتل او طراح عزالدين حداد تقبله الله تعالی لومړی قومندان نه دی چې په شهادت رسېږي، بلکې له هغه وړاندې د نومورې نور ملګري هم يو په بل پسې د شهادت لوړ مقام ته رسېدلي.
دغو مېړنيو داسې بې‌سارې قرباني ورکړه چې د امت په تاريخ کې به تل ځلانده پاتې وي. هغوی ته د زړه له تله د شهادت مبارکي وايوو؛ هغوی په خپل همت نړۍ ته وښوده له چې عقيده او عزم تر هر ډول مادي ځواك لوړ دي. د دوی د پاکو وينو هر څاڅکی د آزادۍ د سهار لمر دی او د هغوی ياد به د نسلونو لپاره د مقاومت مشعل وي.

د دغو اتلانو په وړاندې د جګړې په ډګر کې، د صهيونيستي غاصب او متجاوز رژيم ماتې د دې لامل شوه چې هغوی په غزه کې پر بې‌ګناه ملکي وګړو، ښځو او ماشومانو ړندې بمبارۍ وکړي. دغه جنايتکاره رژيم د جګړې ټول نړيوال او بشري اصول تر پښو لاندې کړي دي. پر روغتونونو، ښوونځيو، جوماتونو او د کډوالو پر کېمپونو بريدونه د هغوی د وحشت او ماتې ښکاره نښه ده. دا جګړه نه ده، بلکې يو داسې سيستماتيك نسل وژنه ده چې د تاريخ په مخ کې به د تل لپاره د شرم د داغ په توګه پاتې شي. موږ دا بې‌رحمانه او د هر ډول انساني ارزښتونو خلاف بريدونه په کلکو ټکو غندو.
خو تر ټولو لويه تراژېدي دا ده، چې د دغه ستر وحشت په وړاندې د اسلامي نړۍ اکثريت حاکمان او ولسونه په يو داسې مصلحت‌آميزه چوپتيا او ضعف کې ډوب دي چې د شرم وړ ده. د عزالدين حداد تقبله الله تعالی د وينو پور تأديه کول د ټول مسلمه اُمت يو نه هېرېدونکی مسؤليت دی؛ موږ وينو چې نن ورځ له يو نيم ميليارد څخه زيات مسلمانان د نړۍ په کوټ کوټ کې ژوند کوي، خو بيا هم د ذلت او بې‌وسۍ ښکار دي.

د دې اصلي علت دا دی چې مسلمانان په خپلو منځونو کې په قومي، نژادي، ژبنيو او بې‌فايدې مذهبي کشالو کې بند پاتې دي. هغوی د امت د واحد جسد مفهوم هېر کړی دی. پر ځای د دې چې خپل ټول توان د ګډو دښمنانو او د خپلو مقدساتو د دفاع لپاره وکاروي، په خپلمنځي اختلافاتو کې خپله انرژي ضايع کوي. دا د امت د ضعف تر ټولو لويه نقطه ده، چې تل د اسلامي حکومتونو د نړولو لپاره د پله په څېر استفاده شوې ده.

په داسې کونکو او نااميده کونکو حالاتو کې، د افغانستان د اسلامي امارت مشران د ټول مسلمه امت لپاره د هيلو رڼاکانې او د ژورې خواخوږۍ مظهر دي. اسلامي امارت نه يوازې په لفظي توګه د مظلومو مسلمانانو حمايت کړی، بلکې په عملي ساحه کې يې ثابته کړې چې څنګه د نړۍ د لويو قدرتونو د فشار باوجود؛ د خپلو ورونو په دفاع کې مالي او ځاني کومک ته آماده ولاړ دي.

د اسلامي امارت مشران د خپل ځانګړي سياسي مصلحت، پياوړي حکمت او عملي تدبير له لارې کولای شي د مسلمه امت د غه سيلاب اخيستې طوفاني کښتۍ د ساحل په لور رهي کړي. د دوی تګلاره پر دې ولاړه ده چې:

. مسلمانان بايد له داخلي اختلافاتو تېر شي او پر يووالي تمرکز وکړي.

. له احساساتو لېرې، د سيمې او نړۍ له واقعيتونو سره سم منظم او حکيمانه ګامونه پورته کړي.

. د امت سياسي او نظامي استقلاليت بېرته ترلاسه کړي.

. يوازې د همدې پياوړي او مصلحت‌آميزه حکمت په سيوري کې امت د رښتيني نجات لاره موندلی شي او د نړۍ په کچه خپل بيلل شوی وقار بېرته ترلاسه کولای شي.

# د جهل او استکبار یووالی؛ له تهرانه تر کونړه
# د "علم وژنې" کډه ستراتیژي

سیف الدین

کله چې د یوه وحشي رژیم پوځي الوتکې د ملکیانو پر کورونو او د محصلینو د علمي درسګاوو پر مقدسو دیوالونو بمونه وروي، دا یوازې یوه پوځي تېروتنه نه ده؛ بلکې دا د هغې صهیونیستي پروژې یوه برخه ده چې غواړي د منځني ختیځ د ویښو ملتونو مغزونه په بارودو فلج کړي. پر کونړ د پاکستاني رژیم وروستي بریدونه، چې د سید جمال الدین افغاني پوهنتون او د سرکانو مېشت کلي یې په وینو لېت پېت کړل، په حقیقت کې د هغې "وحشیانه هنداري" یو عکس دی چې اسراییل او امریکا یې په سیمه کې کاروي.
دا بمباري په دقیق ډول د هغو جنایتونو کاپي ده چې څه موده وړاندې د ایران په زړه (تهران) کې د زده کوونکو یو تعلیمي مرکز په نښه شو. هلته هم هدف "پوهه" وه او دلته هم. دا ډول پاروونکې کړنې ښکاره کوي چې د افغاني محصلینو د وژونکي رژیم ختېه له هغو اشغالګرو سره اخښل شوې چې په لبنان او تهران کې یې پوهنتونونه او کتابتونونه په نښه کړل ترڅو راتلونکي نسلونه د ذلت په تیاره کې وساتي. د کونړ پر پوهنتون برید، د هغې فکري جګړې دوام دی چې غواړي افغان ځوان له کتابه لیرې او په جګړو کې ښکېل وساتي.

په سرکانو کې د یوه کلي بشپړ په نښه کول ثابتوي چې د بریدګر منطق د "بې توپیره وژنې" پر بنسټ ولاړ دی. دا هماغه وحشت دی چې نن یې اسراییل په لبنان کې ترسره کوي؛ هلته چې ملکي کورونه د جنګي الوتکو د تمرین په ډګر بدل شوي. کله چې یو رژیم د خپلو همژبو او ګاونډیو په وړاندې د صهیونیستي تاکتیکونو څخه کار اخلي، دا په ډاګه کوي چې د هغوی "استراتیژیک عمق" نور په انساني وژنه او د مېشت ځایونو په ویجاړۍ کې خلاصه شوی دی.
هغه رژیم چې د پوهنتون پر لیلیه او تدریسي خونو بم غورځوي، په حقیقت

کې يې د سيد جمال الدين افغاني هغې فلسفې ته ماته منلې چې د اسلامي نړۍ د يووالي او بيدارۍ غږ يې پورته کاوه. دا بريدونه يوازې پر خاوره تېری نه دی، بلکې پر هغه مشترك تمدن بريد دی چې علم او معرفت يې د بقا ضامن وو.
تاريخ ثابته کړې چې د بارودو په لوګيو کې د علم ډيوې نه مړې کېږي. که امريکا په تهران کې، اسراييل په بيروت کې او د پاکستان متجاوز رژيم په کونړ کې پوهنتونونه په نښه کوي، دا د هغوی د "فکري افلاس" نښه ده. د کونړ د پوهنتون هر ويجاړ شوی ديوال به د داسې يوې بيدارۍ بنسټ شي چې د بريدګر رژيم د زوال نغاره به وغږوي.
پوهنتون د انسانيت د بقا مرکز دی او پر هغه بريد په حقيقت کې د بشري ارزښتونو ننګول دي. زموږ قلمونه به د جګړې او وحشيانه بمبارونو په وړاندې د عدالت او رڼا تاريخي مبارزه جاري ساتي. کونړ د نړۍ د هغو تحصيلي مرکزونو استازيتوب کوي چې د استعمارګرو د بريدونو هدف ګرځېدلي دي.

# د پاکستان غیور ولس د پوځي طاغوتي رژیم په اسارت کې!

ذوالکفل ذکي

پر هند د اسلام اته سوه کلن حاکمیت خپلې ریښې د زړونو تل ته ښکته کړې وې. د برتانوي اشغال او د مسلمانانو له زوال وروسته هم په دې خاوره کې د اذان اوازونه له دنګو منارونو څخه اوچتېدل. دلته د مسلمانانو نسلونه یو په بل پسې اوسېدل؛ د برتانوي استعمار پر وړاندې د مقاومت او خپلواکۍ ترلاسه کولو سرخېل هم همدا مؤمنې پرګنې وې.
د پاکستان د رامنځته کېدو کیسه یوازې یوه سیاسي پېښه او جغرافیوي بېلېدنه نه ده، بلکې د ایمان، فکر او هویت یوه ژوره څپه وه چې د مسلمانو ولسونو په زړونو کې راولاړه شوه. دې سپېڅلې مفکورې له اسلامي ارزښتونو، عقیدوي پیوستون او د امت د یووالي له تصور څخه الهام اخیست. هغه وخت چې د برصغیر مسلمانان د برتانوي هند د وېش پر درشل ولاړ وو، دوی یوازې د یوې محدودې جغرافیې د بېلتون غوښتونکي نه وو، بلکې د داسې هېواد هیله یې لرله چې د اسلام د سپېڅلو اصولو پر بنسټ پکې ژوند تنظیم شي، اسلام پکې حاکم وي او د «لا اله الا الله» تر سیوري لاندې د امن او امان ژوند ولري.

د دې غورځنګ اصلي ځواک غیور مسلمان ولس و. دا ولس چې د عقیدې په رڼا کې راویښ شوی و، د اسلامي هویت د ساتنې لپاره یې بې‌شمېره قربانۍ ورکړې. هغوی باور درلود چې اسلام یوازې یو دین نه، بلکې یو بشپړ نظام دی چې سیاست، اقتصاد او د ژوند ټول اړخونه په بر کې نیسي. د برصغیر جغرافیه، چې تازه د برتانوي ښکېلاک له اشغال څخه آزاده شوې وه، مسلمانانو یې هم د خپل دین، کلتور او تاریخ له مخې دا مسلم حق درلود چې خپل مستقل نظام ولري، اسلام پکې حاکم وي او په یوه اسلامي جغرافیه کې ژوند وکړي.
د همدې هدف د تحقق لپاره دیني علماوو، فکري مشرانو او عام ولس په کده مبارزه پیل کړه. هغوی د قرآن او سنتو له لارښوونو څخه الهام اخیست او د عدالت او وروروليٰ پر بنسټ یې د یوې اسلامي ټولنې خوب په حقیقت بدل کړ. د پاکستان د جوړښت ریښه یوازې په سیاست کې نه، بلکې په اسلامي

فکر، د امت په شعور او د يو خپلواک اسلامي نظام په ارمان کې پرته وه. دا يو داسې داستان دی چېرته چې ايمان د تاريخ مخ بدل کړ او ولس د خپل دين د ساتنې لپاره يو نوی وطن وزېږاوه.

مګر هر څه د اټکل او تخيل برعکس راووتل؛ د اسلام او اسلامي شريعت د تحکيم تر شعار لاندې رامنځته شوې دا جغرافيه يو ځل بيا د غرب په لاسونو کې ولوېده. د اسلامي شريعت پر ځای د غرب له خوا جوړ شوی قانون او ديموکراسي حاکمه شوه، او سيکولريزم او جمهوريت پر ولسونو په زور تحميل شول.
يوه داسې کړۍ واک ته ورسېده چې غربي منافعو ته تر غربيانو هم زيات متعهده ثابته شوه. له هغې ورځې راهيسې چې دې پوځي رژيم د واک واکې په لاس کې اخيستي، له اسلام، امت او خپل ولس سره يې دښمني پيل کړې، د غرب او امريکا پروژې پر مخ وړي او په ناچيزو مادي امتيازاتو خپل ولس او ارزښتونه پلوري.
تبعيضي چلند يې د قومونو او ولسونو تر منځ ژور اختلافات راپارولي دي، تر دې حده چې يو مسلمان بل مسلمان خپل دښمن بولي. د يو قوم خلک د ژوند له لومړنيو اړتياوو څخه بې برخې دي، خو د بل قوم وګړي پرمختللی ژوند لري. له همدې وخته چې دا کړۍ واک ته رسېدلې، لوړو مالياتو او پورونو ولس له سختو ستونزو سره مخ کړی، خو همدا واکمن کسان د شخصي الوتکو څښتنان دي.

### اې د پاکستان غيور ولسه !

دا هماغه پوځ او طواغيت دي چې ستاسو په سلګونو عرب مجاهد ورونه، هغه چې د خپلو مسلمانو ورونو د مرستې لپاره راغلي وو او د شوروي اتحاد امپراتوري يې د الله په نصرت ټوټه ټوټه کړه، په غدر او دوکه يې پر امريکا او غرب وپلورل. دا هماغه حکام دي چې د امت يو پېژندل شوی شخصيت، شيخ اسامه رحمه الله، يې – چې د جهاد مفکوره يې بيا راژوندۍ کړه – کله چې د نړۍ پر مخ ځای پرې تنګ شو، ستاسو خاورې ته پناه راوړه، خو وروسته يې د خپلو بادارانو په خوښه وپلوره.
دې پوځ د نړيوالو ځواکونو د افغانستان پر جګړه کې خپله هوا، وچه او سمندر د هغوی په واک کې ورکړل، او له همدې خاورې څخه جګړې پر مخ يوړل شوې. همدارنګه، يوه مسلمانه ښځه، ډاکتر عافيه صديقه، کلونه

کېږي چې په زندان کې ده او د هغې قضیه د بشري حقونو له پلوه تل د بحث وړ پاتې شوې ده، دې رژیم په زرګونو ځوانان د ترهګرۍ په نوم لادرکه کړل، په سلګونو زره کورنۍ یې بې ځایه کړې، او میندې او مېرمنې یې د خپلو عزیزانو په انتظار کې پرېښودې.

مؤمن او غیور ولسه !

وخت رارسېدلی چې د خپل حالت په اړه فکر وشي، د عدالت، یووالي او اصلاح لپاره سوله‌ییز او شعوري ګامونه واخیستل شي، او د خپلو حقونو د ترلاسه کولو لپاره له قانوني او مشروع لارو کار واخیستل شي.

مسلمانو ورونو ! انسان د عزت، کرامت او عدالت لپاره پیدا شوی دی، نه د دې لپاره چې د ظلم تر سیوري لاندې ژوند وکړي. ستاسو وجدان، ایمان او فطرت تاسو ته دا وایي چې حق وپېژنئ، عدالت وغواړئ او د خپل انساني ارزښت ساتنه وکړئ. هغه څوك چې د حق لاره نیسي، که څه هم سخته وي، خو پای یې بریا، عزت او سرلوړي ده.

# د بې ګناه خلکو وژل د اسلام له نظره

مولوي عبد الجبار

د اسلام له راتګ وړاندې د جاهلیت په دوره کې د عربو حالت له ډول ډول ننګونو او سترو چیلنجونو سره مخ و؛ د انساني کرامت په قدر نه پوهېدل، خو رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل راتګ سره هغوی ته روښانه کړه چې اسلام د رحمت، عدالت او انساني کرامت دین دی. د انسان ژوند ته په اسلام کې ډېر لوړ مقام ورکړل شوی دی، تر دې چې د یوه انسان ناحقه وژل د ټول انسانیت د وژلو سره پرتله شوی عمل بلل شوی دی. له همدې امله، د بې ګناه او عامو خلکو وژل نه یوازې یو ستر اخلاقي جرم دی، بلکې په شرعي لحاظ هم له سترو ګناهونو څخه ګڼل کېږي.
په همدې لړ کې، د قرآن کریم یو شمېر نصوص وړاندې کوو، ترڅو د انسان د ژوند ارزښت وپېژنو او په دې پوه شوو چې قرآن په ښکاره ډول د انسان د ناحقه وژلو حرمت بیان کړی دی:
١ الله تعالی فرمایلي دي: {مَن قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا}، [المائدة: ٣٢]
ژباړه: چا چې یو انسان د وینې له بدلې یا په ځمکه کې له فساد خورولو پرته (په ناحقه) ووژه، داسې وګڼه لکه چې هغه ټول انسانان ووژل او چا چې څوک له مرګه وژغوره، داسې وګڼه لکه چې هغه ټولو انسانانو ته ژوند ور وبښه.
دا آیت څرګندوي چې د یو بې ګناه انسان وژل دومره لوی جرم دی چې د ټول بشریت د وژلو سره برابر ګڼل شوی دی، ځکه چې په ناحقه قتل کې ډېرې دنیوي او اخروي زیانونه دي، خورا خرابې پایلې لري، تر دې چې په خپله قاتل هم د دې حرکت څخه وروسته ډېر افسوس او ارمان کوي، ناحقې وینې له تویولو څنې نور هم پر هغه جُرم باندې زړور کېږي، نو په دې حیثیت سره هر هغه سړی چې بل وژني ګواکې د بدامنۍ تاداو ږدي، او هغه د ټولو انسانانو د وژلو او د عمومي بدامنۍ دروازه پرانیزي.
٢ څوک چې د بې ګناه خلکو ناحقه قتلونه کوي، د هغوی د سختې سزا په اړه، الله تعالی فرمایي: {وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا}، [النساء: ٩٣]

ژباړه: هغه څوك چې كوم مؤمن له پوهې او ادراك سره سره ووژني، نو د هغه سزا دوزخ دی چې په هغه كې به د تل لپاره استوګن وي، پر هغه د الله غضب او لعنت دی او الله د هغه لپاره لوی عذاب تيار كړيدی.

دا آيت د قصدي وژنې لپاره د سخت اخروي عذاب بيان كوي، چې دا د دې عمل د خطر جديت څرګندوي. كه يو مسلمان بل مسلمان په غلطۍ سره نه، بلكې په قصد سره او سره له دې چې ښه يې پېژني چې مسلمان دی خو وژني يې؛ لكه د پاكستان متجاوز او خونكار پوځي رژيم په قصد او ارادې سره زمونږ بې ګناه هېوادوال وژني؛ نو د داسې خلكو لپاره په آخرت كې جهنم او لعنت او لوی عذاب دی، حتی دوی په كفارې وركولو سره هم نه خلاصېږي.

فائده: له دغه متجاوز پوځ سره په ياده سزا كې هغه څوك هم شريكان دي چې دغه خونكار پوځ ته د مسلمانانو د وژلو فتواوې وركوي، يا دغه ناحقه وژنو ته د جهاد او ثواب نوم وركوي.

❸ له ناحقه وژنو، ظلم او تېري څخه اللّه تعالی منعه كړې ده، فرمايي: {أَلَا لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الظَّالِمِينَ}، [سورة الهود: ١٨].

ژباړه: واورئ ! چې پر ظالمانو د خدای لعنت دی.

دا آيت څرګندوي چې د بې ګناه خلكو وژل ښكاره ظلم دی، او اسلام ظلم په كلكه ردوي، ظالم د ملعون انسان په توګه يادوي.

په حديثونو كې هم د بې ګناه انسان او په تېره بيا د يوه مظلوم مسلمان د وژلو حرمت بيان شوی دی او له داسې كړنو يې خپل امت منعه كړی دی.

١/ په صحيح بخاري او صحيح مسلم كې د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه حديث روايت شوی دی؛ هغه فرمايلي: (لا يَحِلُّ دَمُ امرئ مُسلم يَشهَدُ أنْ لا إلَهَ إلّا اللَه وأنّي رَسولُ اللّه، إلّا بإحدی ثَلاثٍ: النَّفسُ بالنَّفسِ، والثَّيِّبُ الزّانِي، والمارِقُ مِنَ الدِّينِ التّارِكُ للجَماعَة).

د پورتني حديث راوي عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دی.

په بخاري شريف كې په ٦٨٧٨ نمبر باندې او په مسلم شريف كې په ١٦٧٦ نمبر روايت شوی دی او محدثين يې په اړه وايي چې دا صحيح حديث دی.

ژباړه: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: د يوه مسلمان سړي چې د اللّه تعالی په وحدانيت او د رسول اللّه صلی الله عليه وسلم په رسالت اقرار كوي؛ وينه حلاله نه ده، مګر په درې حالتونو كې، د قصاص په حالت كې، د محصَن زاني او له دين څخه د وتونكي چې جماعت د مسلمانانو ترك كړي. دا حديث ثابتوي چې له دغو درې حالتونو څخه پرته په عادي حالت كې د انسان وژل مطلقاً حرام دي.

۲/ همداراز د جګړې اصولو ته په کتلو سره رسول الله صلی الله علیه وسلم په جګړه کې هم امر کړی چې ښځې، ماشومان او زاړه سپینږیري مه وژنئ.
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: (کان رسولُ اللهِ صلّى اللهُ عليه وسلّم إذا بعَثَ سَرِيّةً قال اغزُوا بسمِ اللهِ وفي سبيلِ اللهِ فقاتِلوا مَن كفَر باللهِ لا تغُلُّوا ولا تغدِروا ولا تُمثِّلوا ولا تقتُلوا وليدًا ولا امرأةً ولا شيخًا ).
د پورتني حدیث راوي عبدالله بن عباس رضي الله عنه دی.
دا حدیث امام الطبراني په المعجم الأوسط ٢٦٨/٤ او امام أحمد په خپل مسند کې په ۲۷۲۸ نمبر روایت کړی دی.
ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم چې به کله ډلګۍ استوله، نو ورته فرمایل یې: د الله په لاره کې جګړه په بسم الله سره پیل کوئ، په الله باندې د کفر کوونکو سره جګړه کوئ، غلو مه کوئ، غدر (ټګي) مه کوئ، مړي مه مثله کوئ، ښځې، ماشومان او زاړه سپینږیري مه وژنئ.
دا حدیث څرګندوي چې حتی د جګړې په حالت کې هم عام او بې ګناه خلك خوندي دي.
۳/ په حدیثونو کې دا خبره هم بیان شوې ده چې د قیامت په ورځ به د انسانانو تر منځ لومړی د وینو په اړه فیصله کیږي.
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: (أولُ ما يحاسبُ عليهِ العبدُ الصلاةَ ، وإنَّ أولَ ما يُقضَى بينَ الناسِ في الدماءِ ). د پورتني حدیث راوي عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دی.
په بخاري شریف کې په ٦٨٦٤ نمبر باندې او په مسلم شریف کې په ١٦٧٨ نمبر روایت شوی دی او محدثین یې په اړه وایي چې دا صحیح لغیره حدیث دی، امام النسائي هم روایت کړی په ۳۹۹۱ نمبر باندې.
ژباړه: د بنده سره به لومړی حساب د لمانځه په اړه کیږي او د انسانانو تر منځ به لومړی د وینو په اړه فیصله کیږي.
دا حدیث هم د بې ګناه خلکو د وژنو د جرم ستروالی څرګندوي.

د سلفو (پخوانیو نیکانو علماوو) څخه هم د بې ګناه خلکو د وژلو حرمت په صراحت او تواتر سره روایت شوی دی.
۱. د عبد الله بن عمر رضي الله عنه قول: هغه فرمایي: قال ابن عمر رضي الله عنهما: "إن من ورطات الأمور التي لا مخرج من وقع نفسه فيها: سفك الدم الحرام بغير حله "، [رواه البخاري والحاكم].
ژباړه: "بې شکه له هغو سختو وران کاریو څخه چې انسان پکې ځان

راکیر کړي، نو بیا ترې د خلاصون لار نه مومي، په ناحقه باندې وینه تویول دي پرته له شرعي حقه.
دا ثابتوي چې د یوه بې ګناه انسان وینه تویول دومره لوی جنایت دی چې کله پکې یو څوك ښکېل شي، نو بیا ترې د وتلو لاره نه مومي، څکه دنیوي او اخروي سزاګانې یې ډېرې سترې دي.

۲ همدارازد معاویه رضي الله عنه قول، هغه فرمایي: عن معاویة رضي الله عنه قال: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: "کل ذنب عسی الله أن یغفره إلا من مات مشرکا أو قتل مؤمنا متعمدا" [رواه أبو داود وأحمد].
ژباړه: هره ګناه کېدای شي چې الله یې وبخښي، پرته له هغه چا نه چې په شرك کې مړ شي یا یو مؤمن په قصدي ډول ووژني.

۳ همدارنګه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا قول چې فرمایي: "من أعان علی قتل مسلم بشطر کلمة لقي الله مکتوب بین عینیه: آیس من رحمة الله" [رواه أحمد وابن ماجة].
ژباړه: څوك چې د یوه مسلمان په وژلو کې د نیمې کلمې په اندازه هم مرسته وکړي، هغه به د الله حضور ته داسې ولاړ شي چې د ده د دواړو سترګو ترمنځ به لیکل شوي وي: د الله له رحمته ناامیده.

۴ د سفیان بن عیینة قول هغه فرمایي: في "شطر کلمة" "هو أن یقول: اقت" یعني لا یتم کلمة اقتل، فیا له من ذنب عظیم ما أثقله، ویا لها من جریمة ما أصبر مرتکبها علی النار: (يَوْمَ لَا يَنفَعُ الظَّالِمِينَ مَعْذِرَتُهُمْ وَلَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوءُ الدَّارِ) [غافر: ۵۲].
ژباړه: "نیمه کلمه" دا معنا لري چې څوك یوازې ووایي: «اق...» او کلمه «اقتُل» (ووژنه) بشپړه نه کړي. نو وګوره چې دا څومره لویه ګناه ده او څومره دروند بار لري، او دا څومره ستر جرم دی چې مرتکب یې د اور (دوزخ) پر عذاب صبر کوي! (هغه ورځ چې ظالمانو ته به د دوی عذر هېڅ ګټه ونه رسوي، او پر هغوی به لعنت وي، او د هغوی لپاره به ډېر بد استوګنځای وي).
فائده: د امام سفیان بن عیینه په دې وینا کې په خاصه توګه هغه بې علمه مفتیان داخل دي چې د بې ګناه مسلمانانو د وژلو فتوې ورکوي، د بې ګناه مسلمان وژلو ته د جهاد او ثواب په سترګه ګوري، دوی باید پوه شي چې دوی له دا ډول سزاګانو سره مخ کېدونکي دي.

۵ بـراء بـن عـازب رضـي الله عنـه لـه رسـول الله صلـی الله علیـه وسـلم څخـه روایـت کـوي چـې هغـه فرمایلـي: "لـزوال الدنیـا أهـون علـی الله مـن قتـل مؤمـن بغیـر حـق " [رواه ابـن ماجـة بإسـناد حسـن، ورواه البیهقـي والأصبهانـي وزاد فیـه: "ولـو أن أهـل سماواته وأهل أرضه اشترکوا في دم مؤمن لأدخلهم الله النار "].
ژبـاړه: د دنیـا لـه زوال څخـه د یـو مسـلمان وژل لویـه ګنـاه ده، دا حدیـث امـام بیهقـي او امـام اصفهانـي هـم روایـت کـړی، او پـه هغـه کـې دا زیاتونـه هـم راغلـې ده: «کـه د اسـمانونو اوسـېدونکي او د ځمکـې اوسـېدونکي ټـول د یـوه مؤمـن د وینـې تویولـو (وژلـو) کـې شـریك شـي، نـو الله بـه هغـوی ټـول اور (دوزخ) تـه داخـل کړي.»

٦ امـام نـووي رحمـه اللّٰه د بـې ګنـاه خلکـو د وژلـو پـه حرمت اجمـاع رانقـل کـړې ده، هغـه فرمایـي: وأمـا تحریـم قتـل النفـس المعصومـة فممـا انعقـد علیـه إجمـاع المسلمین، وهو من أعظم المحرمات، [شرح المسلم].
ژبـاړه: د بې‌ګنـاه نفـس وژل حـرام دي، پـر دې د مسـلمانانو اجمـاع شـوې ده، او دا لـه ډېر لوی حرام کار دی.

پورتنـي ټـول نصـوص پـه څرګنـده توګـه ښـیي چـې د بې‌ګنـاه انسـان وژنـه پـه اسلام کـې لـه ټـر ټولـو سـترو ګناهونـو څخـه ده. حتـی د داسـې عمـل پـه ترسـره کولو کې لږه مرسته یا اشاره هم د سخت عذاب سبب ګرځي.
بنـاءً، د پاکسـتان متجـاوز پـوځ او د هغـوی پـه حمایـت کـې ولاړ علمـاء بایـد لـه دې نصوصـو څخـه درس واخلـي او درك کـړي چـې د هـر انسـان وینـه درنـه او محترمـه ده، او هیڅـوك حـق نـه لـري چـې د ناحقـه وژنـې ملاتـړ وکـړي یـا ورتـه لار هـواره کـړي. همدارنګـه، بانفـوذه اشـخاص بایـد ډېـرې هڅـې وکـړي، ترڅـو د دیـن پـه نـوم د هغـو مفتیانـو مخـه ونیسـي چـې پـه خپلـو فتـوو سـره د بې‌ګنـاه خلکـو د وینـې تویېـدو سـبب ګرځېدلـي دي، ځکـه چـې دا کـار د الله پـه وړانـدې ډېـر درونـد حساب لري.

# پنځم فصل
# سياسي ليکني

# د مکې دفاعي تړون؛ ستراتېژيك حقيقت، پر کاغذ ولاړېبازدارځواك او د سيمې بدلېدونکې مهرې

احمد شفق

کله چې د سعودي وليعهد شهزاده محمد بن سلمان، د ترکيې ولسمشر رجب طيب اردوغان او د پاکستان لومړي وزير شهباز شريف د مکې مکرمې په صفا ماڼۍ کې د «مکې د کډ دفاعي تړون» سند لاسليك کړ، د نړيوال سياست کارپوهانو دا تړون د منځني ختيځ لپاره د ناټو (NATO) په څېر يو نوی ائتلاف وباله. د دې تړون تر ټولو مهمه او بحثپارونکې ماده، چې د ناټو د پنځمې مادې په څېر د کډ دفاع اصل بيانوي، په لاندې ډول ده: «که پر دريو هېوادونو کې پر يوه هېواد بريد وشي، پر ټولو درېيو هېوادونو د بريد په توګه به ګڼل کېږي.»

په ظاهره دا يو داسې فولادي ائتلاف ښکاري چې په سيمه کې به د ځواك انډول په بشپړه توګه بدل کړي؛ خو کله چې د نړيوالو اړيکو پر ډګر د پرتو مهرهوو ژوره شننه وکړو، نو د دې ظاهرا ځلانده تړون تر شا ګڼې ستراتېژيکې مجبورۍ، رواني لوبې او تريخ واقعيتونه تر سترګو کېږي. د دې تړون د ژورتيا د درك لپاره، تر هر څه وړاندې بايد د سيمې دوديزې سيالۍ؛ يعنې د سعودي عربستان او ايران اړيکو ته وګورو. که څه هم په ډيپلوماتيکه ژبه کې په وار وار ويل شوي چې «دا ائتلاف د کوم ځانګړي هېواد پر ضد نه دی»، خو حقيقت دا دی چې سعودي عربستان له اوږدې مودې راهيسې د ايران د توغنديو، بېپيلوټه الوتکو او په سيمه کې د هغه د ملاتړو نيابتي ډلو؛ لکه په يمن کې حوثيانو او په عراق کې ځينو مليشو، له جدي امنيتي ګواښونو سره مخ دی.

دلته يوه مهمه پوښتنه راپورته کېږي: کله چې د پاکستان او سعودي عربستان ترمنځ له وړاندې يو پياوړی دفاعي تړون موجود و، چې له مخې يې زرګونه پاکستاني پوځيان او د توغنديو ضد دفاعي سيستمونه د سعودي عربستان په خاوره کې ځای پر ځای دي، نو بيا ولې سعودي عربستان اړ شو چې په دې نوي ائتلاف کې ترکيه هم شامله کړي؟

د دې پوښتنې ځواب د پاکستان په پوځي او اقتصادي محدوديتونو کې نغښتی دی. که له ډيپلوماتيکو اصطلاحاتو تېر شو او واقعيت ته وګورو، پاکستان

په يوازې ځان د ايران پر وړاندې د يوې بشپړې بازدار ځواك د رامنځته كولو توان نه لري. د بېلكې په توګه، پاكستان كه څه هم اتومي ځواك دی، خو د هغه اټومي پروګرام يوازې د هند د متعارف ګواښ د مخنيوي لپاره جوړ شوی دی. پاكستان نه شي كولای خپلې اتومي وسلې د بل هېواد د دفاع لپاره ولېږدوي.
دويم لوری، يعنې پاكستان، دا مهال د خپل تاريخ له تر ټولو سخت اقتصادي بحران، د پوروونو له درانه بار او په هېواد كې د تحريك طالبان پاكستان (TTP) او د بلوچستان د بېلتون غوښتونكو غورځنګونو په څېر له جدي كورنيو امنيتي ننګونو سره لاس او ګرېوان دی. كله چې يو هېواد د خپلې بوديجې د برابرولو لپاره پخپله د خليجي هېوادونو مرستو ته محتاج وي او خپل كور يې له كورني كړكېچ سره مخ وي، نو د پولې هاخوا په بله جګړه كې د ښكېلېدو پوځي ګواښ يې هغه پخوانۍ وزن او اغېز نه لري. ايران په دې حقيقت ښه پوهېده؛ له همدې امله د پاكستان دوديزه دفاعي چترۍ نور سعودي عربستان ته هغه رواني ډاډ نه شو وركولای چې اړتيا يې ورته وه.
د همدې ستراتېژيكي تشې د ډكولو لپاره تركيه دې لوبې ته را دننه كړل شوه. د تركيې د شاملولو موخه دا وه چې د پاكستان كمزوري جبران كړي او د سعودي عربستان دفاعي تړون «دوه برابره» پياوړې كړي. تركيه د ناټو دويم لوی پوځ او د «بيرقدار» په څېر د نړۍ له پرمختللو بې‌پيلوټه الوتكو څخه برخمنه ده. سعودي عربستان نور نه غواړي چې په منځني ختيځ كې د خپل امنيت لپاره يوازې پر امريكا تكيه وكړي؛ ځكه د ايران او امريكا د جګړې پر مهال به امريكايي دفاعي چترۍ سعودي عربستان ته څه ډول خونديتوب برابرولای؟ حال دا چې د امريكا پوځي حضور پخپله د سعودي عربستان پر وړاندې د ايراني بريدونو له لاملونو څخه ګرځېدلی دی.
له همدې امله، سعودي عربستان د پاكستان له هغې نومول شوې مسلكي اردو او د تركيې له پرمختللي پوځي صنعت سره په ګډه، يو داسې ادعا شوی خپلواك بلاك رامنځته كړی دی. دلته د تركيې رول پر ايران بمبار كول نه دي؛ بلكې سعودي عربستان ته د پوځي ټكنالوژۍ داسې پياوړی ډال برابرول دي چې ايراني بريدونه شنډ كړي.
خو پوښتنه دا ده چې ايا دا تړون به په رښتيا يو واقعي پوځي ائتلاف ثابت شي، كه يوازې به پر كاغذ يوه ښكلې ليكنه پاتې شي؟
فرض كړئ چې ايران په سعودي عربستان كې پر امريكايي پوځي اډو بريد وكړي او دا استدلال وكړي چې بريد يې پر سعودي عربستان نه، بلكې پر خپل دښمن امريكا كړی دی. اوس كه دغه بريد په غيرمستقيم ډول د سعودي

عربستان پر ملي حاکمیت هم اغېز وکړي، ایا پاکستان او ترکیه به د ایران پر وړاندې پوځي غبرګون وښيي؟ د دې پوښتنې واقعبینانه ځواب دا دی: «هېڅکله نه... !»

ځکه که پاکستان او ترکیه د ایران پر وړاندې جبهه پرانیزي، نو خپل تر ډېره خوندي پاتې امنیت به هم له خطر سره مخ کړي. ایران د دې لپاره چې ترکیې او پاکستان ته زیان ورسوي، د نیابتي ډلو یوه بشپړه شبکه لري. ایران کولای شي د غبرګون په توګه د ترکیې پر ضد کرد بېلتون غوښتونکو ډلو (PKK/YPG) ته پرمختللې وسلې او مالي مرستې ورکړي، په ترکیه کې د ترهګرۍ نوې څپه رامنځته کړي، یا په عراق او سوریه کې مېشتې ترکي پوځیان په نښه کړي. همداراز کولای شي د پاکستان په بلوچستان ایالت کې بېلتون غوښتونکي شبکې فعالې کړي او پاکستان له سختو ستونزو سره مخ کړي.

څرنګه چې د پاکستان او ترکیې ترمنځ له ایران سره داسې کومه دیني یا سیاسي شخړه نشته، لکه له سعودي عربستان سره چې مطرح ده؛ نو دوی به هېڅکله له ایران سره د مستقیمې جګړې بیه پرې نه کړي. ترکیې خو د امریکا او ایران د جګړې پر مهال هم په ښکاره له دې څخه ډډه وکړه چې خپله هوايي حریم د ایران پر ضد وکارول شي، او په دې توګه یې خپله بې‌طرفي ثابته کړه.

له دې څخه څرګندېږي چې دا تړون تر پوځي اړخ ډېر یو «رواني او ډیپلوماتیك وسلو» ته ورته دی؛ اصلي موخه یې جګړه کول نه دي، بلکې د ایران پر وړاندې د یوه داسې درانه او ځواکمن بلاك درول دي چې ایران د هغه د تولیز ځواك په لیدلو سره له هر ډول ستړي پوځي ماجراجویۍ څخه لاس واخلي. په دفاعي اصطلاح کې دې ته د ځواك متوازن کول یا «کاؤنټر بېلنسنګ» ویل کېږي.

اوس خبره دا ده چې که خدای مه کړه سبا ایران پر سعودي عربستان برید وکړي او پاکستان او ترکیه د خپل امنیت د اندېښنې له امله د ایران پر وړاندې بمباري‌ونه کړي، نو پایله به یې دا وي چې د «مکې تړون» کاغذي اعتبار به هماغه شېبه له منځه ولاړ شي. خو پاکستان او ترکیه به د خپل تړونیز اعتبار له مخې هم نه غواړي چې چوپ پاتې شي. هغوی کولای شي پر تهران د بمونو غورځولو پر ځای سعودي عربستان ته د توغندیو ضد دفاعي سیستمونه، بې‌پیلوټه الوتکې او استخباراتي معلومات ورکړي، څو له یوې خوا د تړون

ظاهري اعتبار پر ځای پاتې شي او له بلې خوا له ایران سره مستقیمه دښمني هم رامنځته نه شي.
هو، په دې ټوله صحنه کې د پاکستان لپاره یوه خبره په ظاهره روښانه ده؛ هغه دا چې د پاکستان د دفاعي سیاست یوه مهمه طرحه دا ده: «که د حرمینو شریفینو جغرافیایي حدود له کوم مستقیم ګواښ سره مخ شي، نو پاکستاني پوځ به ټولې مصلحتونه یوې خوا ته پرېږدي او په هر صورت به یې دفاع کوي.»
خو خبره دا ده چې په نننۍ نړۍ کې به د سعودي عربستان مخالف کوم هېواد ولې پر حرمینو شریفینو برید وکړي، خپل نړیوال اعتبار خراب کړي او د ځان لپاره د جګړې نوې جبهې پرانیزي؟ همدا هغه ټکی دی چې د پاکستان د «د حرمینو د دفاع ترونیز کارت» حقیقت بربنډوي. داسې ښکاري چې د دې دریځ اصلي موخه دا ده چې پاکستاني پوځ د ترون د همدې مادې له لارې د پاکستان خلکو ته دا وښيي چې ګواکې له مکې او مدینې او د هغو له دیني تعلیماتو او فکر سره وفادار دی.

# د پاکستاني پوځ ستراتیژیك مصلحت او د تاریخ خونړۍ څپرکی؛ له تور سپټمبر څخه تر معاصرې دورې پورې

اکبر جمال

د سیاسي تاریخ له ترخو حقیقتونو څخه یو دا دی چې د ځواك په مانیو کې اخلاقي جرمونه ډېر ځله په ستراتیژیکو مډالونو بدلېږي، او هغه عمل چې د قانون له مخې باید تر ټولو سخته سزا ولري، د پوځي اسټېبلېشمنټ په شطرنج کې د لوړې مرتبې زینه ګرځي. کله چې د ۱۹۷۰م کال د سپټمبر په میاشت کې د اردن پر خاوره د رامنځته شوې خونړۍ کورنۍ جګړې، یعنې «تور سپټمبر» پاڼې اړوو او هغه د نننۍ پاکستان له ستراتیژیك وضعیت سره پرتله کوو، نو داسې یو نالیکل شوی اصل او دوام وینو چې د «دولت د واکمنۍ» او «اداري ساتنې» تر نومونو لاندې یکې د اشخاصو پرېکړې له قانون څخه پورته ګڼل کېږي.
دا یوازې د پنځوسو کلونو پخوانۍ پېښه نه ده، بلکې د یوه ځانګړي پوځي فرهنګ کیسه ده؛ هغه فرهنګ چې تر نن ورځې هم په هماغه لاره روان دی. د دې کیسې پیل د ۱۹٦۷م کال د عربو او اسرائیلو له جګړې کېږي؛ هغه جګړه چې د مصر، سوریې او اردن پوځونه یکې د اسرائیلو له سختې ماتې سره مخ شول. دا کومه ناڅاپي فاجعه نه وه، بلکې د عربي واکمنانو د ستراتیژیکې ناتوانۍ، د استخباراتي غفلت، د متقابلې بې‌باورۍ او د پوځي چمتووالي د نشتوالي طبیعي پایله وه.
د دې جګړې په پایله کې، بیت المقدس او لوېدیځه غاړه د مسلمانانو له واکه ووته او میلیونونه فلسطینیان په خپل وطن کې بې‌کوره شول او د کډوالو په کمپونو کې یې ژوند پیل کړ. د عربي حکومتونو همدې تاریخي ناکامۍ د فلسطینیانو په ذهن کې دا احساس پیدا کړ چې که دوی خپله وسله پورته نه کړي، نو شایي د تل لپاره له خپلې خاورې او هویت څخه بې‌برخې شي. له همدې ناامیدۍ څخه، د یاسر عرفات تر مشرۍ لاندې فلسطیني وسلوال سازمان (PLO) رامنځته شو، چې اردن یې د اسرائیلو پر ضد د وروستي مورچل په توګه کاراوه.
د وخت په تېرېدو، په اردن کې د فلسطینیانو د وسلوالو فعالیتونو له امله داسې انګېرل کېدل چې ګواکې د دولت تر څنګ بل دولت جوړېږي. ویل کېدل

چې هغوی د اردن قوانینو ته چندان پام نه کوي، او د دوی فعالیتونه د اردن ملي حاکمیت له کواښ سره مخ کوي. د ۱۹۷۰م کال د سپټمبر په لومړیو کې، کله چې د فلسطین د ازادۍ لپاره د ولسي جبهې (PFLP) یوې ډلې څو نړیوالې مسافر وړونکې الوتکې وتښتولې، د اردن په صحرا کې یې ښکته کړې او وروسته یې والوزولې، نو د اردن د پاچا حسین صبر پای ته ورسېد.
هغه دا پېښه د خپل سلطنت او واکمنۍ پر ضد مستقیم کواښ وباله او د فلسطینیانو پر ضد یې د پراخو او سختو پوځي عملیاتو امر وکړ؛ هغه عملیات چې وروسته په تاریخ کې د «تور سپټمبر» په نوم مشهور شول. په همدې خونړې پړاو کې هغه مهال پاکستانی بریګېډیر، او وروسته د پاکستان ولسمشر، محمد ضیاء الحق د پېښو په مرکز کې راڅرګند شو.
هغه له ۱۹٦۷م کال راهیسې د پاکستان د رسمي پوځي مأموریت په چوکاټ کې اردن ته د اردني پوځ د روزنې لپاره استول شوی و. د دې مأموریت موخه دا وه چې د ۱۹٦۷م کال له ماتې وروسته اردنی پوځ بیا تنظیم او د چریکي جګړې روزنه ورکړل شي. خو کله چې د اردني پوځ او فلسطیني کډوالو ترمنځ کورنۍ جګړه پیل شوه، ویل کېږي چې ضیاء الحق د خپل رسمي مأموریت له حدودو واوښت او د اردني ځواکونو په ستراتیژیك او عملیاتي مدیریت کې یې مستقیم رول ولوباوه.

د هغه تر څار لاندې پر فلسطیني کمپونو سختې بمبارۍ او پوځي عملیات ترسره شول. د یاسر عرفات د ادعا له مخې، په دغو عملیاتو کې له لسو زرو (۱۰،۰۰۰) څخه تر پنځه ویشت زرو (۲۵۰۰۰) پورې فلسطینیان ووژل شول. د عملیاتو تر پای وروسته، کله چې ضیاء الحق پاکستان ته ستون شو، د هغه وخت د پوځ لوی درستیز، جنرال ګل حسن، د دې لپاره چې نوموړي د حکومت له اجازې پرته د بل هېواد په کورنۍ جګړه کې ګډون کړی و، د هغه د پوځي محاکمې (کورټ مارشل) سپارښتنه وکړه.

خو دلته تاریخ بل لور ته واوښت، هغه څوك چې د قانون له مخې باید سزا شوی وای، د اردن د پاچا شخصي سپارښتنې او د پاکستان د پوځي اسټېبلشمنټ د ستراتیژیکو مصلحتونو له امله پر یوه ارزښتناك پوځي شخصیت بدل شو. د محاکمې دوسیه وتړل شوه، او همدغه «ستراتیژیك جرم» د هغه د چټکې ودې زینه وګرځېد، تر دې چې په ۱۹۷٦م کال کې د پاکستان لومړي وزیر ذوالفقار علي بوټو د اوو مشرانو جنرالانو له تېرولو وروسته ضیاء الحق د پوځ لوی

درستیز وټاکه؛ داسې پرېکړه چې ورووسته د بوټو د سیاسي ژوند تر ټولو ستره تېروتنه وبلل شوه.
د ضیاء الحق د کودتا مارشل دربدل، د پاکستان په پوځ کې د هغه نالیکلي اصل لومړنۍ خښته وه چې وروسته د اسټېبلېشمنټ په یوه دوامداره سازماني فرهنګ بدل شو.
د دې فرهنګ له مخې، تر هغو چې یو لوړپوړی پوځي افسر د پوځ د قوماندې په چوکاټ کې پاتې وي، د هغه ستراتیژیکې تېروتنې، ناکامۍ او یا د پالیسۍ تضادونه په عامه توګه نه څېړل کېږي، بلکې د «وخت ارتیا» په نوم یې دوسیې تړل کېږي. د همدې ستراتیژیک فرهنګ او پالیسۍ د تضاد یوه معاصره بېلګه د متقاعد ډګر جنرال فیض حمید او اوسني لوی درستیز جنرال عاصم منیر د امنیتي سیاستونو ترمنځ لیدل کېږي.
یو وخت فیض حمید، د استخباراتو د مشر او د پېښور د قول اردو د قوماندان په توګه، د کابل د هغه وخت حکومت په همکارۍ له ټي ټي پي (TTP) سره د مذاکراتو او پخلاینې تګلاره تعقیبوله، چې په ترڅ کې یې بندیان خوشې او یو شمېر وسله‌وال بېرته مېشت شول. وروسته، د پوځ د مشرتابه له بدلېدو سره، د عاصم منیر تر مشرۍ لاندې همدې تګلارې ته د هېواد د ناامنۍ او د ترهګرۍ د زیاتوالي یو لامل وویل شو.
ځینې شنونکي استدلال کوي چې د عاصم منیر تر مشرۍ لاندې د خبرو پر ځای د پوځي مقابلې تګلاره د پوځ د دوديزې «جګړه‌ییز اقتصاد» د ساتنې له لیدلوري ارزول کېږي، ځکه د دوی په باور د فیض حمید او عمران خان د تګلارې دوام ښایي د دغه جوړښت اغېزمن کړی وای.
د همدې تحلیل له مخې، اسټېبلېشمنټ د مذاکراتو پر ځای د صفر زغم او پوځي مقابلې لاره خپله کړه. د دغو ستراتیژیکو بدلونونو او تضادونو په اړه پوځي مشرتابه هېڅکله ځان د عامه حساب ورکونې مکلف ونه باله.
په همدې لړ کې، کله چې د فیض حمید پر ضد د پوځ د قانون له مخې انضباطي اقدامات وشول، نو هغه د ټي ټي پي سره د مذاکراتو له امله نه، بلکې د «ټاپ سټي» د شخصي کور جوړونې پروژې په قضیه کې د واک د ناوړه کتې اخیستنې او له تقاعد وروسته په سیاسي فعالیتونو کې د ښکېلتیا د تورونو پر بنسټ ترسره شول. د پاکستان د پوځ د دغه عملي تضاد دا ښيي چې حساب ورکونه هغه وخت پیلېږي، کله چې یو افسر د پوځ داخلي نظم، د بنسټیزو ګټو چوکاټ او یا د مشرتابه ټاکلې کرښه تر پښو لاندې کړي.

خو تر هغه چې یو پوځي افسر د پوځ د سیاسي نفوذ ، د جګړه‌ییز اقتصاد ، د پارلمان پر کنټرول او د دولت د ستراتیژیکو کتو له عمومي چوکاټه نه اوړي، د هغه ستري تېروتنې هم تر ډېره د مصلحت تر سیوري لاندې پټې پاتې کېږي. حتی اوس د اسې وضعیت هم رامنځته شوی چې ځینې کړنې عملي او یا قانوني معافیت هم ترلاسه کولای شي. له همدې امله، د ۱۹۷۰م کال د «تور سپتمبر» له پېښو څخه نیولې د معاصر پاکستان تر ستراتیژیکو پرېکړو پورې، د تاریخ دا درس ورکوي چې کله دولتونه او واکمن بنسټونه د عامه حساب ورکونې او روڼتیا پر ځای بنسټیز معافیت خپل اصل وګرځوي، نو د حق او باطل ترمنځ کرښې ورو ورو تتې شي.

هغه څه چې د یوه عادي وګړي یا فلسطیني کډوال له نظره د ژوند، حقونو او بقا مبارزه وي، د استېبلېشمنټ په رسمي روایت کې د «دولت پر ضد بغاوت» یا «داخلي فتنې» په نوم تعبیرېږي او د زور له لارې ځپل کېږي. که اړتیا وي، نو د دربار له پلویانو دیني عالمان هم راجلبېدای شي او د «خوارجو» او ورته نورو دیني تعبیرونو فتوې هم کارول کېدای شي.

ښایي دا مفکوره هغه مهال د ضیاء الحق ذهن ته نه وه راغلې، کنه امکان درلود فلسطینیان نه یوازې د اردن د دولت باغیان، بلکې «خوارج» هم اعلان شوي وای.

ښایي د ځواک دغه لوبه په لنډ مهال کې دولتونه او اداري خوندي وساتي، خو د تاریخ په محکمه کې دا پوښتنه تل ژوندۍ پاتې کېږي: تر کومه به ستراتیژیکې بریاوې د عادي انسانانو د وینو، کډوالۍ او کړاو په بیه ترلاسه کېږي؟

# هغه پوځ چې په اصل کې یې له مسلمان سره دښمني ده!

سید جمال الدین افغاني

دا کیسه د نن نه شاوخوا اته لسیزې وړاندې ده، هغه مهال چې تازه د برتانوي پوځونو له خوا متحد هند په دوو ټوټو ووېشل شو او یوه برخه د هند او بله برخه د پاکستان او بنګال په نومونو ونومول شوه. د مسلمانانو اکثریت لرونکو سیمو په اړه پرېکړه دا وه چې هغه به پاکستان ته وسپارل شي، چې په دغو کې د کشمیر نوم هم شامل و.
خو کله چې دواړه لوري د خپلو خپلو برخو د ترلاسه کولو لپاره وړاندې شول او د سرحدونو د وېش مسئله تر بحث لاندې راغله، نو د هند اړخ په څرګنده توګه د کشمیر د سپارلو نه انکار وکړ او ویې ویل چې هېڅکله به هم کشمیر پاکستان ته ونه سپاري.
دې کړکېچ نږدې یو کال دوام درلود. بالاخره پرېکړه وشوه چې کشمیر به د زور او ځواك له لارې ترلاسه کېږي او جګړه به وروستۍ فیصله کوي. له همدې امله د هغه وخت د پاکستان مشر محمد علي جناح د پوځ لوی درستیز جنرال ګریسي ته امر وکړ چې پر کشمیر برید وکړي او پوځ ته هدایت ورکړي چې په بیړه د جګړې له لارې د کشمیر راتلونکی وټاکي. خو محمد علي جناح هغه وخت ډېر حیران شو، کله چې جنرال ګریسي په ښکاره توګه دا امر رد کړ او ویې ویل چې پوځ به هېڅکله د کشمیر جبهې ته ونه وځي.
جنرال ګرېسي چې د برتانوي پوځ څخه و، او پاکستان هغه مهال کوم منظم مسلمان قوماندان نه درلود، نو ځکه د پوځ قومانده هماغه برتانوي افسرانو ته سپارل شوې وه، جنرال ګرېسي د همدې لړۍ دوهم مشر و چې د پاکستان د پوځ مشري پر غاړه وه.

اوس پوښتنه دا ده چې جنرال ګرېسي ولې د پاکستان د بنسټګر او د هغه وخت تر ټولو لوی حاکم امر ونه مانه؟ د دې په اړه تر اوسه خلك بېلابېل ځوابونه ورکوي، خو خپله جنرال ګرېسي چې څه لیکلي، د هغې لنډیز او اصل دا دی چې د هغه په نظر، د هند له هندوانو څخه زیات، پاکستان باید له افغانستان

د مسـلمانانو سـره خپلـه دښـمني زياتـه کـړي. د همـدې لپـاره، جنـرال کرېسـي هڅـه وکـړه چې محمـد علـي جنـاح تـه د دلايلـو پـه وړانـدې کولـو سـره قناعـت ورکـړي. دا روښـانه نـه ده چې جنـاح دا خبـره ومنلـه کـه نـه، خـو هغـه بې لـه شـکه د پوځ په وړاندې يو څه بې وسه او مجبور وو.
جنـرال کرېسـي درې کالـه پرلـه پسـې د پاکسـتاني پـوځ روزنـه وکـړه، او پـه دې اوږده مـوده کـې يـې تـر ټولـو ډېـره هڅـه دا وه چې د پاکسـتاني پوځيانـو پـه زړونـو کـې د افغانسـتان د مسـلمانانو پـر وړانـدې کرکـه ځـای پـر ځـای کـړي، او پـه دې کار کـې تـر يـوه حـده بريالـی هـم شـو او بيـا متقاعـد شـو، برتانـوي پوځونـه چـې د نـړۍ د نيولـو لپـاره راوتلـي وو او پـه ډېـرو ځايونـو کـې يـې برياوې هـم ترلاسـه کـړې وې، خـو پـه افغانسـتان کـې يـې پرلپسـې ماتـې وخـوړې او د ذلـت نـه ډکـې ناکامـۍ سـره مـخ شـول. تاريـخ تـر دې حـده شـاهدي ورکـوي چـې څـو ځلـه خـو برتانـوي پوځونـه بشـپړ لـه منځـه ولاړل او حتـی يـو هـم ژونـدی پاتـې نـه شـو تـر څـو د پېښـې عيني بيان ثبت کړي.

لـه همـدې املـه دا طبيعـي خبـره ده چـې لويـې برتانيـې لـه افغانسـتان سـره ژوره دښـمني لرلـه. د دې دښـمنۍ د غـچ اخيسـتلو لپـاره يـې بېلابېـل پلانونـه او خطرنـاک تدابيـر جـوړ کـړل، چـې دا ټـول پـه تاريـخ کـې څرګنـد دي. خـو لـه دې ټولـو خطرناکـو طرحـو څخـه هغـه يـو يـې ډېـر خـوښ کـړ، هغـه دا چـې د پاکسـتان پـوځ تـه دا بـاور ورکـړي چـې ستاسـو ازلـي او ابدي دښـمن هنـد نـه، بلکـې د افغانسـتان مسـلمانان دي؛ تـر څـو هغـوی تـل د افغـان مسـلمانانو سـره پـه جګـړه کـې ښـکېل پاتې شي او دا دښمني يې په فطرت کې ځای ونيسي.
جنـرال کريسـي چـې دې پـوځ تـه کومـه روزنـه ورکـړې وه، او څنګـه يـې د هغـوی پـه زړونـو کـې د کفـارو او مشـرکانو پـه پرتلـه د مسـلمانانو پـر وړانـدې لا ژوره کرکـه واچولـه، او د بغض او دښـمنۍ تخمونـه يـې وشـيندل، د هغـې څرګندونـه يـوازې د افغانسـتان پـر مسـلمانانو نـه، بلکـې د پاکسـتان پـر مظلومـو مسـلمانانو هـم پـه ډېـر شـدت سـره وشـوه. کشـمير تـر ننـه پـورې لـه هندوانـو آزاد نـه شـو، خـو د قلات او سـوات رياسـتونه چـې د مسـلمانانو پـه لاس کـې وو، او لـه دواړو سـره محمـد علـي جنـاح تړونونـه هـم شـوي وو، همـدې پـوځ پـرې سـخت يرغلونـه وکـړل. تړونونـه يـې تـر پښـو لانـدې کـړل، او د بمبـارۍ لـه لارې يـې پـر ځمکـه هـر هغـه موجـود لـه منځـه يـووړ چـې يـا يـې د خپـل حـق غوښـتنه کولـه، او يـا يـې دې پـوځ تـه د مسـلمان د ورور په سترګه کتل.
د قلات د خـان کورنـۍ يـې د بخښـنې پـه وعـده لـه غرونـو راکښـته کـړل، خـو

کلـه چې راکښته شول، نـو د دوی سره ناروا چلند وشـو، د ژمنـو خلاف، هغـوی يـې پـه داسـې بې‌رحمـی ووژل چې ان لـه حيواناتـو سـره هـم هغـه ډول سـلوك نـه کېږي. د دې پـوځ پـه سرشـت او بنسـټ کـې چې د مسـلمانانو پـر وړانـدې دښـمنی ځـای نيولـی و، نـو د نـړۍ‌پـه هـر هغـه ځـای کـې چـې ورتـه فرصـت برابـر شـو، د مسـلمان وينـې تويولـو څخـه يـې هېـڅ ډډه ونـه کـړه. د مسـلمانانو غـاړې يـې د خپلـو تېـزو خنجرونـو پـه ګوزارونـو داسـې پـرې کـړې لکـه هېـڅ رحـم او شـفقت چې نـه وي.

د فلسـطين هغـه مظلـوم مسـلمانان، چـې دا پـوځ يـې د نـړۍ‌لـه پيـاوړو پوځونـو څخـه ګڼـه، د همـدې پـوځ پـه لاسـونو د ګاززو او موليـو پـه څېـر پـرې پـرې شـول. او تـر نـن ورځـې پـورې هـر فلسـطينی پـه خپـل زړه کـې د يهـودو لـه ظلمونـو نـه هـم زيـات د همـدې پـوځ د غدارانـه بريدونـو يـاد سـاتلی دی. لـه روس سـره پـه جګـړه کـې ښـکېل، د عربـي نـړۍ‌پـورې تړلـي سـلګونه او زرګونـه مجاهديـن دا بـاور درلـود چـې کـه ټولـه نـړۍ‌هـم ورسـره دښـمني وکـړي او هېـڅ مرسـته ورسـره پاتـې نـه شـي، نـو د پاکسـتان پـوځ خـو يـو اسلامـي پـوځ دی، لـږ تـر لـږه بـه زمـوږ سـاتنه وکـړي. د همـدې هيلـې او بـاور پـر بنسـټ، دغـو مجاهدينـو خپـل هـر څـه د همـدې پوځ په لار کې قربان کړل.

هغـوی خپلـې پلرنـی شـتمنی پـه خپلـو وطنونـو کـې يـو پـه بـل پسـې خرڅولـې، تـر څو دا پوځ پياوړی کړي او ملاتړ يې وکړي.

کلـه چـې امريـکا بې‌دليلـه لـه عربـو سـره دښـمني واخيسـته او دواړه يـو د بـل پـر وړانـدې ودرېـدل، نـو د دغـو مجاهدينـو هيلـې بيـا هـم د همـدې پاکسـتانی پـوځ پـورې تړلـې وې. خـو هغـوی هغـه مهـال سـخت حيـران او بې‌وسـه شـول، کلـه چـې همـدې پـوځ د امريـکا لـه غوښـتنې نـه مخکـې، يـو پـه بـل پسـې خلـك پـه نښـه کـړل‌ـ‌ځينـې يـې ووژل او ځينـې نـور يـې ژونـدي ونيـول او ژونـدي يـې امريـکا تـه وسپارل، تر څو خپله د مسلمان‌دښمنی څرګند ثبوت وړاندې کړي.

مسلمان‌دښـمني چـې پخـوا د دوی پـه سرشـت کـې وه، اوس يـې يـو عـادت جـوړ شـوی. عـرب وو، کـه فلسـطينيان، کـه بنګاليـان او برميـان، او کـه افغانـان هيڅـوك تـرې خونـدي نـه پاتـې کېـدل. آن تـر دې چـې وروسـته يـې د خپلـو هېوادوالـو مسـلمانانو پـر لـور د تـوپ خولـه هـم واړولـه. لـه کراچـی نـه تـر پېښـوره، او لـه کوټـې نـه تـر اسلام‌ابـاده پـورې، پـه هـر ځـای کـې يـې خپـل مسـلمان ورونـه نيـول، او امريـکا تـه يـې د "اصلـي مسـلمانانو" پـه نـوم سـپارل. لـه يـوې خـوا يـې لـه امريـکا ډالر ترلاسه کول، او له بلې خوا يې د زړه پټه دښمني ښکاره کوله.

کله چې امریکا ته د سپارل شوو کسانو شمېر زیات شو او نور یې له منلو انکار وکړ، نو بیا همدې پوځ خپل خلك په نښه کړل. د بلوچستان خلك یې په وینو ولمبول، کلي او بانډې د پوځ تر محاصرې لاندې راغلې، او له هوایي بریدونو څخه نیولې، تر ماشومانو او سپین ږیرو پورې هېڅوك ترې خوندي پاتې نه شول. د خیبر پختونخوا په ټوله سیمه کې یې پر کورونو چاپې ووهلې، او هر ځل یې د ظلم او وحشت یو نوی داستان ولیکو. په سند، په ځانګړې ډول په کراچۍ کې، خلك یې د بېلابېلو تورونو لکه "القاعده" او "لشکر جهنګوي" په نومونو نیول، زرګونه کسان یې ژوندي ورك کړل، او یا یې د زندانونو تر شا داسې بندیان کړل چې ژوند یې ورته دوزخ شو.

په پنجاب کې یې د پولیسو لخوا مرموزې وژنې پیل کړې، او د امت مسلمان ځوانان، سپینږیري او د ټولنې بېلابېل قشر یې په زرګونو ووژل او له منځه یې یوړل. د هغه پوځ روزنه چې د مسلمان د وینې تږی ساتل شوی وي، او بنسټ یې د مسلمان پر وړاندې په کینه، دښمنۍ او نفرت اېښودل شوی وي، تر ننه پورې هماغه لاره تعقیبوي. خو ستونزه دا وه چې له ډېرې مودې راهیسې ورته کوم پلمه په لاس نه ورتله.
بالاخره، کله چې یهودو له خپل لوېدیځ ملاتړي سره یوځای د فلسطیني مجاهدینو د ځپلو پرېکړه وکړه، نو د دې پوځ پخوانۍ هیله پوره شوه. لومړی یې ځان د هغوی مخې ته وړاندې کړ، تر څو د مسلمان وینې تویولو لپاره چمتووالی وښیي. خو څکه چې دا کار وخت ته اړتیا لرله، نو د بلې لارې په لټه کې شول.
د امریکا د پخواني ولسمشر دونلډ ټرمپ لپاره د بګرام هوایي اډې له لاسه وتل او په افغانستان کې د پاتې شوو وسلو موضوع مهمه وه. له همدې امله، یاد پوځ له خپله ځانه د افغان مسلمانانو پر وړاندې د دښمنۍ لاره غوره کړه، او د بېلابېلو پوځي مرکزونو پر لور یې بریدونه پیل کړل، څو خپله موخه څرګنده کړي. خو داسې ښکاري چې دې کار یې لا هم د زړه غوښتنه نه وه پوره کړې، تر دې چې وروسته یې یو حساس وخت وټاکه. د رمضان میاشت یې غوره کړه، او بیا یې په همدې میاشت کې د لیلة القدر مبارکې شپې شاوخوا وختونه وټاکل. آن تر دې چې د همدې مبارکو شپو له منځه یې یوه ځانګړې شپه وټاکله او پر کابل یې بریدونه ترسره کړل.

په دغو بریدونو کې هغه بېوسه خلك په نښه شول، چې له اوږدې مودې

ستونزو وروسته يې د ژوند يو څه هيله موندلې وه، او له هېڅ سره يې دښمني نه درلوده. راپورونه دا ښيي چې په دې پېښو کې کړن شمېر کسان زيانمن شول او مرګ ژوبله واوښته. څکه چې پوځ هغه چاودېدونکي مواد کارولي وو چې هر څه يې اور کرځولي وو او اور بيا وينه زېږوي. همدا اور د دې سبب ګرځي چې د مسلمان دښمني بنه نوره هم ښکاره شي، او هم په همدې سره د دغې دښمنۍ قوي زړونه سرېږي. نو له همدې امله يې دا وېروونکی عمل ترسره کړ.

هغو کسانو ته چې د دې پېښې په اړه ډېر حيرانتيا څرګندوي، دا خبره وړاندې کېږي چې د مارچ په اولسمه نېټه د پاکستان ځينو سياسي شنونکو د تاريخ له زاويې دا خبره په ډاګه کړه، چې څو لسيزې وړاندې هم داسې پرېکړه شوې وه چې کابل وسوځول شي او له خاورو سره برابر کړل شي. وروسته چې څه وشول، هغه بيا د بيان اړتيا نه لري.

خو دا خلك ولې دا هېر کړي چې هغه ځواك چې په خپل سرشت کې د مسلمانانو پر وړاندې دښمني لري، د هغه بنسټ د مسلمان د وينې په بوی ولاړ وي، او په رګونو کې يې د ظلم روح روان وي، هغه به څنګه رحم وکړي؟ داسې ځواك چې نه يې د فلسطين پر مظلومانو رحم وکړ، نه پر عرب مسلمانانو؛ نه يې د بلوچستان د خلکو وينه سپېڅلې وبلله، او نه يې د پښتنو، پنجابيانو او سنديانو د ناحق قتل پر وړاندې اقدام وکړ.

هغه ځواك چې د شلو کلونو په اوږدو کې يې د افغان مسلمانانو پر ضد بهرنيو ځواکونو ته اډې برابرې کړې، او د همدې خاورې له لارې زرګونه بريدونه ترسره شول-ايا دا ناشونې ده چې په يوه شېبه کې پنځه سوه کسان په نښه کړي؟ آيا زه ستا پر سادګۍ قربان نه شم؟

# ننني پاڅونونه د تېرو اوو لسيزو د جبرونو حساب او کتاب دی !

سلامت علي خان

تېره ورځ د بلوچستان په يو شمېر ښارونو او مرکز کوټه کې د بلوڅ بېلتونپالو له لوري يو ناڅاپي کيفيت رامنځته شو، د لمر ختو سره سم بلوڅ بېلتونپالو د يادو سيمو عمومي لارې، دولتي مرکزونه او بېلابېلې مهمې نقطې په لاس کې واخيستې. دولتي تأسيساتو ته ځای پر ځای درانه تلفات واوښتل او د سيمې خلك وايي چې سيمه ټوله عملاً د بلوڅ بېلتونپالو په لاس کې ده.
د بلوڅ بېلتونپالو يو تن مشر بشير زېب په خپله پر موټرسايکل سپور د نورو مسلح کسانو سره يو ځای په يوه وېډيويي پيغام کې له ټول بلوچستاني ملت څخه وغوښتل، چې راووزي او له د پوځپ رژيم څخه ازادي تر لاسه کړي. په ياد کړکېچن وضعيت کې ډېرو نورو خلکو له موقع څخه په استفادې عامه شتمني هم تر خپلو بريدونو لاندې ونيوله او تر دې دمه خبر دا دی چې درې يا هم څلور بانکونه په بشپړه توګه چور او لوټ شوي دي. د حالاتو ارزونکي وايي چې له ډېرې مودې وروسته لومړی ځل دی چې بلوڅ بېلتونپال په ډاګه د کوټې په څېر لوی ښار ته ننوځي او په علني توګه هر د زړه د خوښې ګامونه اخلي او له حکومتي چارواکو ورهاخوا يې ملت هم پر ځای د غندنې د دوی سره د خوښی په پار انځورونه اخلي او په شوق يې خپروي.

مخکې تر دې به بلوڅ بېلتونپالو ځای پر ځای حملې ترسره کولې او له مرکزي ښارونو څخه به لېرې پرتو سيمو کې د دوی فعاليتونه راڅرګندېدل، خو دې ځل هغوی په خورا پراخه کچه هجومي بريدونه ترسره کړي او خپل خوځښت يې يوه نوي پړاو ته داخل کړی دی. د دې هجومي او پراخو بريدونو په غبرګون کې پاکستاني چارواکي د تل په څېر نن هم وايي چې اورپکو ترهګرو حملې کړي او بې ګناه وګړي يې له مرګوني حالت سره مخ کړي دي، خو د حالاتو مخکښ ارزونکي او د بلوچستان قضيې ته ژور پام لرونکي په دې باور دي چې دا هر څه د پاکستان د زورواکي رژيم د ظلمونو پر وړاندې رامنځته شوي دي.

په روان میلادي کال کې د بلوڅانو ستر سیاسي شخصیت سردار اخترجان مینګل په خپل یوه بیان کې ویلي وو چې بلوڅ ځوانان د خپلو مشرانو خبرو اورېدلو ته چمتو نه دي او اوس باید مورږ د دوی په تحریک کې ورسره یو ځای شو. د سردار دې بیان ته د «وایس اف امریکا» سره په مرکه کې په اسلام اباد کې د صنوبر انسټیټیوټ اجرائیوي مشر او تجزیه کار قمر چیمه ویلي وو چې د بلوڅ بېلتونپالو سره د مشرانو خواخوږي، د ځوانانو او خویندو یو ځای کېدل یوه حیرانوونکې پېښه ده او د ده په تکو د دې تر شا د پاکستاني چارواکو ظلمونه او د بلوڅانو حقوق تر پښو لاندې کېدل دي.

د بلوڅ بېلتونپالی تاریخپوهان وایي چې د بلوڅانو او پاکستاني دولت تر منځ کړکېچن حالت د پاکستان همزولی دی. د پاکستان له منظورۍ سره هممهاله د هغه وخت د قلات ریاست مشر خان آف قلات د پاکستان سره یو ځای کېدو مخالفت وښود او اعلان یې وکړ که پاکستاني لوري له زور څخه کار واخلي نو دوی به یې پر وړاندې مسلح پاڅون وکړي. د خان آف قلات تر ولکې لاندې له کوټې نیولې تر کوادر پورې ټولې بلوڅ مېشتې سیمې شاملې وې او دوی پکې د اسلامي قانون له مخې حکومتداري پر مخ وړله.
د سیمې په کچه دا یو له هغو ځایونو څخه و چې د قضاء چارې یې د آسیا تر ټولو لویې جامعې دیوبند یو تن شاګرد او د وخت ستر عالم شیخ شمس الحق افغاني پر مخ وړلې، خو پاکستاني چارواکو دا هر څه له پامه وغورځول او د زور لاره یې وکاروله او بمبارد او دې ته ورته نور ظلمونه یې ترسره کړل او په دې توګه وتوانېدل چې بلوڅ مېشتې سیمې تر خپلې ولکې لاندې راولي او د خان آف قلات له لوري اعلان شوی مسلح پاڅون په جزوي توګه پای ته ورسېد.

خو کله چې د ایوب خان په وخت کې پوځي کودتا رامنځته شوه نو د خان آف قلات د یو شمېر خپلوانو له لوري د یادې کودتا پر ضد مسلح پاڅون پیل شو. د دې پاڅون مشري نوروز خان کوله. د څو کلونو تر دوامدارې مبارزې وروسته د ایوب خان له لوري وړاندیز وشو چې که نوروز خان تسلیم شي او خپلې وسلې پر ځمکه کېږدي نو دوی ته به عفو وشي. د دې کار لپاره ایوب خان کڼ شمېر مشران د ضمانت په توګه وړاندې کړل او په نتیجه کې نوروز خان له غرونو څخه راکوز شو او تسلیم شو، خو پاکستاني چارواکو د خپل عادت له مخې غدر وکړ او ډېر ژر یې هغه او زوی دار ته وخېژول او د خپلو کړیو وعدو پر ضد یې په وحشیانه توګه ووژل.

که څه هم د بلوڅ بېلتون څپه د نوروز خان په ناروا او د ژمنو پر ضد قتل سره په ښکاره پای ته ورسېده، خو ډېر ژر د ذوالفقار علي بوټو د واکمنۍ پر مهال یو ځل بیا د بلوچستان لر او بر ټول د حکومت او پوځ پر ضد راپاڅېدل، هغه مهال چې ذوالفقار علي بوټو په بلوچستان کې د بلوڅ سیاستوالو په مشرۍ جوړ شوی حکومت نسکور کړ او د سردار عطاءالله مینګل په شمول یې ټول بلوڅ سیاسي مشران بندیان کړل. پر دې سربېره بوټو د مري او جاوالان پر سیمو سخته بمباري وکړه او د خپلو سیاسي موخو لپاره یې زور او دهشت وکاراوه تر څو بلوڅان خپل تابع کړي. څېړونکي وایي چې بوټو ډېره وحشیانه بمباري وکړه او په زیاته کچه یې نارینه، بې‌ګناه ماشومان او ښځې ووژلې.

د بوټو دې کړنو په عامه بلوڅي سیمه کې د پاکستاني دولت او واکمنو پر ضد د نفرت یو نوی بهیر خپور کړ. د سیمې لیدونکي وایي چې نن د بوټو د بمبار او پوځي عملیاتو څخه شاوخوا پنځوس کاله تېر شوي دي، خو لا هم په سیمه کې د بې‌ګناه وګړو د ناروا قتل او د کورونو سخته ویجاړتیا تر سترګو کېږي او نښې نښانې یې پاتې دي. د پاکستاني واکمنانو دې ناروا کړنو یو ځل بیا بلوڅ بېلتون‌پالو ته زمینه برابره کړه او د بابو شیرمحمد مري او میر هزار خان په مشرۍ د مقاومت نوی بهیر پیل شو. بابو شیرمحمد چې په «شېر» مشهور و، په پراخه کچه یې انتقامي بریدونه پیل کړل او بېلابېلې سیمې یې د دولتي واکمنانو پر مخ وتړلې او ډېر زیانونه یې واړول.

خو کله چې شورویانو پر افغانستان یرغل وکړ او په پاکستان کې د بوټو حکومت ختم شو او پر ځای یې پوځي جنرال ضیاءالحق کودتا وکړه او دا وېره موجوده وه چې شوروي څواکونه بلوڅانو ته مهمات ورنه کړي او د خپلو کټو لپاره یې ونه کاروي، نو ځکه ضیاءالحق بلوڅانو ته ورغی او د «تېر ټول هېر» فورمول یې عملي کړ او د ډېرو ژمنو په ورکولو یې بلوڅان بېرته آرام کړل. بلوڅانو له مسلح پاڅون څخه لاس واخیست او سیاسي تعامل ته یې مخه کړه، خو یاد بهیر بېرته هغه وخت ټکنی شو کله چې د پاکستان پوځي دیکتاتور پرویز مشرف د بلوڅانو یو مخور مشر او د سیمې لوړپوړی شخصیت اکبر بګټي په خورا بې‌رحمانه ډول ووژه. پر دې سربېره یې خپل ملت ته وینا وکړه او د بګټي د قتل پېښه یې خپله یوه ستره لاسته راوړنه وبلله او ټول بلوڅ قام ته یې سخت سپک او لوېدلي الفاظ وکارول. په دې سره بلوڅانو یو ځل بیا د غورځنګ اعلان وکړ او په بېلابېلو سیمو کې یې خپل عملیات پیل

کړل او دا دی نن یې په رسمي توګه آن مرکز هم اشغال کړی دی.
د بلوڅانو او پاکستاني واکمنانو تر منځ جنجال او کړکېچ تر شا کوم لاملونه لري؟
په دې اړه د امریکا یوې نیمه دولتي ادارې «لاینز انستیتیوټ» یوه تفصیلي مقاله لیکلې او د بلوڅ بېلتونپالو له تاریخ سره سره پر یادو لاملونو رڼا اچوي. د هغوی په اند د بلوڅانو لویه قضیه د دوی حقونه دي. مقاله لیکي چې د پاکستان زر، ګاز، برېښنا او نور ټول هغه معدنیات چې پاکستان پرې تکیه لري له بلوچستان څخه را ایستل کېږي، خو له بده مرغه د پاکستان واکمن له همدغو معدنیاتو څخه بلوڅانو ته هېڅ ډول اسانتیاوې نه برابروي. د دوی وسایل د نورو لپاره د دنیا جنت ګرځوي، خو دوی خپله د غربت او فقر له عادي ژوند څخه نه دي خلاص. د دوی ځمکې شارې دي، کورونه یې ویجاړ دي، خونې یې تیارې دي، د ګاز تمویلونکي ښارونه خپله له یخنۍ کړیږي او د تودولو لپاره یې پر بوټو راټولولو تمرکز وي، ځکه دوی مجبور دي چې د خپل حق د تر لاسه کولو لپاره هره ممکنه هڅه وکړي.
خو په نړیواله کچه مبصرین په دې نظر دي چې خبره یوازې د حقوقو هم نه ده. د پاکستان له پیله تر اوسه پاکستاني واکمنانو هڅه کړې ده تر څو بلوڅان په هر ډول ستم وځپي، اولادونه یې له تعلیمه لرې وساتي، په خپلمنځي بدبینیو او قومي تربګنیو کې یې ښکېل وساتي، د صحت له پلوه یې کمزوري کړي، او داسې څوک پرې نه ږدي چې د سر سړی شي او د خپل حق لپاره غږ پورته کړي او یا هم پر دوی کېدونکي ظلمونه وغندي. له همدې امله پاکستاني واکمنو اکبر بګټي په ظلم او جبر وواژه او تر ننه پورې د پاکستان ټول ملت دې کړنې ته حیران دی او ټول سیاستوال، علما او د هر قشر خلك د اکبر بګټي قتل غندي.
په تېرو شلو کلونو کې پاکستاني واکمنانو په زرګونو بلوڅان له خپلو کورونو څخه په خورا وحشت سره ایستلي او تر ننه یې د مرګ او ژوند هېڅ درك نشته. د هغوی د درك معلومولو لپاره د ماما قدیر په شمول ګڼ شمېر بلوڅانو په میاشتو او ځینو خو آن په کلونو اعتصاب وکړ، خو نه دا چې چا یې غږ وا نهورېد، بلکې هغه او ملګري یې وځورول شول. واکمنانو نورو سیمو ته هم د ظلم لاس وغځاوه او د معصومو بلوڅانو وژنه او ځورونه یې نوره هم زیاته کړه. له کورونو څخه په پراخه کچه انسانان وایستل شول او په وحشي او صحرایي ډول له صحنې غایب شول. نه کومې محکمې پرې امر کړی دی او نه هم کوم عدلي ارکان ته معرفي شوي دي، خو ورك دي. خپلوان

یې یوازې دومره غواړي چې د مرګ او ژوند درك یې ورته معلوم شي.
په دې اړه هغوی د پاکستان د سترې محکمې امر هم اخیستی، خو هغه واکمن چې ځان مطلق فرعون کڼي، د انسانیت، اسلامیت او نړیوالو تولو اصولو خلاف یې پر دې سترګې پټې کړې دي. په تېرو څلورو کلونو کې د ماه‌رنګ بلوچ په نوم د سیمې یوې ځوانې نجلۍ د خپلو لادرکه خلکو لپاره غږ پورته کړ او په قانوني ډول یې غوښتل چې په اسلام‌اباد کې لاریون وکړي، خو واکمنانو هغوی ته اجازه ورنه کړه او ډېری ملکري یې ونیول او لادرکه کړل. کله چې په لوی اکثریت بلوڅان د ماه‌رنګ بلوچ سره یو ځای پاڅېدل، نو واکمنانو د حق د اورېدو پر ځای د حق غوښتونکې ماه‌رنګ هم د تورو خونو بندي کړه او تر ننه یې درك نشته.
که څه هم پاکستاني واکمنان د بلوڅ بېلتون‌پالو کړنې کله افغانستان، کله ایران او کله هندوستان ته منسوبوي او پر یو بل تورونه لګوي چې دوی د پاکستان امن خرابوي، په دې لړ کې تېر کال د پاکستان او ایران تر منځ پر یو بل بریدونه هم وشول، خو بل لور ته حقیقت دا دی چې پاکستاني واکمنانو په تېرو اوو لسیزو کې بلوڅان ځورولي دي، په زور او ظلم یې ځپلي دي، د هغوی حقوق یې تر پښو لاندې کړي دي، د اسلام، انسانیت او نړیوالو اصولو څخه یې د دوی په حق کې سرغړونه کړې ده. واکمنانو تل د زور په کارولو سره د بلوڅانو غږ د خاموشولو هڅه کړې، خو دا د تاریخ تسلسل دی چې د حق غږ په فشار نه ورکېږي، بلکې لا پسې ډېرېږي.

# د اربکیانو په وسیله د قومي شخړو په پارولو کې د پاکستان رول

سلمان ترین

په سیمه کې د پاکستان د پوځي رژیم د سیاستونو له تر ټولو خطرناکو او په عین حال کې له تر ټولو پټو اړخونو څخه یو، د پښتنو او بلوڅو ترمنځ د قومي درزونو د رامنځته کولو هڅه ده. دغه سیاست، چې د شر او فساد د ډلو، په ځانګړي ډول د پخوانیو اربکیانو، په مټ عملي کېږي، په ظاهر کې د مرکزي حکومت د مخالفینو د مهارولو په نوم توجیه کېږي؛ خو په حقیقت کې د هغه مقاومت د کمزورې کولو یوه طرحه ده چې د دغه رژیم د جوړښتي ظلم او تبعیضي سیاستونو پر وړاندې ولاړ دی.
د پاکستان پوځي رژیم ښه پوهېږي چې که پښتانه او بلوڅ د مرکزي حکومت د ظالمانه سیاستونو پر وړاندې سره متحد شي، د دغه هېواد ثبات به له جدي ګواښ سره مخ شي. له همدې امله، دغه رژیم له څو لسیزو راهیسې د «تفرقې واچوه او حکومت وکړه» ستراتیژي خپله کړې او د خپلو لاسپوڅو ډلو په وسیله هڅه کوي د دغو دوو سترو قومونو ترمنځ مصنوعي اختلافونو ته لمن ووهي، څو د محرومو سیمو اساسي ستونزې د قومي شخړو تر نامه لاندې پټې کړي او د خپل جوړښتي ظلم او تبعیضي سیاستونو له مسؤلیت څخه اوږې سپکې کړي.

پښتانه او بلوڅ، چې د سیمې دوه ستر او لرغوني قومونه دي، د تاریخ په اوږدو کې نه یوازې د یو بل دښمنان نه دي پاتې شوي، بلکې په ډېرو تاریخي پړاوونو کې یې د طبیعي متحدینو په توګه ژوند کړی دی. د قبیلو ترمنځ ودونو، اقتصادي راکړې ورکړې او ګډو ژبنیو او فرهنګي ارزښتونو د دواړو قومونو اړیکې دومره ټینګې کړې دي چې د دوی ترمنځ د دښمنۍ د رامنځته کولو هره هڅه د سیمې له تاریخي او ټولنیزو واقعیتونو سره ښکاره ټکر لري.
د پښتنو او بلوڅو اوسنۍ ناخوښي او نارضایتي د پاکستان د مرکزي حکومت د تبعیضي سیاستونو پایله ده، نه د قومي اختلافونو. له اقتصادي حقونو محرومیت، په وروسته پاتې سیمو کې د بنسټیزو پروژو نشتوالی، د سیاسي آزادیو ځپل، له مهمو پرېکړو څخه د سیمه‌ییزو مشرانو او نخبه‌ګانو کوښه

کول او د بلوچستان د ګازو او نفتو، همدارنګه د پښتنو سیمو د اوبو او نورو طبیعي سرچینو یو اړخیزه استثمار هغه عوامل دي چې د دواړو قومونو په منځ کې یې د پاکستان د پوځي رژیم پر وړاندې د خلکو غوسه او نارضایتي پارولې ده.

دا نارضایتي د ظلم پر وړاندې یو طبیعي او مشروع غبرګون دی او هېڅکله د قومي جګړې په توګه نه ده تعبیر شوې او نه به هم تعبیر شي؛ مګر دا چې دښمنان د اختلافونو په پارولو سره دغه تاریخي حقیقت تحریف کړي. د پاکستان پوځي رژیم د شر او فساد د ډلو، په ځانګړي ډول د هغو پخوانیو اربکیانو په وسیله چې د خپلو خلکو پر وړاندې د جنایتونو اوږده سابقه لري، هڅه کوي قومي اختلافاتو ته لمن ووهي.
د دې سیاست د عملي کولو څرنګوالی داسې دی چې په بلوڅ مېشتو سیمو کې د دغو ډلو اړوند کسان د ناامنۍ، غلاوو، انسان تښتونو او تخریبي فعالیتونو له لارې د پاکستان د پوځ د مداخلې زمینه برابروي. وروسته پوځ همدا مداخله د ترهګرو د ځپلو او سیمې د پاکولو په پلمه خلکو او نړۍ ته وړاندې کوي، حال دا چې د ترهګرو په نوم یاد شوي ډېر کسان یا د همدې لاسپوڅو ډلو غړي وي او یا هم هغه بې ګناه کسان وي چې په ناحقه تورن شوي وي.
په پښتنو سیمو کې هم همدا ډلې پر پوځي پوستو او دولتي تأسیساتو بریدونه کوي او په دې توګه پوځ ته پلمه په لاس ورکوي، څو د پښتنو پر وړاندې پراخ پوځي عملیات ترسره کړي. په رسنیزه او سیاسي کچه هم پاکستان د پراخو تبلیغاتو له لارې دغه ناامنۍ د قومي شخړو په توګه انځوروي او هڅه کوي دا تصور رامنځته کړي چې ګواکې پښتانه او بلوڅ د یو بل دښمنان دي او مرکزي حکومت د دوی ترمنځ د سولې یوازینی ضامن دی.

د دې سیاست اصلي موخه د مرکزي حکومت له جوړښتي ظلم څخه د خلکو پام اړول دي. که د بلوچستان او پښتنو سیمو ستونزې د قومي شخړو په نوم معرفي شي، نو بیا به څوک له مرکزي حکومت څخه دا پوښتنه ونه کړي چې ولې همدا سیمې د پاکستان تر ټولو محرومې سیمې دي، ولې یې طبیعي سرچینې د پنجاب او سند په ګټه لوټېږي او ولې پوځ د پرمختګ او آبادۍ پر ځای یوازې پوځي ځپنې ته لومړیتوب ورکوي.
خو دا خطرناکه لوبه نه یوازې د پاکستان ستونزې نه شي هوارولای، بلکې د ناامنۍ لمن ټولې سیمې ته غځوي او خپله پاکستان هم له جدي ننګونو سره مخ کوي. د قومي شخړو د تصور خپرول د سیمې د خلکو تاریخي حافظه له

پامه غورځوي، څکه پښتانه او بلوڅ دواړه ښه پوهېږي چې د دوی اصلي دښمن څوك دی او هر ډول تاوتریخوالی چې د دغو لاسپوڅو ډلو له لوري ترسره کېږي، د پاکستان د سیاستونو پایله کڼي، نه د قومي اختلافونو محصول.
همدارنګه، دا سیاست د تاوتریخوالي زنځیر لا پسې پیاوړی کوي او ډلو ته دا ذهنیت ورکوي چې زور او تاوتریخوالی د ستونزو د حل یوازینی لار ده. هغه ډلې چې نن د پښتنو او بلوڅو پر وړاندې کارول کېږي، ښايي سبا د پاکستان دننه کورنیو شخړو ته هم لمن ووهي. د پښتنو او بلوڅو ترمنځ د قومي اختلاف ادعا، د پاکستان د پوځي رژیم له لوري د خپل جوړښتي ظلم د توجیه لپاره جوړه شوې یوه ستره سیاسي دروغجنه ادعا ده. پښتانه او بلوڅ دواړه د یوې واحدې تبعیضي تګلارې قربانیان دي او د دوی اصلي ستونزه له یو بل سره نه، بلکې د پاکستان له مرکزي حکومت او د هغه له ځپونکو سیاستونو سره ده.
اسلامي امارت د همدې واقعیت په درك سره تل د قومونو پر یووالي او د سیمې د خلکو پر همغږۍ ټینګار کړی او هېڅکله به اجازه ورنه کړي چې د دښمنانو دسیسې د قومونو ترمنځ تاریخي او ټینګې اړیکې زیانمنې کړي. د خلکو ویښتیا، د قومونو ترمنځ یووالی او همغږي د دغسې شومو توطیو د شنډولو تر ټولو اغېزمنه او بنسټیزه لار ده.

# د داعش لخوا د پاکستان د ترهګرۍ‌ضد ځانګړي (CTD) په وړاندې سرسخت قاضي عبدالحکیم کاکړ وژل کېدل؛ تر شا یې څه دي؟

ډاکټر فرحان کاکړ

د بلوچستان تاریخ تل له غرنیو او سختو سیمو، ژورو سیاسي رازونو او له وینو ډکو کیسو سره تړلی پاتې شوی دی، خو په وروستیو ورځو کې د مستونګ ولسوالۍ د ولي خان بای‌پاس پر سیمه رامنځته شوې یوې پېښې د دې سیمې پوځي سیاست، جیوپولیټیکي تضادونه او د روانو روایتونو جګړه داسې پړاو ته رسولې ده، چې د دوست او دښمن ترمنځ کرښې پکې تتې شوې دي.

د ولسوالۍ او سیشن محکمې د قاضي عبدالحکیم کاکړ وژل کېدل یوازې د یوه قضایي شخصیت ترور نه دی، بلکې د هغه ژور بحران ښکاره نښه ده چې د بلوچستان ټول امنیتي او سیاسي جوړښت ورځ تر بلې پکې ډوبېږي.

که د دې پېښې شالید، انګېزې او له هغې وروسته رامنځته شوي حقایق په ژوره توګه وڅېړل شي، نو داسې یوه حیرانوونکې او له تضادونو ډکه انځوریزه صحنه مخې ته راځي، چې د پاکستان د روانو ستونزو او کړکېچونو ډېر لاملونه ترې په ډاګه کېږي.

د دې کیسې پیل د کیچ (تربت) د سیشن محکمې له هغې محکمې خونې څخه کېږي، چېرې چې قاضي عبدالحکیم کاکړ د اساسي قانون او د قانون د حاکمیت بیرغ اوچت کړ؛ هغه دریځ چې د بلوچستان په څېر په یوه حساسه او له وېرې ډکه فضا کې یې تمه ډېر کم کېده. د ۲۰۲۳ کال په نومبر میاشت کې د ترهګرۍ‌ضد ځانګړي (CTD) ادعا وکړه چې په تربت کې یې د یوې نښتې پر مهال څلور «ترهګر» وژلي، چې د «بالاچ بلوچ» په نوم یو ځوان هم پکې شامل و.

د نوموړي خپلوانو د هغه مړي پر سړک کېښود او پرلت یې وکړ. دوی وویل چې بالاچ له ادعا شوې نښتې څو ورځې وړاندې له خپل کور څخه نیول شوی و؛ نو ځکه دا د پولیسو نښته نه، بلکې له محکمې پرته ترسره شوی قتل و. کله چې دا قضیه د قاضي عبدالحکیم کاکړ محکمې ته وړاندې شوه، هغه د ځینو دودیزو قاضیانو په څېر د امنیتي ادارو پر لیکلو ادعاوو سترګې پټې نه کړې او له څېړنې پرته یې د هغو د تأیید او لاسلیك کولو څخه ډډه وکړه.

هغـه د ترهـکـرۍ ضـد ځانگـې (CTD) څخـه د ادعـا شـوې «پوليسـي نښـتې» د ثابتولـو لپـاره کـره او مسـتند شـواهد وغوښـتل. کلـه چـې يـادې ادارې ونـه شـوای کـولای دا ثابتـه کـړي چـې «دغـه وژنـه د قانـون لـه مخـې ترسـره شـوې ده»، قاضـي يـو زړور او بې‌سـارې قانونـي گام پورتـه کـړ او پوليسـو تـه يـې امـر وکـړ چـې د اړونـد و سي تي ډي افسرانو پر ضد د قتل دوسيه (FIR) ثبت کړي.

دا داسـې پرېکـړه وه چـې لـه يـوې خـوا يـې امنيتـي ادارې لـه سـخت فشـار سـره مـخ کـړې، او لـه بلـې خـوا يـې قاضـي عبدالحکيـم کاکـړ د هغـو کسـانو لپـاره، چې ځانونه يې مظلوم گڼل، د عدالت د غوښتنې يو باوري غږ وگرځاوه.
د قاضـي صاحـب دا قانونـي دريـځ يـوازې تـر همـدې ځايـه محـدود نـه شـو. هـر ځـل چـې امنيتـي ادارو د کـوم شـکمن کـس د نيولـو، توقيـف يـا پلټنـو لپـاره د هغـه محکمـې تـه د اجـازې يـا حکـم غوښـتنه کولـه، قاضـي عبدالحکيـم کاکـړ به د قانون پر بنسټ د هغوی غوښتنې ارزولې.
هغـه پـه څرگنـد و ټکـو ويـل: «محکمـې د دې لپاره نـه دي چـې د کومـې ادارې غيرقانونـي کړنـې يـا د شـواهدو لـه شـتون پرتـه د وکـړو د بې‌درکـه کولـو لپـاره يـوازې د تأييـد مهـر وگرځـي.» د کـره شـواهدو د نشـتوالي لـه املـه، هغـه څـو ځلـه د ترهـکـرۍ ضـد ځانگـې (CTD) د وارنټونـو د صادرولـو غوښـتنې رد کـړې او د يـو شمېر نيول شويو کسانو د خوشې کولو امر يې وکړ.
لـه همـدې املـه، قاضـي عبدالحکيـم کاکـړ پـه عملـي توگـه پـه بلوچسـتان کـې د فعاليـت کوونکـو امنيتـي ادارو، پـه ځانگـړي ډول د ترهـکـرۍ ضـد ځانگـې (CTD)، لپاره پر يوه دوامداره ننگونه بدل شـوی و؛ ځکـه چـې هغـه د دوی د هغـو اقداماتـو پـر وړانـدې، چـې د قانـون لـه چوکاټـه بهـر گڼـل کېـدل، يـوه مهمه حقوقي خنډ بلل کېده.

اوس د دې انځـور بـل اړخ تـه هـم وگـورئ، چـې د مسـتونګ پـه غرونـو کـې لـه يـوې جلا او خونړۍ جگړې سره تړاو لري.
لـه اوږدې مـودې راهيسـې پـه بلوچسـتان کـې لـه يـوې خـوا سيـکولر بلـوچ ملتپالـې وسـله‌والې ډلـې، لکـه د بلـوچ لبريشـن آرمـي (BLA)، فعالـې دي، او لـه بلـې خـوا د داعـش د خراسـان ځانگـه (ISKP) هـم، د بېلابېلـو راپورونـو او ادعـاوو لـه مخـې، هڅـه کوي چې په دې سيمه کې خپل نفوذ پراخ کړي.
د ۲۰۲۵ کـال پـه مـارچ مياشـت کـې د بلـوچ لبريشـن آرمـي ادعـا وکـړه چـې د مسـتونګ پـه سيمـه کـې يـې د داعـش پـر يـوه پټ روزنيـز کمـپ بريـد کـړی او لـه

دېرشو ځخه زيات داعش وسله وال يې وژلي دي. داعش وروسته د ۲۰۲۵ کال په جون مياشت کې د يوې ويډيو په خپرولو سره د دې بريد يادونه وکړه او د بلوچ لبريشن آرمي پر ضد يې د جګړې اعلان وکړ. د دې خونړۍ نښتې په اړه د بلوچ لبريشن آرمي ادعا دا وه چې په مستونګ کې د داعش غړي د پاکستان د استخباراتي ادارو په اشاره د بلوچ وسله والو په اړه معلومات راټولوي، څو پاکستاني پوځ وکولای شي د هغوی پر ضد هدفمند عمليات ترسره کړي.
د پام وړ خبره دا ده چې کله په مستونګ کې بلوچ لبريشن آرمي داعش ته دومره درونده زيان واړاوه، نو د پاکستان په رسنيو کې د دې پېښې پوښښ نږدې نه تر سترګو کېده. لامل يې دا و چې دولت نه غوښتل بلوچ لبريشن آرمي ته دا امتياز ورکړي چې ګواکې د يوې نړيوالې ترهګرې ډلې د ماتولو وړتيا لري. خو څه موده وروسته، کله چې داعش د بلوچ لبريشن آرمي پر ضد غچ اخيستونکي بريدونه پيل کړل، نو د پاکستان د حکومت پلوي ټولنيزو رسنيو کڼو حسابونو، يوټيوبرانو او ځينو شننونکو د دغو بريدونو هرکلی وکړ. هغوی د داعش دغه بريدونه د بلوچ لبريشن آرمي د کمزورۍ او د دولت د يوې سترې بريا په توګه انځورول.

همدلته لومړی ستر او حيرانوونکی تضاد راڅرګندېږي، چې د پاکستان د پوځ او د هغه د ملاتړو په روايت کې د موجودو تناقضونو څرګندونه کوي. د پاکستان د حکومت پلوي کړيو د بلوچ لبريشن آرمي د مخالفت په احساساتو کې دا خبره هېره کړه چې د پاکستان رسمي دريځ تل دا و چې په هېواد کې د داعش کوم منظم حضور او يا خوندي پټنځايونه نه شته. خو کله چې د پاکستان د پوځ له ملاتړو ټولنيزو رسنيو حسابونو د داعش د بريدونو هرکلی پيل کړ، هغوی په غيرمستقيم ډول دا تاثر هم ورکړ چې ګواکې داعش په پاکستان کې دومره منظم او ځواکمن حضور لري، چې د بلوچ لبريشن آرمي په څېر د يوې لويې وسله والې ډلې شبکې ته زيان رسولای شي.
د «د دښمن دښمن دوست دی» له منطق سره سم د يوې نړيوالې سخت دريځې ډلې د پوځي برياوو لمانځل، د امنيتي ادارو له هغه رسمي روايت سره په ټکر کې واقع کېږي چې دوی يې له اوږدې مودې راهيسې وړاندې کوي.
له همدې سره، هغه دوديز دريځ هم تر پوښتنې لاندې راځي چې د پاکستان پوځ د عامه اړيکو څانګې (ISPR) تل وړاندې کاوه؛ يعنې دا چې د پاکستان پر ضد ټولې وسله والې ډلې، که سيکولر بلوچ دي او که مذهبي سختدريځې، په خپلو کې يو ډول پټ تفاهم او همغږي لري.

د بلـوچ لبریشـن آرمـي او داعـش ترمنـځ خونـړۍ نښـتې، دا څرګنـدوي چـې د دواړو ترمنځ نـه کـوم رسـمي او نـه هـم غیررسـمي تړون شـته، بلکـې دواړه لـه فکـري او پوځـي پلـوه یـو د بـل سـخت مخالـف دي. د دولـت لـه لـوري د ټولـو وسـلهوالو ډلـو یـو شـان معرفـي کـول، د نړیوالـو خواخـوږۍ د ترلاسـه کولـو لپـاره یـوه تبلیغاتـي تـګلاره وه، څـو بلـوچ خوځښـت لـه داعـش سـره وتړي، د نړیوالـو پـه نظر یـې بدنـام کـړي او د بشـري حقونـو د سـرغړونو پـر وړانـدې نیوکـې کمـزورې کـړي. خـو دا تضادونـه هغـه مهال خپـل تـر ټولـو حسـاس او حیرانوونکـی پړاو تـه رسـېږي، کلـه چـې پـه مسـتونګ کـې قاضـي عبدالحکیـم کاکـړ وژل کېـږي او داعـش د دې برید مسؤولیت پر غاړه اخلي.
د داعـش د اعلان شـویو دریځونـو لـه مخـې، دا ډلـه ځان د هغـو حکومتونـو، اشـخاصو او محکمـو مخالفـه بولـي چـې د ولسـواکۍ او د انسـانانو لخـوا شـویو قوانینـو او اساسـي قانـون پـر بنسـټ فعالیت کـوي. قاضـي عبدالحکیـم کاکـړ هـم د همـدې جمهـوري اساسـي قانـون لـه مخـې دنـده ترسـره کولـه، نـو د دې منطـق لـه مخـې کېدای شـي د داعـش د احتمالـي هدفونـو پـه ډلـه کـې راشـي. خـو د پام وړ تضـاد دا دی چـې همدغـه قاضـي پـه هماغـه وخـت کـې د پاکسـتان د امنیتـي ادارو د هغـو اقداماتـو مخالفـت کاوه چـې د قانـون لـه چوکاټـه بهـر بلـل کېـدل، او د هغـوی د خوښې پرېکړو له صادرولو یې ډډه کوله.

د قاضـي دغـه دریـځ پـه غیرمسـتقیم ډول هغـو کسـانو تـه کـټـه رسـوله چـې ځانونـه یـې د دولتـي فشـار او ظلـم قربانیـان بلـل، او تـر دې وړانـدې د قاضـي او داعـش ترمنـځ کـوم څرګنـد شـخصي یـا پخوانـی اختـلاف هـم نـه و یـاد شـوی. بیـا ولـې داعـش داسـې یـو قاضـي پـه نښـه کـړ چـې د هغـه عدالتـي دریـځ د امنیتـي ادارو لپـاره سـتونزه کېنل کېده؟
همـدا پوښـتنه هغـه بنسـټ جـوړوي چـې ځینـې بلـوچ سیاسـي کـړۍ، خپلـواک شـنونکي او د افغانسـتان اسلامـي امـارت یـې د دې ادعـا لپـاره وړانـدې کـوي چـې ګواکـې داعـش پـه بلوچسـتان کـې د امنیتـي ادارو د نیابتـي ډلـې (PROXY) پـه توګـه فعالیـت کـوي. د قاضـي عبدالحکیـم کاکـړ لـه وژل کېـدو څخـه تـر ټولـو لـوی زیـان د قانـون حاکمیـت او عدالـت تـه ورسـېد، خـو د هغـه پـه انـد تـر ټولـو ډېره کـټـه هغـو امنیتـي ادارو تـه ورسـېده چـې داعـش یـې، د خپـل اعلان شـوي فکـر لـه مخـې، د اسلام لـه دایـرې بهـر ګڼـي، او قاضـي د هغـوی د ځینـو چارواکـو پـر ضـد د قانوني دوسیو د ثبتولو امرونه صادر کړي وو.

که د قاضي عبدالحکیم کاکړ تر وژل کېدو وروسته ټول شك او د خلکو غوسه د امنیتي ادارو پر لور اوښتې وای، نو داعش د برید مسؤولیت په سمدستي توګه پر غاړه اخیستلو سره، په غیرمستقیم ډول د سي ټي ډي (CTD) او پاکستاني پوځ په ځېر امنیتي ادارو ته د شکونو د کمېدو زمینه برابره کړه. دا یو د پام وړ تضاد دی چې یوه ډله، چې ځان د ولسواکۍ تر ټولو ستره دښمنه بولي، داسې اقدام کوي چې په عملي ډول د هماغې ولسواك نظام د امنیتي ادارو په ګټه تمامېږي او د هغوی موقف اسانه کوي.
د دې ټول وضعیت تر ټولو ترخه پایله دا ده چې په بلوچستان کې روانه شخړه، چې د داعش او د پاکستان پوځ او امنیتي ادارې پکې د یوه لوري په توګه ښکاري، اوس داسې پړاو ته رسېدلې چې د دولت رسمي روایتونه ورسره له جدي پوښتنو سره مخ شوي دي.
که پاکستاني امنیتي ادارې په رښتیا هم داعش د خپلو ستراتیژیکو موخو او د خپلو لنډمهالو مخالفانو، یعنې بلوچ ملتپالو، د ځپلو لپاره د نیابتي ځواك په توګه کاروي، نو بیا به دا ډله هېڅکله په پاکستان کې له منځه ولاړه نه شي.
«ترهګري د هغه مار په څېر ده چې انسان یې یوازې د دې لپاره نه شي ساتلای چې ګاونډي وچیچي؛ ځکه یوه ورځ به همدا مار خپل پالونکی هم وچیچي.»
د قاضي عبدالحکیم کاکړ وژل کېدل د همدې پالیسۍ یوه بېلګه ده، ځکه همدغه نیابتي ځواك بالاخره د دولت پر هغه بنسټ برید وکړ چې عدلیه بلل کېږي. تر هغه وخته چې د پاکستان پوځ او امنیتي ادارې خپلې قانوني دندې په بشپړ ډول ترسره نه کړي، خلکو ته د اصلي ښمنۍ په سترګه ونه ګوري او د تبلیغاتي جګړو له لارې خپلې فاسدې موخې تعقیب کړي، نو د قاضي عبدالحکیم کاکړ په څېر د قانون او ولس د ملاتړ کوونکي کسان به قرباني کېږي، او د سي ټي ډي (CTD) په څېر مجرمې ادارې به د داعش له‌خوا د برید د مسؤولیت د منلو تر پردې لاندې د ځان د پټولو ناکامې هڅې ته دوام ورکړي.

# سي آی ای، ولې افغانستان کې ناکامه شوه؟ د الجزيري ځانګړی راپور

لطف الله خيرخواه

«ځينې خلک داسې ګومان کوي چې امريکا څه وغواړي، هغه کولی شي؛ ځکه چې سپوږمۍ ته ختلې. که د کوم کار توان يې نه وي يا يې منابع کمزوري وو يا د کومې اداري ستونزې له امله پرې ونه توانېږي، بيا وايي چې نه يې کاوه، ځکه ونه شو».
جنرال پيتر چياريلي دغه جمله په هغه مقاله کې ليکلې وه چې د امريکايي پوځ د "العرض العسکري" مجلې د عربي نسخې له‌خوا د افغانستان او عراق د جګړو پر مهال خپره شوې وه. دا جمله د امريکا د پراخ توان په اړه هغه عام تصورات راښيي چې په نړۍ کې خپاره دي او کله چې د امريکايي استخباراتو پر نفوذ د سترو پېښو په تړاو خبرې کېږي، نو دغه تصورات لا پسې غټېږي.
بل لور ته لکه څنګه چې د روبرټ ګريوس په کتاب "ولې استخبارات ناکامېږي؟ د ايران له انقلاب او د عراق له جګړې زده کړې" کې لوستل کېږي، د استخباراتو لوړ رتبه مامورين پخپله او د استخباراتو د څېړنو متخصصين د استخباراتي ادارو پر اغېز ډېر متواضعانه غږېږي. په دې څېړنو کې يو مهم جانبي عنوان د "استخباراتي ناکامۍ" په نوم وي.
څو اوونۍ وړاندې، تحقيقي ژورنالېست ټيم وينر خپل نوی کتاب «مأموريت: په ۲۱مې پېړۍ‌کې د امريکا استخبارات» خپور کړ. هغه له ۱۹۸۸ کال راهيسې د استخباراتو په برخه کې تخصصي کار کوي. په ۲۰۰۷ کال کې يې «د ايرو ميراث» کتاب د امريکا "ملي کتاب جايزه" ګټلې وه. په دغه اثر کې يې د امريکا د مرکزي استخباراتو ادارې (CIA) لومړنۍ شپېته کلنه دوره څېړلې وه، چې په کې يې پر ګڼو نا محرمو اسنادو او له شاوخوا ۲۰۰ پخوانيو رييسانو، افسرانو او لويو چارواکو سره پر مستقيمو مرکو تکيه کړې وه.
په دې راپور کې به موږ په افغانستان کې د امريکايي استخباراتو هغه ناکامي وڅېړو چې د دې هېواد د تاريخ تر ټولو اوږده جګړه کې (۲۰۰۱–۲۰۲۱) ورسره مخ شو.
د امريکايي استخباراتو دندو کې بدلونونه:
په افغانستان کې د استخباراتي ناکامۍ جزياتو په اړه مخکې رېچارډ هيلمز

ته غوږ کېږو چې د امریکا د مرکزي استخباراتو اداري (CIA) له بنسټ ایښودونکو څخه و. هغه په دې اداره کې پرلهپسې لوړو مقامونو ته ورسېد. د لینډن جانسن او رېچارډ نیکسن ولسمشرانو په دوره کې اووه کاله د دې اداري رییس پاتې شو. وروسته له خپلې دندې لرې کړل شو، ځکه چې د "واټرګېټ" د رسوایی د پټولو مخالفت یې کړی و. (واټر ګېټ په ۱۹۷۰ لسیزه کې د ریچارډ نیکسن وخت کې پېښه شوې. نیکسن په سپینه ماڼۍ کې غږثبتوونکي آلات نصب کړي وو، چې بالاخره د استخباراتو لخوا کشف شول او د نیکسن لپاره یوه شرموونکې موضوع وه. نیکسن د همدې قضیې له افشاء وروسته له جمهوري ریاسته استعفاء ورکړه).

هیلمز د "CIA" د بنسټ ایښودلو هدف داسې بیانوي:

«په پیل - ۱۹٤۷ کال – کې دنده دا وه چې نړۍ په عمومي ډول او دښمن په ځانګړي ډول وپېژنو او د راتلونکي پرل هاربر ډول برید مخه ونیسو (دا په ۱۹٤۱ کې جاپان د امریکا پر هوايي اډه ناڅاپي برید وکړ، چې ۲٤۰۰ امریکایان په کې ووژل شول. د هغه وخت ولسمشر فرانکلن دا ورځ شرموونکې وبلله).

ذهنیت د داسې اداري د جوړولو و چې تحلیلګرانو ته له لرې د هر څه د کتلو توان ورکړي، که څومره هم پټ وي. جاسوسانو به د کرملین رازونه موندل، اکاډمیک تحلیلګرانو به تجزیه کول او مدیرانو به خپل راپورونه د امریکا ولسمشر ته ورکول. په پیل کې موږ هېڅ نه پوهېدو. زموږ پوهه د مقابل لوري د پلانونو، نیتونو او وړتیاوو په اړه هېڅ یا نږدې هېڅ وه. که به مو د ټیلفون یو دلیل موند یا د هوايي ډګر نقشه، دا به خورا مهمه وه. موږ د نړۍ د ډېرو برخو په اړه په بیخي ناخبره وو.

کله چې سړه جګړه پیل شوه، د CIA دنده بدله شوه او د ۱۹٤۹ تر پایه د کمونېزم ماتول اصلي موخه وګڼل شوه. له همدې امله د نړۍ پېژندل دویم مقام ته ولوېدل او پر ځای یې د پټو فعالیتونو له لارې د نړۍ بدلولو سیاست راووت.

CIA د هغو ځانګو جوړول پیل کړل - لکه په ایران کې د مصدق پر حکومت - چې د پوځي کودتاوو پر طرحو کار وکړي یا د سیاسي ګوندونو، مشهورو څېرو او تاجرانو د اتحادیو پر پیرلو وتوانېږي - لکه په ایټالیا او یونان کې چې وشول – چې کمونېست ګوندونه په ټاکنو کې مات کړي. همدارنګه یې په روسیه، پولنډ، اوکراین، چین او شمالي کوریا کې مخالف عناصر د پاراشوټونو له لارې دننه کړل چې د جاسوسۍ او تخریب ماموریتونه وکړي. سربېره پر دې، CIA د بهرنیو مشرانو د وژنې د عملیاتو ملاتړ وکړ، لکه په ۱۹٦۱ کې د کانګو لومړی وزیر پاتریس لومومبا او په ۱۹۷۳ کې په چیلي کې ولسمشر سالوادر الینده.

CIAد "خلیج د خوګانو "د عملیاتو د ناکامۍ له امله له سختې رسوایۍ سره مخ شوه. د عملیاتو هدف دا و چې وسلوال کیوبایي مخالفین پر کیوبا یرغل وکړي. د ولسمشر جان کینډي د لاربښوونې پر بنسټ د کیوبا د ولسمشر فیدل کاسترو د وژلو هڅه هم ناکامه شوه، بلکې کینډي خپله د امریکایي ځوان اوزوالډ له خوا ووژل شو چې له شورویانو او کوبیایانو سره یې مشکوکې اړیکې لرلې.

وروسته د واټرګېټ رسوایي پیدا شوه او نیکسن د خپلو سیاسي مخالفانو د جاسوسۍ لپاره له CIA ناوړه کټه واخیسته. همدا کار د دې لامل شو چې د شلمې پېړۍ په اوایمو کلونو کې کانګرس ځانګړې کمیټه جوړه کړي چې د استخباراتو د فعالیتونو څارنه وکړي او CIA دې ته اړ کړي چې خپل اصلي هدف ته بېرته ستنه شي، چې د نړۍ او دښمن د پېژندو ماموریت دی، د CIA ورتیا و بله ستره ضربه هغه وخت وخوړه کله چې په ۱۹۹۱ کې د شوروي اتحاد ړنګېدو پېښه وشوه. په داسې حال کې چې د ۱۹۷۰ مو کلونو په پای کې د CIA تحلیلي راپورونو ویلي وو چې د لسو کلونو په دننه کې به امریکا له شوروي اتحاده په پوځي توان او اقتصادي وده کې وروسته پاتې شي، خو پېښه معکوسه وه.
د کمونېست دښمن له منځه تلو د CIA نفوذ په ۱۹۹۰مو کلونو کې کمزوری کړ. د ولسمشر کلنټن په دوره کې یې بودجه شاوخوا ۶۰۰ میلیونه ډالره کمه شوه، له دېرشو څخه زیات بهرني مرکزونه وتړل شول او نږدې پنځه زره کسان له اداري ووتل. د پټو عملیاتو، د بهرنیو اجنټانو د جلب، د دښمنو استخباراتي ادارو د نفوذ او د ترهګرۍ په نوم د شبکو د ماتولو لپاره د ځانګړي څانګې لوړ رتبه مامورین یوازې تر ۱۰۰۰ پورې پاتې شول، د اداري د مشر جورج ټېنټ په وینا، د نیویارك ښار په دفتر کې د FBI اجنټان د CIA د ټولو بهرنیو لوړ رتبه مامورینو له شمېر څخه ډېر شوي وو.
د هماغې دورې په اړه، د CIA مرستیال مشر ۱۹۸۹–۱۹۹۲ رېچارډ کېر وايي: "د شوروي اتحاد سقوط د امریکایي استخباراتو لپاره یوه سخته ضربه وه. له هغې وروسته هېڅ هم د پخوا غوندې پاتې نه شو."
د استخباراتو افسر دوان کلارېدج په ۱۹۹۷ کې له تقاعد وروسته ولیکل: "اداره د یوه مؤثر استخباراتي ارګان په توګه پای ته رسېدلې ده او یوازې هغه وخت به بېرته فعاله شي چې یو لوی ناورین پېښ شي."
همدارنګه جورج ټېنټ په ۱۹۹۸ کې په یو محرمانه راپور کې ویلي وو: "که د دولت د استخباراتي معلوماتو د راټولولو، شنني او تولید په طریقه کې ژور او

تولیز بدلون رامنځته نه شي، نو متحده ایالات به ډېر ژر له یوه ستر، بنسټیزې او غمونکي استخباراتي ناکامۍ سره مخ شي. "

عراق د لومړني هدف په توګه:

ټیم وینر لیکي چې په ۱۹۹۸ کال کې د القاعدې لخوا د کینیا او تانزانیا په سفارتونو برید دا وښودله چې تنظیم له خپل مرکز افغانستان څخه درې زره میله لرې په یوه وخت دوه هدفونه په نښه کولی شي. همدې پېښې CIA دې ته اړ کړه چې د افریقا، منځني ختیځ او بلقان په بېلابېلو سیمو کې د چاودنو د شکمنو کسانو تعقیب پیل کړي. په ۱۹۹۹ کې CIA پنټاګون ته ناسم معلومات ورکړي وو او د صربیا پلازمېنې بلګراد کې د چین سفارت د صربي پوځي زېرمتون پر ځای بمبار شو، چې درې کسان پکې ووژل شول او شل نور ټپیان شول.

له دې وروسته ولسمشر کلنټن د CIA پر وړتیاوو او ارزونو باور بایلود او په افغانستان کې د القاعدې مشرتابه د نښه کولو انتخاب بېرته وځنډېد. پر افغانستان یې د نورو بریدونو اجازه ور نه کړه. کله چې بوش د ۲۰۰۱ په پیل کې واک ته ورسېد، د دفاع وزیر ډونالډ رمسفیلډ په ویاړ وویل:

"له لسیزو راهیسې دا لومړی ځل دی چې هېواد هېڅ ستراتیژیک ګواښ نه لري. موږ اړ نه یو چې هر سهار په وېره پاڅو چې ګوندې کومه ستره پېښه به وشي. "

کله چې د CIA مشر جورج ټېنټ د افغانستان د القاعدې دوسیه نوې ادارې ته را پورته کوله، د ملي امنیت شورا هېڅ جدي غبرګون ونه ښود، ځکه د بوش ادارې د افغانستان په اړه کومه تګلاره نه لرله.

د ادارې زړو څېرو، لکه د ولسمشر مرستیال ډیک چیني او د دفاع وزیر رېمسفیلډ، د CIA پر نیتونو شک درلود. دوی چې د نیکسن له دورې راهیسې تجربه لرله، وېرېدل چې ګوندې اداره د لیبرالانو یوه دسیسه پر مخ وړي چې د جمهوري غوښتونکي حکومت بنسټ کمزوری کړي. هغوی ګومان کاوه چې د القاعدې د خطر خبره ښایي یوه دوکه وي چې سپینه مانۍ او پنټاګون له اصلي او عاجلو مسایلو څخه پر فرعي او بَعدي هغو مصروف کړي.

بل لور ته د عراق دوسیه د بوش د واکمنۍ له پیل سره د ملي امنیت د شورا په اجنډا کې دوه یا درې ځله په اونۍ کې څېړل کېده. استدلال دا و چې د صدام حسین د رژیم نسکورول به واشنګټن پر عربي نړۍ واکمن کړي، د اسرائیلو امنیت به پیاوړی کړي او د سیمې نور دیکتاتوران به د ډومینو غوندې یو په بل پسې وغورځي (ډومینو د نښتو ډبرو هغه لوبه ده چې کله یوه ډبره

په نښه شي، نو نښتې د برې پرلپسې پسې پرېوځي ).
د دې پروژې په تبليغ کې هغه مهال د اسرائيلو لومړي وزير بنيامين نتنياهو مهم رول درلود، د ۲۰۰۱ د اګست پر ځلورمه نېټه CIA ته سپارښتنه وشوه چې د صدام حسين د رژيم د نسکورولو لپاره د پټو عملياتو مفصله طرحه جوړه کړي. د ادارې يوې نږدې اډې چې د عراق يو ګاونډي هېواد کې وه، داسې پلان جوړ کړ چې صدام ته دا تاثر ورکړي چې کوا کې چې په بغداد کې يو داخلي اپوزېسيون پيدا شوی او د هغه نږدې کړی غړي د ده پر ضد دسيسې جوړوي. هدف دا و چې صدام اړ کړي خپل وفاداران ووژني چې د يوې خيالي کودتا مخه ونيسي او په دې توګه د واک پر دستګاه د هغه نيواک کمزوری شي، بيا به وروسته په جنوب او شمال عراق کې د مخالفو ډلو د خوځېدو له لارې رژيم نسکور شي.

## د سپتمبر پېښې او د افغانستان دام

د ۲۰۰۱ د سپتمبر پر ځلورمه د ملي امنيت شورا د القاعدې دوسيه بحث کړه، ځکه پرله‌پسې داسې خبرداري ورکول کېدل چې يوه ستره حمله نږدې ده، خو ځای او هدف يې نه و څرګند. يوه اوونۍ وروسته بريدونه وشول چې د نيويارك د نړيوال سوداګريز مرکز دوه برجه او د واشنګټن د دفاع وزارت (پنټاګون ) يې په نښه کړل.
له بريد څو ساعته وروسته د دفاع وزير رامسفيلډ وغوښتل چې وڅېړل شي ايا د عراق او دې بريدونو تر منځ د استخباراتي معلوماتو له مخې کومه اړيکه شته او که نه؟ بل سبا، د برتانيا د بهرنيو استخباراتو د ادارې (MI6 ) مشر رېچارډ ديرلوف له خپلو څو مرستيالانو سره په يوه ځانګړې الوتکه کې له لندن څخه واشنګټن ته ورسېد. هغه خپلو امريکايي سيالانو ته وويل:
"موږ بايد پر افغانستان تمرکز وکړو او پر بل هېڅ شي تمرکز ونه کړو. "
د ده موخه دا وه چې د بوش اداره د عراق له يرغل څخه را وګرځوي.

د سپتمبر پر ۱۵مه، د کامپ ډېوېډ د جګړې شورا د CIA طرحه د بريدونو د ځواب په توګه ومنله. په دې پلان کې راغلي وو چې د القاعدې پر غړو او اړوندو کسانو به په ۹۲ هېوادونو کې عمليات کېږي. د دې ترڅنګ به د امريکا په نوم د "د ترهګرۍ پر ضد نړيوالې جګړې" تر سرليك لاندې بهرنيو او دوستو استخباراتي ادارو ته سترې مالي مرستې ورکول کېږي. د دې جوړجاړي له مخې به امريکايان پيسې، وسلې او د اورېدنې (استراق سمع ) وسايل ورکوي او دوستې ادارې به پر کورونو عمليات کوي او د ترهګرۍ په تور شکمن کسان به نيسي يا به يې وژني.

د افغانستان په تړاو پلان داسې و چې د شمالي تلوالې (NORTHERN ALLIANCE) مخالفو مشرانو ته پیسې او ملاتړ ورکړل شي، چې بن لادن او د هغه شبکه له منځه یوسي او د طالبانو حکومت نسکور کړي. په دې توکه CIA یو ځل بیا د پټو عملیاتو پر لور واوښته او د ساده جاسوسۍ او شننې پر ځای یې د مستقیمې مداخلې لاره خپله کړه. د دې اداري د تولیزو وژنو وسلو د شتون په اړه جعلي راپورونه د امریکا لپاره هغه لامل شو چې پر عراق یرغل وکړي او هغه اشغال کړي.
هغه وخت د بهرنیو چارو وزیر تینکار وکړ چې لومړی دې د ډیپلوماسۍ له لارې طالبان دې ته قانع شي چې بن لادن وسپاري، بیا دې جګړه پیل شي خو ولسمشر بوش وویل:
"ښکاره دې وي، ډیپلوماسي ته به هېڅ پام نه کوو، موږ جګړې ته روان یو."
کله چې برېتانویانو د امریکا پلان ولید، د MI6 د ترهګرۍ ضد څانګې مشر مارك الن وپوښتل:
"کله چې د افغانستان جګړه پای ته ورسوو او د القاعدې غړي د ټولې اسلامي نړۍ پر لور خپاره شي، بیا به څه کوو؟"
د ټینرد وینا له مخې، امریکایانو د دې پوښتنې هېڅ ځواب نه درلود.
د شمالي تلوالې ځواکونو چې د څو سوه امریکایي استخباراتي کسانو او ځانګړو ځواکونو له ملاتړ سره مل وو، د طالبانو حکومت نسکور کړ، خو بیا ستره پوښتنه راپورته شوه: وروسته به څه وشي؟
وینر د کتاب په حواله لیکي چې د ګډ هیئت د ارکانو رئیس جنرال ریچارډ مایرز وویل:
"هغه دنده چې راته سپارل شوې وه په افغانستان کې داسې وه: ننوتل، القاعده تعقیب کول او بیا له افغانستان څخه وتل... ولسمشر بوش وویل، موږ هلته د دولت د جوړولو لپاره نه یو تللي."
د بهرنیو چارو وزارت د تګلارو د پلان رییس ریچارډ هاس هم وویل:
"موږ هېڅ تصور نه درلود چې د طالبانو تر نسکورېدو وروسته به څه وکړو."
کله چې د سي آی ای له لوري کېنول شوي حامد کرزي له طالبانو سره د سولې او پخلاینې ترون د لاسلیك ورانديز وکړ، د دفاع وزیر رامسفیلډ مخالفت وکړ. استدلال دا و چې امریکا سوله نه غواړي، بلکې د ترهګرۍ پر ضد جګړه غواړي.
جګړه نږدې ۲۰ کاله وغځېده او په پای کې د ۲۰۲۰ کال په دوحه کې د سولې ترون له طالبانو سره لاسلیك شو، طالبان بېرته واك ته ورستانه شول او د امریکایي ځواکونو ګډوډه وتنه د نړۍ د سترګو وړاندې هغه صحنې تکرار

کـړې چـې یـو وخـت د وېتنـام پلازمېنـې سـایګـون څخـه د وتلـو پـر مهـال لیـدل شـوې وې.

ناکام استخبارات:

لـه وتلـو وروسـته، د امریـکـا پخوانـي چاروا کـي پـه لـوړه کچـه د ناکامـۍ خبـرې وکـړې او د دې سـتر مسـؤلیت یـوه برخـه یـې پـر CIA واچولـه. د بـوش د دویمـې دورې (۲۰۰۵–۲۰۰۹) د ملـي امنیـت پخوانـي سلاکار سـټیفن هادلـي وویـل چـې د نـوي افغـان نظـام فسـاد د طالبانـو د غـړو د جـذب تـر ټولـو سـتره وسـیله وه. وینـر د دې فسـاد سرچینه داسې تشریح کوي:

"د فسـاد جوهـر هغـه طریقـه وه چـې CIA پـرې پـه افغانسـتان کـې خپلـې چـارې اداره کـړې. دوی د ډالـرو د سـلیزو نوټونـو پـه انبارونـو معاملـه کولـه. دوی د ډالـرو د بوجیـو پـه وېـش کـې ډېـر ماهـر وو، نـوې جیـپ موټـرې او د مصنوعـي سـپوږمکۍ پـه مرسـته لـه همکارانـو سـره تېـزه اړیکـه... خـو چـې کلـه خبـره واقعیـت او دې تـه رسـېده چې څه روان دي او راتلونکي کې څه غواړي، نو پایله یې صفر وه. "

رابـرټ ګېټـس چـې پـه ۱۹٦٦ کـې یـې د CIA د تحلیلګـر پـه توګـه پیـل وکـړ، بیـا پـه ۱۹۹۱–۱۹۹۳ مـوده کـې د ادارې مشـر شـو او لـه ۲۰۰٦ تـر ۲۰۱۱ د دفـاع وزیـر و، او د ادارې تر ټولو مسلکي مشر بلل کېږي، وایي:

"حقیقـت دا دی چـې د ۱۱ سـپتمبر پـه پېښـو کـې مـوږ د القاعـدې پـه اړه ډېـر معلومـات نـه درلـودل. همـدا لامـل و چـې ډېـرې داسـې کارونـه وشـول لکـه د تعذیـب پـه څېـر اسـتنطاقونه، ځکـه مـوږ هېـڅ نـه پوهېـدو. کـه مـوږ یـو پـوخ ډېټابېـس درلودلـی او پـه بشـپړ ډول مـو پېژندلـی چـې القاعـده څـه ده، ورتیـاوې یـې څـه دي او داسـې نـور، نـو ښـایي ډېـرې اقدامـات اړیـن نـه وې، خـو حقیقـت دا دی چـې مـوږ داسـې ډلـې لـه لـوري وځپل شو چې هېڅ معلومات مو پرې نه لرل. "

د هادلـي او ګېټـس ارزونـې څرګنـدوي چـې CIA پـه خپلـه اصلـي دنـده کـې ناکامـه شـوه: د دښـمن پېژنـدل. د پخوانـي مشـر هېلمـز پـه اصـطلاح، دا ناکامـي داسې وه لکه CIA چې د بل پرل هاربر د مخنیوي توان له لاسه ورکړی وي.

د اسـتخباراتو د کار جوهـر یـوازې د اشـخاصو د تعقیـب او یـا د دښـمنو سـازمانونو پـه ټوټـه کولـو پـورې محـدود نـه دی، بلکـې اصلـي موخـه یـې پرېکـړه کوونکـو تـه د داسـې معلوماتـو او شـننو پـه برابرولـو کـې ده چـې د ټولـې صحنـې یـو بشـپړ انځـور وړانـدې کـړي، د ګواښـونو دقیقـه ارزونـه وکـړي او د موجـودو فرصتونـو پـه اړه معلومـات ورکـړي. دې تـه سـتراتېژیک اسـتخبارات وایـي، چـې پـر همدغـو بنسـټونو سـترې پرېکـړې کېـږي او اوږد مهالـه تـګلارې جوړېږي. ځانګـړي عملیات لکـه تـرور، لـه منځـه وړل او نیـول، د تکتیکـي اسـتخباراتو برخـه ده. دا کـه څـه هـم

کله کله ښکاره برياوې راوړي، خو د جګړو د کټلو لپاره کافي نه وي.

امريکايي استخباراتو زرګونه تکتيکي عمليات ترسره کړل، د طالبانو دويم مشر ملا اختر منصور يې شهيد کړ، د طالبانو زرګونه غړي يې ونيول او د القاعدې افراد يې يو په بل پسې تعقيب کړل. خو دې ټوټې ټوټې برياوو د سترې ماتې مخه ونه نيوله، څلور کاله وړاندې په افغانستان کې ټول هغه څه د ۲۰۲۱ د اګست په څو ورځو کې ونړېدل چې په شلو کلونو کې جوړ شوي وو.
امريکا په دې شلو کلونو کې په افغانستان کې سلګونه ميليارده ډالر ولګول، خو استخباراتو يې د داسې پوهې د توليد توان ونه درلود چې د افغان ټولنې پېچلې جوړښت وپېژني يا د جګړې راتلونکې له وړاندې وښيي. په افغانستان کې ناکامي د استخباراتو په اوږده لړۍ کې يو بل ستراتيژيک فصل زياتوي او ژورې پوښتنې راپورته کوي: ايا يو ستر زبرځواک خپله سخته ځواکمني په ۲۱مې پېړۍ کې په ميداني برياوو بدلولی شي که نه؟

# شپږم فصل
# تراني

# دا اسلامي برم ساتل غواړي زلمو

عبد المجید جواد

دا اسلامي بـــرم ساتـــل غـــواړي زلمـــو
تېر عزمت بیا احیاء کول غواړي زلمـو
د قـــربانـــۍ او د ایـــثـار پـــه جـذبه بیـــا
په سپین سپېڅلي مسیر تلل غواړي زلمو

ځـۍ د سلــف صالحینـــو پـه پلـه ځــۍ
د خلفـــاء راشـدینـــو پـه پلـــه ځـۍ
لکه حمزه، لکه زبیر، خالد، عثمان
ځان کړۍ عیار لکه فاتح الپ ارسلان
رعب د قعقـاع او د عمر دی پکـار سـم
وار په طاغوت د تېز خنجر دی پکار سم
د هـر مظلـوم غـږ اوریـدل غــواړي زلمـو
اقصـی یهـودو نـه کـتـل غــواړي زلمــو

د الحمــرا او قــرطبـې هر دنـــګ منــار
تـا رابلـي د غــرنـاطې هــر دنـګ منـار
د قطیبـه د لارې پـل چــې نشــي رنـګ
د فتـوحـاتـو دا مــزل چــې نشــي رنـګ
صبـر او زغـم کــوه همېش استقــامـت
په اخـوت او پـه وحـدت کـې مو قـوت
أمت لـه خـوب بیـدارول غــواړي زلـمـو
ټول په یو صـف را ټـولـول غـواړي زلــمـو

مونـږه لـرو شـکـر عمـر، منصور، جلال
ځــلانده زمـونــږ تاریخ جواده د کــمال
د ابــدالــي او غــزنـوي شهــاب غـوري
د مېرویس خـان زرین تـاریخ هم د سوري
دښتې په لتـه کـې دي د عمـر مختـار
بحـر مـو غـواړي هــم بـریـروسا ســالار
پـه لـر او بـر یـې ریـول غـواړي زلـمـو
سپینـــه جنـــده مـــو خپـرول غـــواړي

# له سر درو د قرطبې مسلمه !

قاري عبد الستار سعيد

له سر درو د قرطبې مسلمه
بيا تر کاشغر او فرغانې مسلمه
ځوږ د تکبير او د اذان دې څه شو؟
ها پرونی زرين دوران دې څه شو؟

هغه صديق صديق ياران يادوم
هغه خالد خالد غازيان يادوم
چې د تيارو څټه يې وويستله
هغه د لمر په لار روان يادوم
چې فارس او روم يې په څپو کې يوړل
دېر تورتمونه يې سپېدو کې يوړل
هغه بهير هغه کاروان دې څه شو؟
ها پرونی زرين دوران دې څه شو؟

په تاريخي اندلسه تاته وايم
د نيل وادي او افريقا ته وايم
در څخه بل عمر مختار غواړمه
د طرابلس د زړه درزا ته وايم
در نه طارق در نه موسی غواړمه
ابن تاشفين در څخه بيا غواړمه
ها اموي عبد الرحمن دې څه شو؟
ها پرونی زرين دوران دې څه شو؟

نن د عربو جذيره ويده ده
عثماني ترك قسطنطنيه ويده ده
د صليب توغ را نه القدس کواښوي
خو د هلال مې زمزمه ويده ده
چې شي را پورته د اقصی په ننګه
د لا اله الا الله په ننګه
ها ايوبي مرد ميدان دې څه شو؟
ها پرونی زرين دوران دې څه شو؟

لـــر او بـــر تـــول عـــرب عجـــم لټـــوم
کـــوم محـــمـــد ابـــن قـــاســـم لټـــوم
چې د چنګېـــز غـــاښونه يې وبرېښـــول
هـــغـــه جـــلال شيـــر خـــوارزم لټـــوم
د ستـــر امـــام مزار پـــردو لاندې کـــړ
بغـــداد د عصـــر هلاکـــو لاندې کـــړ
ها عباسي تخت او سلطـــان دې څـــه شو؟
هـــا پـــرونـــی زريـــن دوران دې څـــه شـــو؟

مونـــږه شيشـــان مونږ ارمانيا هېـــره کړه
مونـــږه ترمـــذ مونـــږ بخـــارا هېـــره کړه
مـــاوراء النهـــر د پـــرون کيســـه شـــوه
مونږ د اسلافـــو آرامګـــاه هېـــره کړه
هـــا د قـــران پـــه رڼـــا وللـــی وطـــن
د قـــطـــيبـــه تـــورې کـــټـــلـــی وطـــن
هغه قفقـــاز او ترکستـــان دې څه شو؟
هـــا پرونـــی زريـــن دوران دې څـــه شو؟

سعيـــده څـــه شـــو هغـــه ستـــا تاتوبی
هغـــه د مينـــې او وفـــا تـــاتـــوبـــی
چې هند او فارس يې تر نګـــين لاندې وو
هـــا د محمـــود او احمـــد شـــاه تـــاتـــوبـــی
هـــا د مېـــرويس او د عمـــر ســـر زميـــن
ها ګام په ګام سنګر سنګر سر زمين
هغه مرد خيـــز افغانستـــان دې څـــه شو؟
هـــا پـــرونی زريـــن دوران دې څـــه شو؟

د اسلامي أمت شرف او عزت د علماوو د
قلم په رنګ او د شهيدانو د وينو په رنګ
پورې تړلی دی.

شهيد عبد الله عزام رحمه الله

ALMERSAAD

Almirsad_Pashto almirsadpashto almirsaad.com